بسم الله الرحمن الرحيم

- لاتحزن (مه خفه کېږه)
- لیکوال : دکتورعائض عبدالله القرني
- ژباړه اوکمپوز: احمدشاه حقوقي
- نظر ثاني :الشيخ الواعظ ،المفتي / استاد سید شاه جهان
- چاپخونه : حبیب ناصري مطبعه
- یادونه: له ګرانولوستونکوڅخه هیله کیږي، چې خپل علمي نظرونه د لاندې بریښنا لیک له لارې راولیږي.
- huqooqee@Gmail.com فیسبوک نوم: احمدشاه حقوقي

# لا تـــــحــــزن

# مــه خفــه کېـږه

ليکوال: دکتورعائض عبدالله القرنـي

ژبـــــاړن: احمدشاه حقوقي

**لا تــــــحـــــزن (مـه خـــفـــه کېـږه)**
**لیــکــوال: دکتورعائض عبدالله القرني**
**ژبــــاړن: احمدشاه حقوقي**

**د دې ژباړې حقوق د ژباړونکي سره خوندي دي .په هرډول مختلفو لارو د دې ژباړې خپرول د ژباړونکي له اجازې پرته اجازه نه لري.**
**په انځوریز یا په هربل ډول نړیوال برېښنایي جال ته د دې ژباړې وربارول قانوني بنه نه لري، مهرباني وکړئ یواځې دژباړونکي له خوا قانوني برېښنایي نسخې ترلاسه کړئ، له ملتیا مومننه کوو .**

## د سرخبـــرې

له اميرالمؤمنين عمربن الخطاب (رضي الله عنه) څخه روايت دی، چې پېغمبر(ﷺ) ويلي دي (( انما الأعمال بالنيات وانما لكل امرءٍ ما نوىٰ )) بېشکه د ټولوکړنو يا کارونوبنسټ نيت دی اود هرڅا د کړنې ثمره د هغه په نيت پورې تړلې ده .

نو د پورتني حديث پر بنسټ بايد ووايو، چې ليکوال دا کتاب په ډېر تود او دردمن زړه، سپېڅلي وجدان، خوږه ژبه، ژور فکر اولوړطبيبانه انداز سره داسې ليکلی او د هرلوستونکي پر زړه يې دومره اغېز کړی، چې تر دې دمه يې څه له پاسه دوه ميليونه نسخې چاپ او د بشريت روحي او رواني درملنې ته وړاندې شوي دي . د ليکوال او د هغه د ليکنوپه اړه ډېرې پېژندګلوی ته ځانګړې اړتيا نه ليدل کيږي ځکه چې په نني عصر- وخت - کې د اسلامي اُمت او دينپوهانو يوه داسې وتلې نړېواله څېره ده، چې له نامه سره يې عرب اوعجم، ختيځ او لوېديځ ټول اشنا دي، دغه ښاغلی، استاد، حافظ، واعظ، شاعر او روحاني عالم " عائض بن عبدالله القرني" نوميږي،چې د سعودي عربستان د سترو علماوو په قطار کې يې نوم ليکل شوی دی . د ليکوال همدومره لنډه پېژندنه کافي ده،ځکه چې په دې اړه دبشپړو معلوماتو تر لاسه کولو له پاره په سترو- سترو کتابتونونوکې د ليکوال آثاراوليکنې په خپله لوستونکو ته ليکوال ورپېژني . مخکې له دې چې د دې کتاب د ژباړې پر بنسټيز لامل ګرانو لوستونکو ته څو کرښې وليکم، د دې خبرې يادونه هم اړينه ده، چې د دې اثر ژباړل د څو مخورو دوستانو غوښتنه هم وه. خو ولې د ډېرو نورو علمي کتابونو په شتون کې د دې کتاب ژباړې ته اړتيا وليدل شوه ؟ ځکه چې افغانستان له تېرو درېوو لسيزو راهيسې د بېلابېلو بدلونونو يو نندارتون ګرځېدلی او په کې مېشت وګړي - افغانان - د دغو بدلونونو روحي او ځاني قربانيان دي، نو اړينه وه چې دغه ډول وګړو ته لږ ترلږه له تسلی او زېرو څخه ډک يو کتاب ډالی شي، چې د زخمي او کړېدلو زړونو درملنه پرې وکړي . په دې اړه پيغمبر (ﷺ) وايي : (( والكلمة الطيبة صدقة )) : ښه خبره هم خيرات دی. يوه ورځ راته يو دوست مې چې په ختيځ عرب دی وويل ،چې له ماسره د قرآنکريم اوپښتوژبې په زده کړه کې څه مرسته وکړه، ما ورسره ومنله. د ښوونې په همدې موده کې مې د ښوونې په کوټه کې د بالښت پر سر يو کتاب وليد، چې درباندې ليکل شوي وو " DON,T BE SAD لا تَـــحْـــزَنْ ". په دې وپوهېدم، چې کتاب خو انګليسي ژبې ته ژباړل شوی دی، نو په بيره مې راواخيست، د کتاب پر لومړي مخ مې چې

سترګې ولګېدې، نوله تسله ډک و، په زړه کې مې ووېل، چې که د الله (ﷻ) خوښه وي، پښتو ژباړه به يې هم چاپ شي . دا يادونه هم ضروري ده چې دا کتاب له دغې نوې ژباړې څخه وړاندې ژباړل شوی و، خو د تخنيکي ستونزو له امله وځنډېده ، بيا له عربي متن څخه کرښه پر کرښه او ټکی پر ټکی وژباړل شو او د نورو ټولو قواعدو او اساساتو برخې په کې خوندي پاتې شوې . د ژباړې د ليکدود، ژبدود او نورو اړخونوپه اړه ځينې خبرې ضروري وې، له تاسو سره يې هم شريکوو،ښايي د لوستلو پرمهال به ورڅخه لا ډېرخوند واخلئ.

الف : د ژباړې په برخه کې هڅه شوې، چې ساده، روانه او د افغانستان په ولسي ژبه وي، هدف ترې د پوهاوي د اسانې لارې موندل دي او الحمد لله چې د زړه ډاډ پرې ترلاسه کېږي .

ب : هغه ټکي اوکلمات چې د پښتو ژبې له نورو ګاونډيو ژبوسره ګډ او يا ښېخي پردي دي ، لرې شوي او پرځای يې د پښتو ژبې خپل او ځانګړې کلمې کارول شوي دي .

ج: تفسيري ژباړه نه ده شوې، بلکې مفهوم او لنډيز ته لومړيتوب ورکړل شوی،چې د ليکوال له لفظونو سره د ژباړې لفظي يا مفهومي معنا لرېوالی پيدا نه کړي .

د: علمي لغتونه؛ لکه : موهبه، استعداد، منهج، مشاعر، صلاحيت، حيثيت، عواطف، احساسات، اعتدال، اختراع ، اثنـــاء، برم، او ځينې نور لغات د دې له پاره ساده او روان شوي،چې د لومړنيو او منځنيو زده کړو زده کوونکوته په کې فکري دروندوالی پيدا نه شي اوپه کورونو او نورو ځايونوکې له زده کړو څخه بې برخې کسانو ته يې په خپل رنګ او خوند ورواوروي اوله هغوی څخه هم روحي تنګوالی ، دروندوالی او انديښنې لرې شي .

هــ : ليکوال د قرآنکريم د ايتونو شمېرې او د سورتونو نومونه نه دی ياد کړي، خو د ناشر(خپروونکي) په غوښتنه ما ليکلي دي ، خوپه حديثونوپورې تړلې برخه کې يې په ډېرو ځايونوکې يادونه هم کړې او په يو نيم ځای کې، خو يې سرچينه او راوي هم په ګوته شوی،په دې برخه کې مې هم کټ مټ دليکوال پر ګام، ګام اخېستی دی.

په دې کتاب کې د عربي شعرونو پښتو معنا ليکل شوی، يواځې پر ژباړه يې بسنه شوې ده . درنولوستونکوته ډاډ ورکوو، چې کره ليکنه او څېړنه

د کتاب له عربي متن سره کرښه پرکرښه اوټکي پر ټکي ليکل شوې او څېړل شوې، چې د چاپ د ځنډ يو ستر لامل هم همدا کار و . الله (ﷻ) پردې ګواه او د زړونو مالک دی، چې له دغه کوچني ګام څخه يوائې اويوائې زما اصلي هدف ـ موخه ـ د خير ښېګڼې لور ته يو ه بلنه ده او بس . هيله من يم چې الله (ﷻ) به مې دغه کوچنی هڅه په خپل دربارکې قبوله کړي . زه دغه کوچنی ګام خپله ذاتي کړنه نه ، بلکې د الله توفيق او احسان ګڼم، چې له ماسره يې کړی او نيمګړتياوې د خپل نفس د کمزورۍ لامل شمېرم . په دې کتاب کې د ﴿ ﴾ نښو په منځ کې د قرآني آيتونوژباړه ليکل شوې ده. د حديث ژباړه د دغه ډول (( )) قوسونوترمنځ ليکل شوې او د دغه " " ډول نښوترمنځ نومونه ليکل شوي دي . د ( ) ترمنځ د علماوو او کله ناکله د ليکوال نظرليکل شوی دی.

د ادبي ميني سره سره د دوبۍ د دارالافتاء والبحوث له محترم مفتي او واعظ ښاغلي استـــاد "سيد شاه جيهان" څخه د زړه له کومې مننه کوم چې په خپل علمي نظريې ژباړه سمه وبلله ، چې دغه دروند نظر ته يې د افغانستان د غرونو په کچه درنښت ډالۍ کوم ، په دوهم قدم کې ګران دوست او ملګري سراج الحق هلال ياسيني او حفيظ غزنوي ته د زړه له کومې دعاء کوم چې د دې کتاب د چاپ د لارو چاروپه برابرولو کې خورامخلصانه ګامونه اخيستي دي. د "الدّارالعالمية للكتاب الإسلامي" خپروندويه ټولنې څخه ـ چې د کتاب له مولف څخه په رسمي ډول بېلابېلو ژبو ته د ژباړې حقوق لري ـ ډېره مننه کوم چې د دې کتاب د ژباړې حق يې ماته راکړ او په دې ترتيب دا کتاب په پښتو ژبه په رسمي ډول د ليکوال په اجازه وژباړل شو. د يادونې وړ ده چې دا کتاب د لومړي چاپ څخه ژباړل شوی دی، تراوسه شپږويشت ځله چاپ شوی دی.

په پای کې الله (ﷻ) ته اړ او فقيربنده "احمدشاه حقوقي" له ټولو لوستونکو او اورېدونکوڅخه د دعاء هيله کوي، په ژباړه کې هره نيمګړتيا خپله کمزوري او بريا د الله ورکړه او توفيق ګڼي .

﴿ سبحانک لا علم لنا إلا ما علمتنا إنک أنت العليم الحكيم ﴾

احمد شاه حقوقي

## دا کـــتـــاب

هغه پربکنده، اغېزناک او له مسؤلیته ډک لوست دی، چې د انساني ژوندانه د ناوړه اړخ، لکه ذهني نا قراري، تشویش، پر ځان بې باوري، حیرانتیا، نااميدي، زړه تنګي، بدپالي، غم، خفګان، د مزاج خړوالی، ناکامي او د داسې نورو ناخوالو د درملنې له پاره ترسره کيږي. دا کتاب الهی وحې، نبوي لاربنوونې، جوړطبیعیت، کامیابې تجربې، ژوندي مثالونه، زړه راښکونکي قېصې او د ادب په واسطه د اوسنی زمانې ستونزې رانغاړي او د حل لار يې په ګوته کوي. پر دې سربېره په دې کتاب کې دسپېڅلو اصحابو او تابعینو قیصې، د نومیالیو شاعرانو د شعري ټولګو غوره بېلګې ، د ځینوسترو علماوو لاربنوونې او د غښتلو حکیمانو، طبیبانو او پوهانو نصیحتونه هم ځای شوي دي. د کتاب په منځپانګه کې به د پخوانیو او اوسنیو، د لوېديځ او ختيځ د پوهانونظريې او ورسره به يولړ داسې نچوړونه، چې له اسلام (حق) سره اړخ لګوي هم ولولئ، چې بېلا بېلو رسنیو، ډلـــو، ورځپاڼو، مجلو، میاشتنیو خپرونواو نورو خپاره کړي دي. په پای کې دا کتاب د څوبېلابېلوموضوع ګانو ترکیب - یووالی-، د څو رنګارنګوکره هڅونتیجه - پایله- ده، چې تاته د حال په ژبه په څو ټکوکې وایي : نېکمرغه، ډاډمن، خوشـحاله اوهیـله مـن اوسـه اوله هـرډول خـفګان څـخه ځـان وژغوره!

**عائـض بـن عبــد الله القــرني**

## د لومړي چاپ سريزه

**الـحـمـدلله والـصلاة والسلام علَى رسول اللهِ وعَلى آله وصحبه، وبـعـد : دغه کتاب " مه خفه کېږه " چې ته لولې، هيله ده په لوستو يې نېکمرغي اوګټه درپه برخه شي، مخکې له دې چې په اړه يې څه ووايې، پکار ده د روغ منطق او عقل په تله يې وتلې، بلکې له دې هم پورته له شريعت سره يې پرتله کړې، ځکه چې دابه ځرګند تېرى وي، يو څوك مخکې له دې، چې يو شى وګوري، و يې ځـکي او يايې بوى کړي د ښه او بد په اړه يې پرېکړه وکړي . همداراز د پوهې په ډګر کې به داهم تېرى وي ، يوڅوك مخکې له دې، چې ځان پر يوه خبره پوه کړي، دعوه واوري ، يا يې دليل ولولي په اړه يې پرېکړه وکړي .**

**دا کتاب ما د هغه چا له پاره ليکلى، چې د ژوند په ډګر کې له رنګارنګ بدمرغيو؛ لکه غم ، پرېشاني، ذهني ستوماني، خفګان، ستونزو، بې خوبۍ او له داسې نوروسره مخامخ وي او په موږ کې به کوم يو دغه ستونزې نه لري!؟ په دې کتاب کې ډېر قرآني ايتونه، نبوي احاديث، پندونه ، خاطرې، ګټورې ويناوې او کيسې شته، چې د ځورېدلو او کړېدلو زړونو، د خفه او پرېشانه نفسونو درملنه په کې په ښه ډول ترسره کېداى شي .**

**دا کتاب تاته وايي، چې خوشحاله، نېکمرغه، هيله من او بې وېرې اوسه، يا په بل عبارت : په خپله اصلي ښـه کې ژوند وکړه، يعنې پاکيزه، خوښ اوښايسته ژوند . دا کتاب ستا هغه تېروتنې هم اصلاح کول غواړي، چې ته يې له ژوند، خلکو، شيانو، وخت او مکان ـ ځاى ـ سره په خپلو کړنو کې له الهي جوړښت څخه په مخالف ډول ترسره کوې .**

**دا کتاب په قاطع ـ غوځ ـ ډول تا په خپل ژوند کې له الٰهي فيصلوسره له ټکرکولو، په ژوندانه کې د الله تعالٰى له ټاکلي قانون اوتګلارې څخه له سرغړونې څخه منع کوي او له نژدې څخه تاته ستا د ځان او روح له ځنډوڅخه غږ کوي، چې دخپل ښه برخليك په اړه ډاډمن شې، په درکړل شوې وړتيا باوري اوسه، خپلو ذهني شتمنيو ته وده ورکړې او د ژوندانه په ډګر کې ترخه يادونه، ستونزې او اندېښنې هېرې کړې .**

**د کتاب په پيل کې غواړم ستا پام څو مهمو مسئلو ته راوګرځوم:**

لومړی : د کتاب اساسي هدف د نېکمرغه او هوسا ژوند لاسته راوړل او د ښې راتلونکې لارې روښانول دي . دا کتاب ستا د نېکو هيلو دروازې پرانيزي، د مشکلاتو دحل لار درپه ګوته کوي او په همدغه وخت کې درته د الله تعالی د بخښنـــې، لورېينې، وربانديې د پوره باور لرلو، ښه ګومان او پرېکړو ته يې د غاړې اېښودوسپارښتنه کوي .

دا هم درته څرګندوی، چې بايد د نن ورځې په چوکاټ کې خپل ژوند عيار- برابر- کړې اود راتلونکي وخت په اړه له انديښنو او ډار څخه ځان وژغورې .

دوهـــم: دا کتاب د يوې داسې هڅې نوم دی، چې په ژوندکې د مختلفو- بېلابېلو- ناخوالو؛ لکه : غم، پرېشاني، خفګان، ذهني درونوالی، نفسي ناقراري، بې باوري، نا اميدي او د داسې نورو د له منځه وړلو له پاره کارول شوې ده .

درېيم : په کتاب کې له موضوع سره تړلي قرآني ايتونه، نبوي احاديث ، حکيمانه پنـدونه، متلونه، عبرتناکې قېصې، غوره شعرونه، د پوهانو، اديبانو او طبيبانو ويناوې، ژوندۍ تجربې او روښانه دليلونه ځای پر ځای شوي دي . دا کتاب تش وعظ او کومه فکري ياسياسي تګلاره نه، بلکې يوازې او يوازې ستا د نېکمرغۍ له پاره يوه پرېکنده او کلکه بلنه ده .

څلورم : دا کتاب د مسلمانانو او غيرمسلمانانو ټولو له پاره دی، د ټولو وګړو او پرګنو ولولو ته په کې پام شوی، ځکه چې همدا د الٰهي سمې تګلارې غوښتنه ده او اسلام له طبيعت سره جوړ دين دی .

پنځـــم : په کتاب کې مې دختيځ او لوېديځ د ډېروپوهانو ويناوې هم رانقل کړي، په دې کار دې ما څوک نه ګرموي ، ځکه چې حکمت د مؤمن ورکه شوې سودا ده، هرچېرې يې چې ومومي د نورو پرتله يې مؤمن ډېر وړ دی .

شپـږم : د لوستونکو د اسانتيا له پاره مې کتاب ته حاشيه په دې موخه نه ده ورکړې، چې لوستل يې روان او فکر يې له کتاب سره نښتی وي او د ماخذ - سرچېنې - يادونه مې له نقل سره يو ځای کړې ده .

اووم : زه هم د پخوانيو علماوو په څېر د سرچېنې، ټوك او پاڼې د شمېرې يادونه نه کوم ، زما په اند دا يوګټور او اسانه کار دی، ځکه کله چې زه

له یوه کتاب یا مقالې څخه ځېنې خبرې، ټکي په ټکي رانقلوم، کله یې لنډیزاوکله یې هم نچوړ رانقلوم .

اتم : کتاب مې په بابونو- دروازو- اوفصلونو- څپرکو نه دی وېشلی، بلکې څو ډولیزه چلند کوم، کله داسې وشي چې د یوې موضوع څو کرښې په بلې کې ګډې کړم، کله له یوې موضوع څخه بلې ته اوړم او بیا څو پاڼې وروسته بېرته لومړۍ موضوع ته راګرځم ، دا هر څه د دې له پاره کوم، چې لوستونکي ترې ګټه او خوند واخلي .

نهم : د ایتونو شمېرې او د احادیثو د سرچېنویادونه مې نه ده کړې، خوکه په کوم حدیث کې ضعف - کمزوري - وي یادونه یې کوم او که حدیث صحیح یا حســن وي، نو کله یې یادونه کوم اوکله هم نه . دا هر څه مې د لنډیز، د تکرار د مخنیوي او له ستومانۍ څخه د لوستونکي د ژغورنې په خاطر کړي .

لسم : ښایي لوستونکي ځینې موضوعات په بېلابېلوعباراتو کې تکراري ولـولي، دا کـار مـې پـه قصـدي توګـه کـړ ی، هـدف مـې ورڅخـه دادی، چـې د لوستونکو ذهنونوته دغه فکر په بېلا بېلوشکلونو ورننباسم اوڅوك چې قرآنکریم په غورسره لولي دغه ډول بهیر به په کې زیات ومومي .

پـورتنۍ لـس یـادونې مـې هغـه چاتـه وړانـدې کـړې، چـې د دې کتـاب د لوستلو هوډ لري، هیله ده د کتاب په منځپانګه کې بـه رېښتینې وینـاوې، عادلانـه پرېکړې، یقینـي پوهـه، سمې نظریې او روښـانه لار ځـای شوې وي . زه پـه دې کتـاب کې ټولـو تـه مخاطب یم، لـه ټولو سره خبره شریکوم،کومه ځـانګړې ډلـه، ځانګړی وخت، ځانګړې پرګنه او یا هم کوم ځانګړی هېواد مې په نظر کې نـه دی نیولی، بلکې دا اثر د هر هغه چا له پاره دی، چې غواړي نېکمرغه او خوښ ژونـد تېر کړي .

لکه یو شاعر وایـي : ما په دې کې مرغلرې شیندلي دي، خو په داسې ډول چې له لمر او سپوږمۍ پرته ځلیږي ، په سترګو کې بې جادو دی او لـه ښکلا څخه یې تندی د هندي تورې په څېرځلیږي .

عائض بن عبدالله القرني

## يـــــا الله !

﴿ په اسمانونو اوځمکه کې چې څه شته يواځې له الله (ﷻ) څخه غوښتنه کوي ، الله هره ورځ په بېل بېل کارکې دی ﴾. الرّحمن ۵۵- ۲۹

کله چې سمندرطوفاني شي او څپې ښکته او پورته شي، نو په بېړۍ کې سپاره کسان ټول بېواکه غږ کوي چې : يـا الله !

کله چې کاروان له خپلې لارې څخه بېلارې شي، څاروان لاره ورکه کړي، د قافلې ـ کاروان ـ خلک حيران ـ هک پک ـ شي، نو ټول غږ کوي، چې، يــاالله !

کله چې يوچاته غميزه پېښه شي، نو هماغه غمځپلی انسان غږ کوي، چې يـــا الله !

کله چې د اړمنو انسانانو په مخ د غوښتنې ټولې انساني دروازې وتړل شي، د غوښتونکو مخې ته پردې راوځړېږي، نو په دغه حالت کې همدغه انسان غږ کوي، چې، يـا الله !

کله چې انسان ته ستونـزه پېښه شي، د حل لار ورڅخه ورکه او نا هيلی شي، نو بيا همدا غږ کوي، چې، يـــا الله !

کله چې پر تاباندې هم د الله پراخه ځمکه راتنګه شي، زړه دې پرېشانه اوخفه شي، نـــو غږ وکړه چـــې، يـــا الله !

يو عرب شاعر وايي :

ته مې په داسې وخت کې يادکړې، چې ستونزو راته تندی ګونـځې کړی او تور نيولی و. غمونه راباندې د تورو شپو په څېر انبار وو، د وخت د اميدونومخ ګردجن او تور و، خو کله مې چې ستا په نوم د پېشنمې پرمهال غږ اوچېغې کړې، ناڅاپه مې له مخ څخه د کړاوونو پرده داسې پورته شوه، لکه د سهار په راتلوچې د شپې تيارې تښتي. يوازې او يوازې همدغه رب (ﷻ) ته د دردمن زړه کرېکې، رېښتينې دعا، پاکې اوښکې اوسپېڅلي کلمات ورخېژي، يوازې همدغه الله ته د ستونزو او غميزو پرمهال د عاجزۍ لاسونه اوږدېږي او سترګې وراوړي. د الله تعالی په نوم ژبې ګويا، د مرستې اومدد له پاره ورته غږ

کوي، په ذکر- یادولو- یې زړونه ډاډ من، روح یې ارام، شعور او دماغ یې هوسا او پوهه او یقین پرې قوي کېږي ﴿الله پرخپلوبندګانوډېرزیات مهربان دی﴾ الشوری ۱۹:۴۲

الله ځومره ښکلی نوم دی، له ځومره ښکلوټکو، رېښتینوعبارتونو او ارزښتناکوکلموڅخه جوړدی!! الله داسې نوم دی، چې له یادولو سره سم یې د بې احتیاجۍ، بقاء، زور، مرستې، درنښت، قدرت او د حکمت په څېر صفاتوسره یو ستایلی ذات مخې ته راځــي .

﴿ نن - د قیامت د ورځې ټولواکي دچا ده ﴾ الغافر۴۰-۱۶

الله (ﷻ) به په خپله ووایي، چې نن د یوه او زورور الله پادشاهي ده.

د الله په ویلو سمدستي د مهربانۍ، پاملرنې، مرستې، احسان او د محبت په صفاتو ستایل شوی ذات مخې ته راځي . الهي وینا ده : ﴿ کومه لورېینه چې پر تاسو شوې، هغه د الله له خوا څخه ده ﴾ النّحل۱۶:۵۳

الله یعنې د لویوالي، هیبت او طاقت څښتن ذات دی . شــاعـــر وایـــي : که موږ ستا د لویۍ په ستایلو کې هر ځومره سپېڅلي کلمات ولیکو، نو ته ترهغو هم ډېر لوی او پورته یې، او دغه کلمات، چې موږ یې ستا د ستاینې له پاره وایو، ستا د جلال او لویوالي په مقابل کې هېڅ هم نه دي .

نو، ای الله ! موږ ته د بې صبرۍ او پرېشانۍ پر ځای تسلي او صبر، د خفګان پر ځای خوښي او د وېرې پر ځای ډاډ راپه برخه کړې .

ای الله ! د زړه اور مو د یقین په واوره سوړ او د ایمان په یخو اوبو مو د زړونو سکروټې مړې کړه .

ای ربه ! بې خوبه او نا ارامه سترګو ته مو ډاډمن خوب نصیب کړه، نا قراره نفسونه مو قرار او بېړنی بریالیتوب یې په برخه کړه .

ای ربه ! حیرانو او پرېشانه سترګو ته موستا روښنایي په برخه کړې، بېلارو کسانو ته ستا د دین سمه او نېغه لار وښایه .

ای الله! په رېښتوني اوځلانده سباوون زموږ پرېشانۍ ختمې کړې، او د حق په برکت زموږ له زړونو څخه ناروا له منځه یوسه .

ای الله ! ستا د بېشمېره او نېښه لرونکو لښکرو- پرېښتو- په مرسته له موږ څخه د شيطاني چلونو او دسيسو جال ټول کړې .

ای الله ! له موږ څخه پرېشاني، خفګان او ناقراري له منځه يوسه .

ای ربه ! موږ له خوف - وېرې - څخه يوازې پر تا پناه غواړو، يوازې تاته درګرځو، يوازې پر تا باور لرو، يوازې اويوازې له تا څخه غوښتنه کوو، له تا څخه مرسته غواړو، ته زموږ کارجوړوونکی يی، ته ډېر ښه بادار او ډېر ښه مرستندوی يی، نو ځيرشه او د الله تعالی شکر پر ځای کړه .

***

## فکر وکړه او شکر وباسه !

په دې معنا چې ته لومړی د الله تعالی هغه نعمتونه، چې تاته يې درکړي، درياد او فکر پرې وکړه، نو پوه به شې چې له سرڅخه نيولې تر پښو پورې د الله پاک په نعمتونو کې پټ يې .

الٰهي وينا ده : ﴿ که تاسو د الله نعمتونه وشمېرئ، هېڅکله به يې پوره ونه شئ شمېرلای﴾. النّحل١٦:١٨

د بدن روغتيا، سوکالي، خوراك، څښاك، جامه، هوا، له تاسره ټوله دنيا ده، ته د پوره اوښه ژوند څښتن يې، خو ته نه پوهېږې :﴿ خپل ښکاره اوپټ نعمتونه يې پرتاسو تمام کړي دي﴾. لقمان ٣١ - ٢٠

ته د دوه سترګو، ژبې، دوه شونډو، دوه پښواو دوه لاسونوڅښتن يې. ﴿ نو ای انسانانو اوپيريانو! تاسو به د خپل رب پر کومه پېرزوينه باندې دروغ واياست﴾ الرّحمن ٥٥:١٦

ايا دا ساده خبره ده، چې ته په دواړو قدمونو ګرځې، په داسې حال کې چې ډېر داسې خلک شته، چې دواړه پښې يې پرې شوي دي .

ايا دا وړه خبره ده چې ته ارام اوښايسته خوب کوې، په داسې حال کې چې نور ډېر داسې اشخاص شته چې دردونو يې خوب تښتولی دی ؟

ایا دا وږه خبره ده چې ته په خوندورو خوړو او یخو اوبو خېټه ډکوې، حال دا چې ډېر داسې خلک شته چې د بېلا بېلوناروغیو او دردونو له امله له خوراك او څښاك څخه ایسارشوي، او ته د خپلو غوږونو په اړه فکر وکړه، چې ته کوڼ نه یې پیداشوی، د خپلوسترګو په اړه فکر وکړه، چې ړوند نه یې پیداشوی.

د خپل پوستکي په اړه فکر وکړه، چې الله تعالٰی په برګي او جزام ناروغیو نه یې اخته کړې، او د خپل عقل په اړه هم فکر وکړه، چې الله تعالٰی د لېونتوب په کړاو نه یې اخته کړی .

ایا ته یوازې د خپل لید- سترګو- په بدل کې د اُحد د غره په اندازه په سرو زرو خوښ یې؟ ایا ته په دې خوښ یې چې خپل د غوږونو نعمت دې د (شهلان) د غره په اندازه په سپینو زرو وپلورې؟

ایا ته خوښ یې، چې د "ظهرا" مانۍ د خپلې ژبې په قیمت واخلې او ته ګونګ شې؟

ایا ته به د یاقوتو او مرغلرو په مقابل کې خپل لاسونه خرڅ کړې؟ که فکر وکړې ته په ډېرو سترو او درنونعمتونو کې پټ یې، خو ته نه پوهېږې، د غم، خفګان، ذهني نا ارامۍ او له غوصې څخه په ډك حالت کې اوسې، حال دا چې له تاسره ګرمه ډوډۍ، یخې اوبه، ارام خوب او پوره روغتیا هم شته. ته د یو ورک شي په فکر کې یې، خو د موجوده شیانو شکر نه پر ځای کوې !

ته په مالي زیان خفه کېږې، حال دا چې له تاسره د نېکمرغۍ کونجیانې شته دي . دلۍ دلۍ ښېګڼې، وړتیاوې او نعمتونه لرې، ښه فکر پرې وکړه او بیا د الله تعالٰی شکر پر ځای کړه . ﴿ ایا تاسو په ځانونوکې ډېرې - دقدرت - نښې نه ګورئ ﴾. الذّاریات ۵۱:۲۱

په خپل ځان، اولادونو، کورنۍ، روزګار، روغتیا، ملګرو او شاوخوا کې دې چې څه دي په دغو ټولو کې ښه فکر وکړه !

﴿هغوی دالله نعمتونه ښه پېژني خوبیاهم ورڅخه انکارکوي﴾النّحل۱۶:۸۳

چې تېرشي، هغه هېرشي، د تېرو وختونو بیابیا یادول او په غمیزو یې خفګان کول، ښکاره لېونتوب، ناپوهي، د عزم - هوډ - وژنه او د روان ژوند

تباهي ده . د هوښيارانو په اند د پخواني وخت دوسيه د تل له پاره بنديږي، بيا نه راګرځي او د تـل لـه پاره د نسيان ـ هېروني ـ په زندان کې زنداني کېږي . په کلکو پرو داسې تړل کېږي، چې هېڅکله بيا نه راوځي او په داسې پټ ځای کې ايښودل کېږي، چې د تل له پاره بيا رڼا ونه ويني، ځکه چې هغه له منځه ولاړل . نه يې خفګان بيا راګرځولی شي او نه يې د طبيعت خرپړتيا او پرېشاني بيا راژوندی کولای شي . د تېر وخت د خپسکې او د له منځه تللو شيانو تر سيوري لاندې ژوند مه تېروه، ځان دې د ماضي ـ تېروخت ـ له دوهمې بلا څخه وژغوره . ايا ته غواړې له دې سره د ويالې اوبه بېرته خپلې سرچينې، لمر د راختو ځای، ماشوم د مور ګېډې، شيدې بېرته تيونو او اوښکې بېرته سترګو ته وګرځوې؟ پر تېر وخت خفګان، ورڅخه وېره، ځان ورته سپارل او د هغه په اورځان سوځول، دا خو يوه بدمرغي او له درد څخه ډک حالت دی، د تېر مهال دوسيه راړول د روان وخت ضايع کول- بې ځايه تېرول -، د هڅوختمول او د موجوده حالت له بيخه نړول دي. الله تعالی د پخوانيو قومونو او د هغوی د کړنـو يادونه کوي او وايي :

﴿ هغه يوه ډله وه، بېشکه هغه تېره شوې ده ﴾. البقره ۲:۱۳۳

کار پای ته ورسېد. د تېرې زمانې اوتاريخ پاڼه بيا راګرځول هېڅ ګټه نه لري. هغه کس چې په تېر وخت پسې ګرځي، بد يادونه يې تازه کوي داسې مثال لري لکه دا شخص چې وړه بيا وړه کوي او يا د لرګي بور بيا اره کوي . پخوانيوخلکو د هغه چا په اړه، چې په تېر وخت پسې ژاړي ويلي دي، چې مړي مه راژوندي کوئ! د حيواناتوله قيصو څخه يوه داده چې نوروحيواناتو، خره ته وويل، ولې ته په ځان پسې راښکل نه خوښوې ؟ خره وويل : ځکه چې زه دروغ بد ګڼم. زموږ بد بختي داده چې موږ د خپل روان ژوند له هوساکولو څخه بې وسه اوعاجز يوو، خو د تېر وخت پر کړاوونو موځان بوخت کړی دی . خپلې موجوده ښکلې او ښايسته ماڼۍ هېروو اوپه زړو کنډوالوپسې ژاړو،که ټول انسانان اوپېريان سره يوځای شي او وغواړي، چې تېر وخت بيا راوګرځوي، نو هېڅکله به يې ونه شي کړای، ځکه چې دايومحال ـ ناشونی ـ کاردی، نور خلك مخ په وړاندې درومي، شاته نه ګوري او نه ورته کومه پاملرنه کوي، ځکه چې بادونه مخ پر وړاندې لګيږي، اوبه مخې ته بهيږي، کاروان مخ پر وړاندې درومي، نو ته هم د ژوندانه له منل شوو طريقو سره مخالفت مه کوه، همدا نن ورځ ستا ورځ ده، سهار چې له خوبه رابيدار شې، نوماښام ته سترګې مه غړوه، داسې وګڼه چې يوازې همدا نن ستا ژوند دی, نه پرونۍ ورځ چې له خپل خير او شر

دواړو سره تېره شوه او نه سبا ورځ چې لا تراوسه رارسېدلې نه ده، همدا نن ورځ چې د لمر سوری او سهاریې تا ولیدل ستا ورځ ده او بس، ستا ژوند یوه ورځ دی، ته په خپل زړه او فکر کې دا راوله، چې د همدې ورځې له پاره ژوند کوې، په همدې ورځ پیدا شوی یې، په همدې ورځ به مرې، نو په دې صورت کې به ته د تېر وخت د بدوخاطرو، غمونو او کړاوونو، د راتلونکو ناڅرګندو اندېښنواو وېروونکو بلا ګانو په منځ کې خپل ژوند خړ پړ او خراب نه کړې، یوازې د ننۍ ورځې له پاره خپله پاملرنه، کوښښ، ستړیا او ذهني شتمني پر کار واچوه، د همدې ورځې له پاره باید ته له عاجزۍ ډکه ډک لمونځ وکړې، په فکر اوغور سره تلاوت وکړې، د دین زده کړه، د الله تعالی ذکر، سنګین او سم کارونه وکړې، له ښواخلاقوڅخه کار واخلې، د الله تعالی په وېش خوښې ښکاره اوخپلې ښې ته پاملرنه وکړې، د خپل بدن ساتنې ته پاملرنه وکړه، نورو ته خېر او ګټه ورسوه، د همدې ورځې له پاره چې ته په کې یې یومنظم کاري مهالوېش جوړ کړه، ساعتونه یې داسې ووېشه؛ لکه دقیقې یې چې کلونه او ثانیې یې میاشتې وي، د خېرکار په کې وکړه، له نورو سره په دغه ورځ کې ښېګڼه وکړه، د خپلوګناهونوبخښنه په کې وغواړه، خپل رب په کې یادکړه، آخرت ته د تګ له پاره توښه په کې برابره کړه ، دا ورځ په خوښۍ، نېکمرغۍ او ډاډ سره تېره کړه، په درکړل شوې روزۍ، مېرمن، اولاد، وظیفې ، کور،کار او قابلیت باندې خوښ اوسه . ﴿ واخله هغه څه ، چې ما درکړي او له شکرکوونکوڅخه اوسه﴾. الاعراف ۷ـ۱۴۴

ننۍ ورځ داسې تېره کړه، چې نه په کې خفګان، نه غصه، نه بـغض او نه کینه وي، د خپل زړه پر تخته دا عبارت ولیکه او د دفتر پر مېز یې هم وځړوه : همدا نــن ستا ورځ ده! که دې نن ګرمه او خوندوره ډوډۍ وخوړه، نو ایا د تېرې ورځې سړه ډوډۍ، یا د سبانۍ نا څرګندې ورځې ډوډۍ چې ته ورته سترګې په لار یې، تاته څـه زیان رسولای شي؟ یادا چې نن خوږې اوخوندورې اوبه وڅښې، نود پرونۍ ورځې په مالګینو اوتروو اوبو خفګان، یا دسبا په اټکلي ترخو اوګرمو اوبو ستافکرکول تاته څه ګټه رسولای شي !؟ که ته له خپل ځان سره د فولادي  هوډ په لرلو رېښتینی یې، نو ته به هرومرو خپل ځان دې قاعدې ته وسپارې چې وایي : زما ژوند به یوازې همدا نن وي او بس .

که داسې وي، نو په دې صورت کې به ته د دې ورځې هره شېبه د ځان په اصلاح، د سویې په ښه کولو او د کړو وړو په سمون کې غنیمت وګڼې او دا به وایې، چې یوازې د همدې ننۍ ورځې له پاره به خپلې خبرې سموم، بېځایه او بېهوده خبرې به نه کوم ، د چاغیبت به نه کوم، چاته به ستغې سپورې نه وایم ،

یوازې د همدې ننۍ ورځې له پاره به زه خپل کور او کتابتون په داسې شان سموم چې ګډوډي به په کې نه وي، بلکې هرڅه به برابر او په ښکلي جوړښت کې وي، یوازې د همدې نننۍ ورځې له پاره به اوسم، د خپل بدن په پاکوالي اوښه والي به غور کوم او د خپلو خبرو، تګ اوحرکاتو د سمولو به پوره خیال ساتم . یوازې د ننۍ ورځې ژوند به په نظر کې نیسم، نو له دې امله به زه د خپل رب په عبادت کې پوره کوښښ کوم، لمونځ به په ښه او کامل ډول اداء کوم ، نفل به ځان ته توښه ګرځوم، دپاک قرآن تلاوت به زیاتوم او نور ګټورکتابونه به هم لولم . زما ټول ژوند همدا نن دی، نو په خپل زړه کې به خیر کرم او د شر ونه به د کبر، غرور، ځانښودنی، کینې، بغض، دوکې، بدګمانۍ او له داسې نورو بدو څانګو سره یو ځای له بېخه وباسم. بس یوازې د ننۍ ورځې له پاره به ژوند کوم، له نورو سره به ښېګڼه کوم، خیربه وررسوم، دناروغ پوښتنه به کوم، د مسلمان له جنازې سره به ځم، لار ورکي ته به سمه لار وربښیم، وږي ته به خواړه ورکوم، په ستونزو او کړاوونو اخته کس سره به دستونزې په ختمولو کې مرسته کوم، د مظلوم ترڅنګ به ودریږم او د کمزوري شخص له پاره به بل ته سپارښتنه کوم . له دردمن  سره به غمرازي کوم، د عالِم قدر به کوم، پر کشر به شفقت او د مشر به درناوي کوم . یوازې د همدې نن ورځې ژوند ته به ادامه ورکوم، نو ای تېرشویه وخته! د خپل لمر په څېر دې ته هم ډوب شه، هېڅکله به زه پر تا ونه ژاړم او نه به دې یوه شېبه هم یاد کړم، ځکه چې تا موږ پرېښودو، اوله موږ څخه ولاړې، د تل له پاره به بیا زموږ خواته را ونه ګرځې. او ای راتلونکیه وخته! ته خو د غیبي نړۍ له کړیو څخه یې، زه به هېڅکله له خوبونو سره دارومدار ونه کړم، نه به خپل ځان په خیالي شیانو وپلورم اونه به د یوه ورک شي په زیږېدنه کې بیره وکړم، ځکه چې سبا ورځ خو هېڅ شی نه دی، تر اوسه لا پیدا شوې نه ده او نه لا یاده شوې ده .

ای انسانه همدا نن ورځ ستا ورځ ده!! دهغه چا له پاره چې خوږ، هوسا او ښکلی ژوند غواړي، د نېکمرغۍ په قاموس کې ورته له دې پرته بله غوره کلمه نشته .

***

## راتلونکی وخت پرېږده چې په خپله راشي

الٰهي وینا ده: ﴿ د الله حکم راروان دی، تاسو په کې تلوار مه کوئ، یعنې قیامت راتلونکی دی تاسو یې له خپل وخت څخه مخکې مه غواړئ﴾. النّحل ١:١٦

## مه خفه کېږه

له پېښنو څخه مخکې بیره مه کوه، ایا ته غواړې، چې په رحِم - زادان - کې ماشوم له ټاکلي مودې څخه مخکې دې دنیا ته راوباسي او مېوه له پخېدو نه مخکې وشکوې!؟ په رېښتیا چې سبا لا ورک دی، حقیقت، شتون، خوند او رنګ یې نشته، نو ولې پرې ځانونه بوختوو، له پېښنو یې وېرېږو او پاملرنه ورته کوو؟

موږ د غمیزو اټکل او انتظار کوو، حال دا چې موږ نه پوهېږو، چې ایا زموږ او د غمیزو په منځ کې خو به څه خنډ نه پیداکېږي او یا دا چې مخامخېږو به ورسره، ښایي له دغه راتلونکي وخت سره خوښي او نېکمرغي مله وي . خبره دا ده چې راتلونکی وخت لا په غیبي - ورکه - نړۍ کې اوسېږي، ځمکې ته لا نه دی رارسېدلی، په کار ده چې موږ پول ته تر رسېدو مخکې پر هغه باندې تېرنه شو، ځکه چې څوك پوهېږي ښایي پله ته تر رسېدو د مخه چېرته تم شو، یا زموږ تر رسېدو د مخه پول ړنګ - وران - شي او دا هم شوني ده، چې موږ له پله څخه په سلامتۍ تېر شو .

په ریښتیني ډول ذهن ته د مستقبل - راتلونکي - په اړه اوږده مسافه ورکول، د غیبي شیانوکتاب پرانیستل اوبیا د اټکلي پېښنو اوکړاوونو په اورځان داغل په شریعت کې یوناوړه کار دی، دا د هیلو اوږدوالی دی او په عقلي ډول هم یو ناوړه کار دی ، ځکه چې دا په حقیقت کې د یوه شي له سیوري سره غېږ نیول اوپهلواني ده . ډېر خلك داسې وي چې په راتلونکي کې له لوږې، بربنډتوب، ناروغیو، بې وسۍ اومصیبتونوڅخه په وېره اواندېښنه کې وي، حـــال دا چې دا ټول د شیطاني چلونویوه بــرخه ده . الله (ﷻ) وایي چې : ﴿شیطان تاسوته د فقر ژمنه او د بدیو په لوربلنه درکوي اوالله پاك له خپل لوري څخه د بخښنې اومهربانۍ ژمنه درسره کوي ﴾.البقره۲:۲۶۸

ډېر خلک له دې امله ژاړي، چې ښایي سبا ته به وږي، یوکال ورسته به ناروغان شي، او نړۍ به سل کاله وروسته له منځه ولاړه شي . هغه څوك چې عمر یې د بل په لاس کې دی، ورته نه ښایي په ورک شي پسې ځان ګرو کړي، هغه څوك چې په دې نه پوهېږي چې کله به مړکېږي، ورته نه دي روا ځان پر داسې شي بوخت کړي، چې ورک او لا پېښ شوی نه وي . سبا ورځ ترخپل راتګ پورې پرېږده، چې په خپله راشي، د خبرونو په اړه یې پوښتنه مه کوه، راتګ ته یې سترګې مه ګړوه، ځکه چې ته خوپه ننۍ ورځ کې بوخت یې، که ته هک پك کېږې، نو دا خلك د دې وړ دي، ځکه چې دسبا ورځې اټکلي غم نغد اخلي او د داسې ورځې په بدل کې یې په پور ورکوي، چې د هغې ورځې لمر لا تراوسه نه

دی راختلی او نه يې رڼا ليدلې ده ، نوله اوږدو اميدونو- هيلو- څخه ځان وژغوره.

***

## د ګناهګارله نيوکې سره به څرنګه مقابله کوې ؟

ډېرو بې عقلو او ناپوهوخلکو هغه ذات ته هم ناوړه خبرې کړي، چې د ټولو پيدا کوونکی او روزي ورکوونکی دی، هغه واحد او احـد- په خپل ذات او صفاتوکې يو دی، چې له همدغه - رب - پرته بل څوک د عبادت وړ نشته، بيا هم کنځل شوی دی، نو زه او ته چې دغلطيو او تېروتنو څښتنان يو، ولې به له داسې ستونزو سره نه مخ کېږو!؟ ژر دی چې ته به په خپل ژوند کې له يو داسې تريخ او بېځايه انتقادي بريد سره مخامخ شې، چې هېڅ نرمښت به په کې نه وي، ډېر ځله به ته له داسې قصدي- سنجول شوو- هڅو سره مخ کېږې، چې ستا د ځپلو، رټلو او سپکاوي په موخه به تر سره کيږي، دا هڅې به تر هغې پورې روانې وي، چې په تا کې د ورکړې، ابادولو اغېز، ځلېدا او روښنايئ وړتيا وي، هلته به دوی له تا څخه غلي شي، چې يا ته په ځمکه کې کومې څمڅې ته ننوځې او يا اسمان ته د ختو لار پيدا او له دوی نه وتښتې، خو ترهغې چې ته د دوی په منځ کې اوسېږې، نو په دې طمعه اوسه چې دوی به تا ته بدي رسوي ، ستا سترګې به ژړوي، له ګاتوبه دې اوښکې تويوي او ناقراره کېږې به .

بېشکه چې پر ځمکه ناست کس نه غورځېږي، خلك مړسپی په پښو نه وهي، دوی تا له دې امله بد ګڼي او درته په غصه دي، چې ته له دوی څخه په اصلاح، علم، ادب او مال کې لوړ يې، ته د دوی په نظر- اند - يوداسې ګناهګارېې، چې ستا توبه ترهغه مهاله نه قبليږي، تر هغې چې ذهني قابليتونه او پېرزوينې له لاسه ورکړې، د ستاينې او پوهې ټولې هغه ځانګړتياوې، چې ستا په برخه دي له ځانه و غورځوې، تر دې چې يو غبي، ناپوه، لوېدلی، په صفر کې ضرب او پست انسان درڅخه جوړشي، په يقين سره چې دوی ستاپه اړه همداسې غواړي .

نو د دوی د خبرو، نيوکو، سپکاويو، رنګ بديو او هڅو په وړاندې د دوی مخې ته د اُحــــــد دغر په څېر - په کلکه ودرېږه او د هغې غټې او وېرونکې ډبرې په څېر شه، چې د ږلۍ غټې غټې دانې پرې ماتيږي، خو هغه لا هماغسې پر خپل ځای ټينګه وي . که ته د دوی خبرو ته غوږ ونيسې او اهميت ورکړې،

نو تا په حقیقت کې د هغوی هغه مهم هدف او مرام تر سره کړ، چې ستا د ژوند د بدلون او د عمر خرابولو له پاره یې لري، نو ته له هغوی څخه مخ وګرځوه، ښه بخښنه وکړه، پاملرنه ورته مه کوه او خپل زړه دې د دوی په چلونو او دسیسو مه تنګوه، د دوی دغه ډول سپکه ګوتنیونه په حقیقت کې ستا د ښه حیثیت اومقام ژباړه ده، او ته به دخپل وزن په اندازه د بد کاري له انتقاد سره مخامخیږې . ته نه شې کولای د هغوی خولې بندې او ژبې یې وتړې، خو دا کولای شې، چې له هغوی څخه په لرېوالي، اهمیت نه ورکولو او دخبرو په شاته غورځولو د هغوی ګوتنیونې تر ځمکې لاندې خښې کړې . ﴿ورته وو‌ایه! په خپل قهرکې مړه شئ﴾آل عمران۳:۱۱۹

بلکې ته دا هم کولای شې، چې د خپلو نېکیو په زیاتولو، د ښو عادتونو په وده او د بدو خویونو په سمولو سره د هغوی خولې په شرشموبندې کړې . که دا غواړې، چې د ټولو خلکو په نظر کې منلی، محبوب او له بدو عیبونو څخه پاك انسان اوسې، نو تا په حقیقت کې د یوه ناشوني او نه کېدونکي شي غوښتنه او خورا لرې هیله کړې ده .

***

## له چا څخه هم د منڼې هیله مه کوه

الله تعالٰی بندګان د دې له پاره پیدا کړي، چې هغوی خپل رب یاد کړي، روزي یې ورته مقرره کړې، چې شکر یې اداکړي، خو ډېرو خلکو له الله تعالٰی پرته د بل چا عبادت وکړ او ډېرو نورو بیا له الله پرته له بل چا نه مننه وکړه، دا ځکه چې له پوهې سره سره انکار، سرغړونه، بې وفایي او پر نعمتونو ناشکري او نفسونه وربانده‌ې زورور شوي، که دوی ستا د ښېګڼو، نېکیو او همکاریو په مقابل کې د ناشکرۍ، هېرونې او شاته غورځولو لار ونیوله، نوخواشینی کیږه مه، بلکې له دې څخه هم د بد غبرګون انتظار کوه، ښایي هغوی درسره د دښمنۍ او کینې لار غوره کړي، دا ټول له دې امله چې تا ورسره ښېګڼه کړې ده .

بیا د دې نړۍ تاریخ وګوره، ته به یې په ډېرو برخو کې دا ولولې، چې یو پلار خپل زوی وروزي، خوراك څښاك او جامه ورکړي، علم او ادب ورزده کړي، شپه یې د دې له پاره رڼه تېره کړه، چې زوی یې خوب وکړي، د هغه د مړښت له پاره یې ځان وږی کړ، دهغه د راحت له پاره یې ځان ستړی کړ، خو کله چې د زوی بربېتې وټوکېدې او مټور شو، نو ناڅاپه د خپل پلار په وړاندې د

داړونګي سپي په څېر د پلار سپکولو، رټلو، سرغړولو، غصه کولو، چغو وهلو او دردولو ته يې لستوڼي بډ وهل، نو ارام دې شي هغه خلک، چې د نېکۍ پاڼې يې د چپه فکرونو اوټيټو ارادو لرونکو په وړاندې سوځېدلې وي، د هغه رب له اړخه چې خزانې يې نه تشېږي د ثواب په ګټلو دې خپل زړونه خوښ کړي .

دغه تود پيغام تا د ښوکارونو او ښېګڼو پرېښودو ته نه رابولي، بلکې له دې سره دې اشنا کوي، چې ته به د خپلو ښېګڼو په بدل کې د ناشکرۍ او انکار په څېر پايلو سره هم مخ کېږې، نو ته په هغه کار مه خواشينی کېږه، چې داخلك يې له تا سره کوي . ته د الله تعالی د رضا له پاره ښېګڼه کوه، ځکه چې ته په هرحالت کې بريالی يې، بيا نو الله ته د چا احسان هېرونه او ناشکري زيان نه رسوي، الله تعالی وستايه، ځکه چې ته ښېګڼه کوونکی اوهغه بل بدي کوونکی دی او پاسنی لاس - سخي - له لانديني لاس - بخيل - څخه ډېرغوره دی ﴿ بېشکه موږ تاسو ته د الله په خاطر ډوډۍ درکوو، اوله ستاسوڅخه بدله اومننه نه غواړو﴾. الانسان۷۶:۹

ځينې د پوهې او عقل خاوندان، چې کله د ټيټو او بېکاره خلکوله ناشکرۍ سره مخامخ شي، نو ډېر پرېشانه او غصه شي، لکه چې دوی د قرآنکريم دا ايت نه دی اورېدلی، چې د دغه ډول بېکاره خلکو د سرکشۍ او ناشکرۍ په اړه وايي: ﴿ نوبيا داسې بې پروا شي، لکه د ورپېښې شوې ستونزې په لرې کولو کې يې موږ له سره نه وو بللي ﴾. يونس۱۰:۱۲

ته په دې هم مه حيرانېږه، کله چې ته يوه بېعقله شخص ته يو قلم د تحفې په ډول ورکړې، بيا هغه په همدغه قلم ستا بدي وليکي، يا يوه وچ مغزي ته امسا د دې له پاره تحفه ورکړې، چې هغه پرې تکيه وکړي، يا پرې خپله رمه وڅروي، خو په بدل کې تا پر سر ووهي، دا د ناشکره او احسان هېروونکي بشر يو منل شوی حقيقت او خصلت دی، چې له خپل پيداکوونکي رب سره يې د پوهې په شتون کې د ناپوهۍ کفن اغوستی، نو له ما او تا سره به يې څه حال وي .

***

## له نوروسره ښېګڼه زړه داده کوي

نېکي د خپل نوم، ښه د خپل دستور او خير د خپل خوند په څېرمعنا لري، د نورو له پاره نېکبختي غوښتونکي هغه لومړني کسان دي، چې هغوی په خپله

له دغه سعادت- نېکبختی- څخه برخمن وي . همدوی په خپله نېکي کوونکي دي، چې د خپلې نېکۍ او ښېګڼې مېوه په خپلو ځانونو، اخلاقو او ضميرونو کې ډېر ژر احساسوي، په دې معنا چې هغوی ته د زړه خوښي، هوساينه او ډاډ پيدا کيږی .

له همدغه امله که کله درڅخه د پرېشانۍ لړۍ راتاوه او غم در پېښ شو، نـوسمدلاسه له بل چا سره ښېګڼه او نېکي وکړه اسانتيا او راحت به دې په برخه شي .

محروم - بې برخې - ونازوه، د مظلوم مدد وکړه، غم ځپلی وژغوره، وږي ته خواړه ورکړه، د ناروغ پوښتني ته ورشه او په کړاوونو کې اخته کس سره مرسته وکړه، نو له هر لوري به په نېکمرغيوکې ډوب شې . بېشکه ښېګڼه د عطرو مثال لري، چې ورونکي، پلورونکي، پېردونکـي ټولو ته ګټه اوخوند ورپه برخه کوي، د نفسي ښېګڼو پايلې برکتي درمل دي او دهغه چا په درملتونونوکي کارول کيږي، د چا زړونه چې په خير ښېګڼه اباد شوي وي، نو پرهمدغه بنسټ د نورو په مخ کې ورين تندی په اخلا قي نړۍ کې تلپاتې صدقه شمېرل کيږي .(( دا هم خېرات دی، چې ته له مسلمان ورور سره په ورين تندي مخامخ شې )).

خود دې پرچپه توګه له نورو سره د مخامخېدو پرمهال د تندي تروشوالی او ګونځيتوب له هغوی سره د جګړې د اعلان معنا لري . دا هم ويل شوي، چې يوه داړونکي سپي ته په يو ځل اوبو ورکولو يوه بدکاره ښځه د ځمکواواسمانونوپه کچه پراخ جنت ته ورداخله شوې، ځکه چې د ثواب او بدلې ورکولوڅښتن ډېر بخښونکی، مهربان، شکورواوغني ذات دی، نو ای هغو کسانوچې له بدمرغۍ، وېرې او بلاوو څخه په ډارکې ياست، د ښېګڼې اوخير رسولوباغچې ته راشئ! نورو ته د مېلمستيا ورکونې، خواخوږۍ، همکارۍ اوخدمت په کولو بوخت شئ، نو تاسو به دنېکمرغۍ خوند او رنګ وڅکئ .

الٰهي وينا ده ﴿ د هېڅ نېك كار انګېزه يې دا نه وي، چې د چاد ښېګڼې ځواب ووايي، پرته له دې چې د خپل ډېر لوړ رب خوښي ترلاسه کړي اوډېر ژر به يې د رب خوښي ترلاسه شي﴾. الليل۹۲:۱۸-۲۱

***

## وزګارتيا په کارکولو وشړه

په ژوند کې وزګار او بېکاره خلك په ټولنه کې هغه طبقه وي، چې د فساد او ډنډورو خپرېدو اصلي لاملونه وي، ځکه چې د دوی فکرونه خواره واره وي ﴿ هغوی په خپله خوښه د ځان له پاره ښه وګڼله، چې د پاتې شووښځو په ډله کې پاتې شي﴾. التوبه ۹- ۷۸

د ذهن له پاره تر ټولو خطرناك وخت هغه وي، چې د فکر خاوند په کې وزګار وي . په دې حالت کې ذهن هغه موټر ته ورته وي، چې موټروان په کې نه وي، کله کيڼ او کله ښي لور ته کږيږي او په ډېر سرعت کې له بـــره ځخه لاندې پرېوځي، کومه ورځ چې وزګار يې نو غم، خفګان او وېرې ته چمتو اوسه، ځکه چې وزګارتيا او بېکاري تاته د تېر، اوسني او راتلونکي ژوند ټولې دوسيې راسپيري، تا په ناقرارۍ او ذهني کشمکش کې غورځوي، نو تا او ځان ته مې دا نصيحت دی، چې په دغه وخت کې بايد موږ په يو ډول ګټورو کارونو ځانونه بوخت کړو، نه دا چې وخت په وژونکې وزګارتيا او تمبلۍ کې تېر کړو، ځکه چې دا په مخفي - پټه - توګه يو ډول ژوندي ښخول دي، يا د نېشې د ګوليو په واسطه ځانوژنه ده . وزګارتيا هغې تدريجي زوروني - دردونې - ته ډېر ورته والی لري، چې د چين په محبسونو- زندانونو- کې ترسره کيږي، هلته بندي د يوې بمبې - نل - لاندې کښېنول کيږي او له هرې دقيقې وروسته ورباندې د اوبو څاڅکي راڅڅول کيږي، چې د دغو څاڅکو د ځنډ په حالت کې د انتظار له امله بندي په ليونتوب اخته کيږي . راحت په خپله غفلت دی، وزګارتيا يو ماهرغل دی، او ستا عقل د فکرونو او خيالونو د جګړو له پاره يوه څيرې شوې د ښکار ټوټه ده، نواوس تاته په کاردي چې پاڅيږې!! لمونځ، تلاوت او يا ذکر وکړې، مطالعه، ليکنه ياخپل کور او دفتر منظم کړې، يا بل چاته خيرورسوې، ترڅو وکړای شې پر وزګارتيا بريالی شې او زه تاته په دې اړه له نصيحت کوونکو څخه يم، د کار په چاړه بېکاري ذبحه کړه، طبيبان درته د دې ببړني اقدام په بدل کې پنځوس سلنه د نېکمرغۍ ډاډ درکوي او بس . بزګرانو، ډوډۍ پخوونکواو خټګرو ته غوږ شه څومره ښې د خوښۍ سندرې وايې، د مرغيو په څېر څومره په راحت او نېکمرغۍ کې دي، په داسې حال کې چې ته د زړا له امله خپلې اوښکې په خپله بستره کې تويوې او پرېشانه يې ځکه، چې ته چېچل شوی يې! يعنې د وزګارتيا ناروغۍ چېچلی يې .

***

## تقليد يا د نورو پېښې پرېږده!

خپل ځان ته د بل چا بڼه مه ورکوه او په نوروکې ځان مه ويلي کوه، دا يوتلپاتې عذاب او بدبختي ده . ډېرداسې کسان شته، چې هغوی خپل ځانونه، غږونه، کړنې، خبرې، الـهي ورکړې او حالات په دې خاطر هېر کړي، چې ځان د نورو په بڼه کې ويلي او ورك کړي، نو ځرګنده خبره ده چې پر ځان به سخته راولي ، دروغجنې هڅې او تملق- چاپلوسي - به کوي، ځان به مرګ ته ورکوي او په پای کې به د خپل شخصيت او شتونوالي د له منځه وړلو هڅې کوې، چې دا ټولې پېښې يواځې د خوندونو اومزو له پاره ترسره کوي. له ادم(عليه السلام) څخه را واخله تر وروستي انسان پورې هېڅکله داسې نه دي پېښ شوي، چې دوه نفره دې په څېره کې سره ورته وي، نو په اخلا قو او الـهي ورکړو کې به څرنګه يو شان شي . ته يو بېل او ځانګړی شی يې، په تېر تاريخ کې مثال - بېلګی - نه لرې او نه به په راتلونکي کې ستاپه څېر څوك راشي، ته په ټوله معنا له زيد او عمر څخه بېل يې، نو ته ولې خپل ځان د تقليد په تاکاوی کې اچوې، د نورو په پېښوکې خپله اصلي بڼه له منځه وړې، په خپل شکل کې ګرځـــه . ﴿ بېشکه هرې ډلې خپل ګودر وپېژنده﴾. البقره۲:۶۰

﴿ د هرچا له پاره يوطرف - لوری - دی چې هغه ته مخ اړوي ،نوتاسو دښېګڼو اونېکيو په لور يو له بل څخه په ځغاسته کې مخکښ شـئ﴾. البقره ۲:۱۴۸

څه ډول، چې الله تعالٰی پيداکړی يې هماغسې ژوندکوه، خپل غږ، ټک او نورې ځانګړتياوې مه بدلوه، ځان په شريعت برابرکړه، خو خپل وجود او ازادي له لاسه مه ورکوه، ته د يوه ځانګړي خوند او خاص رنګ خاوند يې، موږ له تا څخه غواړوچې په همدې خپل رنګ او خپل خوند کې پاتې شې، ځکه چې ته همداسې پيدا شوی يې، او موږ هم په همدې بڼه کې پېژندلی يې . (( له تاسو څخه هېڅ يوه ته په کار نه دي، چې له نورو سره په هر څه کې ځان برابر کړي)).

انسانان د خويونو له پلوه د نړۍ له ونـو سره ډېر ورته والی لري، چې خواږه، تروه، اوږده او لنډ په کې شته، نوپه کار ده چې همداسې اوسي . که ته د کبلې په څېريې، نوله ځان څخه بويی مه جوړوه، ځکه چې ستا ښايست او ارزښت په همدې کې دی، چې ته د کبلې په څېر پاتې شې، رېښتيا ده چې زموږ رنګونه، ژبې، قابليتونه او طبيعتونه د الهی قدرت له نښوڅخه شمېرل کيږی، نو ته هم د الله تعالٰی له قدرت څخه د نښوانکار مه کوه .

## الـٰهي پـرېکـړه او برخه

﴿ هېڅ داسې مصيبت نشته، چې هغه پرځمکه يا ستاسو پرنفسونو په داسې حال کې پرېوځي، چې هغه له پيدايښت نه وړاندې په لوح محفوظ کې موږ نه وي ليکلى ﴾. الحديد ۵۷:۲۲

د تقديرقلم وچ شوى، صحيفې ترل شوي، د کار په اړه فيصله او برخې ليکل شوي دي . الٰهي وينا ده : ﴿ ووايه ـ اى پيغمبره! هېڅ وخت به موږ ته څه نه پېښيږي، مګرهغه څه به راپېښيږي چې الله راته ليکلي وي ﴾. التوبه ۹:۵۱

هغه څه چې د رېبښ شول داسې نه وو، چې خطاشوي واى او له هغه شي نه چې ته بچ شوې، داسې نه وه چې درپېښ شوي به وى، دا عقيده چې کله ستا په نفس کې پخه او په وجدان کې دې ځاى ونيسي، نوبيا به هره غمجنه پېښه درته ښېګڼه، هره ستونزه پېرزوينه او ټولې بدې پېښې به درته جــايزې او لورېينې ښکـاري، نبوي وينا ده :(( چاته چې الله تعالىٰ د خير اراده وکړي، نو هغه ته غميزه رسـوي )).

نوله دې امله ، که تاته کله کومه غميزه درپېښه شي لکه، ناروغي، د زوى مرګ، مالي زيان او يا دې کور وسوځېده، نو بايد خفه نه شې، ځکه چې دا د خالق ذات وېش او پرېکړه ده او همداسې به غوره شوې وه. د هرڅه اختيار له الله تعالىٰ سره دى، ثواب حاصل شو، ګناه وبخښل شوه، غمځپلو کسانو ته د هغوى د صبر او د هغه رب چې اخيستونکى، ورکوونکى، تنګوونـکى او پراخوونـکى دى، د هغه پر پرېکړو د خوښۍ په بدل کې دې ورته اجر او ثواب له خوند نه ډک او دارو شي، ﴿ الله د خپلو کارونو په اړه نه پوښتل کيږي، بلکې له مخلوق څخه پوښتنه کيږي ﴾. الانبياء۲۱:۲۳

هېڅکله به ستا ماغزه په قرار نه شي ترهغې چې پر الٰهي فيصلو او برخو باندې باور ونه کړې، نه به دې زړه په قرار شي او نه به دې له زړه څخه شيطانى وسوسې لرې شي. له کومو شيانو سره چې ته سبا ته مخامخيږې، قلم د هغو له ليکلو څخه وچ شوى، نو خپل ځان د پښېمانتيا او هلاکت په لوري مه وروله ، دا ګومان هم مه کوه چې د دېوال د راپرېوتومخنيوى، د اوبو بندول او څڅول ستا په توان پوره وو، د باد لګېدو مخنيوى دې هم کولاى شو، ښيښه دې له ماتېدو څخه ژغورلى شوه، دا يوه هم سمه نه ده، سره له دې چې نه زماخوښه ده او نه ستا، ژر دى چې ليکلي فيصلې به پېښې شي، الٰهي پرېکړه

اوحکم به سرته رسیږي.﴿دچا خوښه چې ایمان راوړي او دچا خوښه چې کفر کوي﴾ الاسراء۱۸:۲۹

د الله تعالٰی قضا ته مخکې له دې چې د خفګان او پښېمانتیا له امله وژاړې، ځان ورتسلیم کړه، کله چې دې له ټولو دنیاوي چارو کار واخیست، ټولې لارې دې ولټولې، خو بیا هم هغه څه درپېښ شول، چې ته ورڅخه وېرېدې، نو په دې صورت کې پر تا لازمه ده، چې خپل ذهن آرام او د رب فیصلې ته غاړه کېږدې، ځکه چې د هغه له پرېکړې سره سم باید دا کار هرومرو پېښ شوی وای او داسې مه وایه، چې (( که ما داسې کړي وای، نو داسې او هاغسې به شوي وای، بلکې داسې وایه، چې همداسې به د الله (ﷻ) له خوا مقرره وه او څه چې د هغه خوښه وي هماغه کوي )) .

***

## له سختۍ سره اساني ملګرې ده

ای انسانه! له هرې لوږې وروسته مړېدل، له تندې وروسته تنده ماتېدل، له بې خوبۍ وروسته خوب او له ناروغۍ وروسته روغتیا شته، مسافر به ډېر ژر بېرته خپل کورته راوګرځي، لار ورکی به سمه لار ومومي، بندي به له بندڅخه خلاص او تیارې به روښانه شي .

﴿ لرې نه ده چې الله پاك به فتحه راولي او یا به له خپل لوري د کوم بل کارخبرڅرګند کړي ﴾. المآئده ۵:۵۳

شپې ته د ریښتوني سهار د راتګ زېری ورکړه، چې د غرونو او درو پر سربه شپه په ځغلا کړي، پرېشان اوخفه ته د لمرد رڼا یا دسترګو د رپ په څېر د ناڅاپه تېزې خوښۍ زېری ورکړه اوغمځپلي ته د پټې مهربانۍ او رحمت زېری ورکړه . که ته یوه صحرا وګورې، که هرڅومره هغه پراخه او اوږده هم وي، نو پر دې پوه شه چې شاته یې ګڼ سیوري لرونکي شنه باغونه هم شته، که دې یوه رسۍ ولیده، چې ډېره کشیږي نوهغه هرومرو شکیږي، له اوښکو څخه وروسته موسکا، له وېرې وروسته سوکالي او له ډارڅخه وروسته سکون وي . اور، ابراهیم (علیه السلام) ونه سوځوه، ځکه چې الٰهي پالنې اوساتنې ورته کړکۍ پرانیستې وه او هغه د ﴿ ای اوره پرابراهیم سوړاو سلامت شه ﴾ کړکۍ وه . الانبیآء۲۱:۶۹

همدغه سمندر موسیٰ (علیه السلام) ډوب نه کړ، ځکه چې کلك او ریښتیني غږ دا الفاظ زمزمه کړل چې : ﴿ نه! هېڅکله داسې نه ده، بېشکه چې له ماسره مې رب مل دی، ډېر ژربه لارښوونه راته وکړي﴾. الشعرآء۲۶-۶۲ محمد(ﷺ) د ثورپه غارکې خپل ملګري ابوبکرالصدیق ته دا ډاډ ورکړ، چې الله (جل جلاله) له دوی سره مل دی، نو ځکه ورته د الله له لوري ډاډ اوکامراني ورپه برخه شوه. له بل لوري پراوسنیو حالاتو باندې حساب کوونکی اوغولېدونکی کس دبې صبرۍ پایلې له سختۍ او تباهۍ پرته بل څه نهویني، ځکه چې دوی تل یواځې د کوټې دېوال او د کور دروازې ته ګوري، حال دا چې دوی ته په کار دي خپلې سترګې له پردې څخه هاخواته اوړدې او د خپلو فکرونو اسونه د دېوال بل اړخ ته هم وځغلوي . له دې امله ته خپل زړه مه تنګوه، ځکه دا ناشونې ده چې اوسنی حالت به دې په خپل شکل تلپاتې وي، خو له سختۍ څخه د خلاصون له پاره ښه عبادت صبرکول دي، ورځې ځي راځي او زما نه اوړي راوړي، شپې د ورځې د راتګ زېری ورکوي او غیبي علم له الله تعالیٰ سره پټ دی، حکیم ذات هره ورځ د مختلفو- بېلابېلو- شیانو په اړه نوې نوې فیصلې کوي، امید دی چې الله تعالیٰ به له دې پېښې څخه وروسته خیر پېښ کړي اوتل له هرې سختۍ سره اساني مله وي .

***

## له تروش لېمو څخه خوږ شربت جوړ کړه

پوه او هوښیار انسان خپل مالي زیانونه په ګټو بدلوي، خو جاهل او ډارن انسان له خپلې یوې غمیزې څخه دوه جوړوي، رسول الله (ﷺ) له مکې څخه وتلو ته اړ شو، خوبیا یې په مدینه منوره کې یوداسې دولت جوړ کړ چې په تاریخ کې یې سارۍ نه لیدل کیږي .

امام احمد بن حنبل (رحمه الله) بندي شو، په دورو ووهل شو، خوبیا هم هغه د نبوي احادیثو امام شو. همدارنګه " ابن تیمیه "(رحمه الله) زنداني شو، خوهغه له زندان څخه پراخ علم راوړ. "سرخسي "(رحمه الله) د وچ کوهي تل ته د بندي په توګه واچول شو، خو هغه ورڅخه په اسلامي فقه کې شل ټوکه کتابونه راوویستل . ( یعنې ویې لیکل).

" ابن الا ثیر" (رحمه الله) په دواړو پښو شل شو، خو په دغه حالت کې یې هم د نبوي احادیثو په برخه کې دوه مهم او ګټورکتابونه " جامع الاصول " او " النهایه فی غریب الحدیث " ولیکل .

" ابن الجوزي" (رحمه الله) له بغداد څخه ایسارشو، خوهغه په دغه حالت کې د قرآنکریم اووه قراء تونه زده کړل او "مالك بن الریب " د مرګ په تبه اخته شو، خو په ناروغۍ کې یې نړۍ ته یوه داسې ښکلې اونامتو شعري قصیده پرېښوده، چې د عباسي دولت د ټولو شاعرانوله شعري دیوانونو سره برابره وه . د عربي شاعر" ابو ذویب هذلي" زامن مړه شول ، هغه یې په مړینه د " الیاذه" په نامه داسې یوه مشهوره قصیده په مېراث ورته پرېښوده، چې زمانه اوخلك ورته چوپ پاتې شول، پر ټولو خلکو یې اغېز وکړ او تاریخ ورته چکچکې ووهلې، که تا هم کله یوسترمصیبت غمجن کړي، نو ته د هغې ځلانده او ګټور اړخ ته نظر وکړه، که کله چا یو ګیلاس لېمو درکړ، نو ته ورسره یوه لپه بوره ګډه کړه، چې خوږ شربت ورنه جوړ شي، که چا در ته مار ډالۍ کړ، نود هغه قیمتي پوستکی واخله نور یې پرېږده، او که کله لړم وچېچلې نو ته ډاډه اوسه اوپه دي پوه شه چې دا یو قوي څاڅکی دی، چې د مارانود زهروپه مقابل کې کارول کیږي . ته له خپلوسختوحالاتــو سره ځان داسې برابر کړه چې موږ ته له هغه څخه دیاسمین او ګلاب په څېر ګلان را وباسې . ﴿ شایدتاسو یو شی بد وګڼئ، خوهغه به ستاسو له پاره غوره وي﴾. البقره ۲:۲۱۶

فرانسې له خپل سخت انقلاب څخه مخکې دوه غښتلي اونومیالي شاعران بندیان کړل، چې یو یې نېکپاله (هیله من) او بل یې بدپاله ( نا هیلی ) و . کله چې هغوی د زندان خونې ته وردننه کړای شول، نو دواړو د زندان له کړکۍ څخه سرونه وویستل، نېکپالي ـ هیله من ـ به پورته په اسمان کې ستورو ته کتل او بیا به په خندا شو، خو بدپالي اوناهیلي به لاندې یوه نژدې سړك کې خټوته کتل او بیا به په ژړا شو، نو ته د غمیزې بل طرف هم ګوره ، ځکه چې په دنیا کې یواځې شر نه وي، بلکې ورسره خیر، بریالیتوب، لاسته راوړنه اوثواب هم د تل له پاره مله وي.

***

## څوك دى هغه ذات، چې د بېوزلو دعاء قبلوي ؟

هغه څوك دى چې غمجن ورته فرياد كوي، دردمن اوغمځپلي ورځخه مرسته غواړي، مخلوقات ورته نياز لري او غوښتنه ترې كوي، په ذكر يې ژبې خوځېږي، زړونه د هغه عبادت كوي او لويي يې بيانوي ؟ دا يواځې الله (ﷻ) دى، چې پرته له ده څخه بل څوك د عبادت وړنشته . پرما اوتا لازمه ده چې د تنګۍ او پراخۍ په حالاتو كې د الله ذات راوبلو، د خوښۍ، ستونزو او غميزو پر مهال بايد الله ته فرياد وكړو. نېك اعمال ورته واسطه كړو، په دركې يې وژاړو، سوال وكړو، عاجزي وكړو او بېرته ورستانه شو، نو په دغه ډول حالت كې به هرومرو د الله (ﷻ) مرسته راځي او موږ به له ستونزوڅخه ډېر ژر خلاص كړي .
﴿ څوك دى هغه ذات، چې د اړ انسان غوښتنه مني ﴾. النّمل ۲۷ :۶۲

نوهمدا الله دى چې په اوبو كې ډوب شوى كس ژغوري، مسافربېرته كورته راګرځوي، په كړاوونوكې اخته كس ته عافيت وركوي، له مظلوم سره مرسته كوي، لارورکي ته سمه لارښايي، ناروغ روغوي اوپه ستونزو او غمونو كې ډوب كس ژغوري . ﴿ كله چې دوى - مشركان - په بېړۍ كې سواره شي، نو له الله نه په داسې توګه غوښتنې كوي، چې سوچه د الله د دين منونكي وي﴾
العنكبوت ۲۹ :۶۵

(ليكوال وايي) : زه نه غواړم دلته تا ته د غم اوپريشانۍ لرې كولو مسنونه دعاګانې دريادې كړم، بلكې تاته په دې اړه د نبوي احاديثو په كتابونوحواله دركوم، چې له الله تعالٰى سره له ادب او درنښت څخه ډک خطاب- غږېدنه - زده كړې، چې وكړاى شې څه ډول ورڅخه غوښتنه وكړې، څرنګه يې وبولې اوهيله ورڅخه وكړې . كه تا الله وموند، نوپه حقيقت كې تا هرڅه موندلي او كه الله دې ورک كړ، نو تا په حقيقت كې هر څه ورك كړي دي، پرته له دې چې غوښتنه دې هم ترسره شي . بېشكه چې له الله تعالٰى څخه ستا غوښتنه او دعاء يوبل عبادت او لوى اطاعت دى، او كوم انسان چې له الله تعالٰى څخه د دعاء - غـوښتنې- مهارت ولري، نو ورته په كار دي چې هېڅ ډول پرېشانۍ، غم اوخفګان ونه كړي . د الله تعالٰى له رسۍ پرته نورې ټولې رسۍ شكېږي، ټولې دروازې ترل كېږي، خو د الله دروازه د غوښتونكو پرمخ نه ترل كېږي . الله نژدې اورېدونكى او دعاء قبلوونكى ذات دى، كله چې محتاج - اړ- بنده ورڅخه غوښتنه وكړي دعاء يې قبلوي، سره له دې چې ته الله ته كمزورى يې اوهغه بې پروا، قوي، يو، د لويوالي اوعزت څښتن ذات دى، تاته دا امر كوي چې ورڅخه

**غوښتنه وکړې . الله (ﷻ) وايي ﴿ ما دروبولئ، چې غوښتنې مو ومنم ﴾ الغافر۴۰:۶۰**

**کله چې درته ستونزې اوغميزې پېښې شوې، نو الله ياد کړه، نوم يې واخله او مرسته يې وغواړه . خپل تندی د الله د لويوالي او پاکوالي په موخه په خاورو ولږه، چې د ازادۍ تاج دې پر سرشي، خپله پوزه د هغه د بنده ګۍ او لويوالي په موخه په خاورو سپېره کړه، چې د الله (ﷻ) د مرستې نښان وګټې . خپل لاسونه اوږده او لپې هغه ته پورته کړه، ژبه دې د هغه په يادولو وخوځوه، له هغه څخه په غوښتنه کې له خورا ټينګارڅخه کار واخله، د مهربانۍ اومرستې هيله يې ولره، دروازې ته يې تل ودرېږه، مبارك نوم يې زمزمه کړه، ښه ګومان پرې وکړه او د عبادت او اطاعت له پاره يې ځان ګوښه او يواځې کړه، نونېکبخته او کامران به شې .**

***

## په کور کې ارام کښېنه

**دا يو شرعي اوسنت کاردی چې ته له بدۍ او بدانو څخه ګوښه او جدا ناسته غوره کړې، له بېکاره او بې هدفه کسانوسره ناسته ولاړه پرېږدې، له دې سره به فکري قرار ومومې، کارونه به دې سم، ذهن به دې د حکمت اوپوهې په مرغلرو ډك شي او د معرفت په باغچو او بڼونو کې به چکر ووهې . له هرهغه شي څخه ګوښه کېدل چې انسان د خير او د الله (ﷻ) له بنده ګۍ څخه ايساروي يوه داسې اغېزمنه دوا ده، چې د زړونوطبيبانو او متخصصينو تجربه کړې او ډېره ښه نتيجه يې ورکړې ده، نو زه يې هم تاته سپارښتنه کوم، له شر، عبث ـ بېځايه ـ غونډو څخه ځان ګوښه کول او کور کې ناسته د فکر د پاکوالي، د الله تعالٰی د وېرې اويادونې اوهغه ته د ورګرځېدو يوه ډېره ښه لار اوغوره بخت دی . د دې ترڅنګ هغه ښه ناسته او راټولېدنه، چې د خير کارونوله پاره وي لکه، پنځه وخته لمونځونه، د جمعې لمونځ، ديني زده کړې او نور اجتماعي ـ ټولنيز- کارونه، چې د خير رسولو په موخه ترسره کيږي، په کې ګډون کول يو غوره، په شريعت کې غوښتل شوی او مهم کار دی، او د پورته يادو کړنو پر ضد د بېکارو او وزګارو خلکو په ناستو کې له ګډون کولو څخه سخته ډډه، ځان ژغورنه اوتېښته وکړه، پر خپلې غلطۍ باندې وژاړه، توبه وباسه، ژبه دې نوره ونيسه، په کورکې ارام کښېنه، بې هدفه اوخوشې ناستې په څرګند ډول پر نفس باندې يوه بده جګړه ده او ستا په ځان کې د هوساينې، امنيت او سوکالۍ پر ضد يوخطرناك**

ګواښ دی، ځکه چې ته له داسې کسانوسره ناسته ولاړه لرې، چې هغوی د ډنډورو جرړې، د دروغو اتلان، د فتنو، ورانیو اوبدمرغیو زېږي ورکونکي اولار ښوونکي دي، نو له هغوی سره ستا ګډون او ناسته ولاړه مخکې له دې چې تاته ریښتینی مرګ راشي نو تا د ورځې اووه ځله وژني . ﴿ که له تاسو سره یوځای وتلای وای، نو له ورانکاری پرته به یې نور څه نه وو کړي﴾. التّوبه ۹:۴۷

له همدې امله له ستا څخه زما یواځینۍ هیله داده، چې ته د ټولنیزو ښېګڼو، د خیر له خبرو او غونډو پرته نور خپل کار ته مخه کړې او په خپله خونه کې ګوښه کښېنې، نو په دې صورت کې به ته ووینې چې زړه دې له تاسره دی، خپل وخت له هسې تېرولو، عمر دې له چټیاتو، ژبه له غیبت، زړه له پرېشانۍ، غوږونه له بدو خبرو اورېدو او ځان له بدګومانۍ څخه خوندي وساته، چا چې دا کارونه تجربه کړي وي، نوهغوی ښه پوه شوي وي، او څوك چې د اندېښنو په بېړۍ کې سپور او د عامو وګړو په کړۍ کې ونښلي، نو هغه ته سلامتي غواړه، یعنې ( لاس ترې پرېمینځه ) .

***

## الله ښه بدله ورکوونکی دی

که الله تعالٰی درڅخه کله کوم نعمت واخلي یا څه مصیبت درپېښ شي، نو ته په دې پوره یقین ولره چې الله تعالٰی به یې هرومروښه بدله درکوي، خوپه دې شرط چې ته صبر وکړې، او له الله (ﷻ) څخه یې بدله وغواړې . نبوي وېناده، چې الله (ﷻ) وایي : (( له چا څخه چې زه د هغه دوه سترګې واخلم، بیا هغه کس په هماغه حال صبر وکړي، نوزه به یې په بدل کې جنت ورکړم .

په قدسي حدیث کې الله (ﷻ) وایي : (( د دنیا په خلکو کې چې زه له چا څخه د هغه له یوه ګران کس څخه روح واخلم او بیا د ثواب په نیت هغه انسان صبر وکړي، زه به ور ته په بدل کې جنت ورکړم )).

که د چا زوی مړ شي اوهغه شخص صبر وکړي، نوپه جنت کې به ورته د " بیت الحمد " په نامه یوکورجوړ شي، دا یوه بېلګه ده او نور پرې ته قیاسوه، چې داسې ده نو ته په هېڅ ډول پرغمیزې باندې افسوس مه کوه، ځکه هغه ذات چې ستا له پاره یې مصیبت ټاکلی، نو له هماغه ذات سره یې ښه بدله چې له جنت، ثواب او ستراجرڅخه عبارت دي . د الله تعالٰی هغه دوستان چې په

دنيا کې په ستونزو اخته شوي دي، د اخرت په ورځ به په فردوس جنت کې د الله تعالٰی له لوري په دې غږ او بلنې سره ونازول شي، چې ﴿ د صبرپه بدل کې تاسوته تلپاتې سلامتيا ده اوجنت له هرڅه نه غوره کور دی﴾ . الرّعد۱۳:۲۴

نو موږ ته هم لازمه ده، چې د غميزې پر مهال له الله تعالٰی څخه د ښې بدلې او ثواب هيله ولرو . ﴿ پرغمځپلوخلکو د هغوی د رب له اړخه پېرزوينې او رحمت دی اوهغوی د روغې اوسمې لارې موندونکي دي ﴾. البقره۲:۱۵۷

نو خونـدوردې وي غمځپلو ته د الله تعالٰی دغه پېرزوينې، او زړې دې وي ربرېدلوته . رېښتيا ده چې د دنيا ژوند ډېر لنډ او خزانه ـ مال ، دولت ـ يې ډېرسپك دی او د آخرت ژوندون ډېر غوره او تلپاتې دی، نو څوك چې دلته په دنيا کې په څه مصيبت ـ غميزه ـ اخته شی، هلته به يې بدله ورکول کيږي . څوك چې دلته ستړی شي، هلته ـ آخرت ـ کې به هوسا وي، په دنيا پورې تړلو، پر دنيا عاشقانو او ورته سرتيټو خلکو ته تر ټولو ستونـزمن کار دا دی، چې هغوی د دنيا له ګټو څخه بې برخې او نارامه شي، نو ښکاره ده چې پرهغوی به يې بيا کړاوونه اوستونزې هم سختې تماميږي، ځکه چې د هغوی بنسټيزه موخه همدا دنيا ده . د دغه ډول خلکو عادت دا وي، چې همېشه ترخپلو پښو لاندې ګوري، له پاتې، بې ارزښته او بې هدفې دنيا پرته بل خوا ته نه ګوري، نو ای غمځپلو خلکو! تاسوهېڅ له لاسه نه دي ورکړي، بلکې همدا تاسو ګټلی ده، ځکه چې تاسو ته يو داسې پيغام او ليك دراستول شوی، چې په منځ کې يې مهرباني، رحمت، ثواب او غوره بدله شته، خوهغه شخص چې تل غمجن وي، غميزو د څلورو دېوالونو په منځ کې رانيولی وي او په دغه حالت کې هم صبر او زغم نه کوي، نو وبه ګورې چې پايله يې څه ده!؟ څرګنده ده، چې پايله به يې د الله تعالٰی له دې وينا سره برابره وي : ﴿ په منځ کې به يې يو دېوال رامنځته شي، چې له دروازې څخه دننه به يې رحمت او د باندې به يې عذاب وي ﴾. الحديد۵۷:۱۳

له الله تعالٰی سره چې کومه بدله شته هغه ډېره غوره، تلپاتې، خوندوره او ګټوره ده .

***

# ایمان په خپله ژوندون دی

په بشپړه توګه هغه خلک بدمرغه دي، چې د ایمان او یقین له شتمنۍ څخه بې برخې اومفلس وي، او د تل له پاره له بدبختۍ، الٰهی قهر، غصې ، ذلت او سپکاوي سره مخامخ وي .

﴿ څوك چې زما له کتاب - قرآن - څخه مخ واړوي نوپه دنیا کې به یې ژوندون تنګ وي ﴾. طٰه ۲۰:۱۲۴

هیڅوك خپل نفس ته نېکمرغي، پاکي، چنوالی او خوښي نه شي راوړلای او نه یې غمونه اوپرېشانی له منځه وړای شي، ترڅوچې پرهغه الله تعالٰی باندې یې ایمان پوخ شوی نه وي، چې د ټول عالم روزونکی او پالونکی دی . په رښتیا چې له ایمان پرته ژوندون څه خوند او معنا نه لري . د ملحدینو له پاره چې ایمان راوړل یې په قسمت کې نه وي، غوره لار دا ده چې هغوی ځانونه په خپله سم کړي، چې له دغو بدبختیو، درندو پېټو، کړاوونو، زولنو او تورو تیارو څخه نجات ومومي، دا څومره هلا کوونکې او له ایما ن څخه خالي ژوند دی !! دا څومره تلپاتې لعنت دی، چې د الله تعالٰی پرځمکه د الله تعالٰی د ټاکلې لارې په سرغړوونکو پورې نښتی دي!!

﴿ موږ یې زړونه اوسترګې په هماغه شان اړوو، لکه په لومړۍ ورځ یې چې پر حق دین ایمان نه دی راوړی اوموږ یې پرېږدو، چې په خپله سرغړونه کې لا لهانده وي ﴾. الانعام ۶:۱۱۰

د نړیوالو له پاره اوس هغه وخت رارسېدلی، چې پر دې خبره باندې بښه قناعت، پوره یقین او باور ولري، چې له الله پاك پرته بل هیڅوك دعبادت وړنشته. له اوږدې اوسختې تجربې وروسته چې د تېرو څو پېړیو په ترڅ کې ترسره شوي، روغ عقل دې نتیجې ته رسېدلی، چې بوت هسې یوه نخره او دروغ شی دی، کفر، لعنت او الحاد- له الله څخه انکار- دروغجنه فلسفه ده، د الله تعالٰی استازي ریښتیني وو، الله (ﷻ) حق دی، بشپړه واکمني د هغه ده، د ستاینې وړ ذات الله دی، یواځې همدا رب پرهرڅه برلاسی او واکمن دی، اوستا د ایمان د زور او کمزورۍ، ګرموالي او سوړوالي په اندازه به تاته نېکمرغي، راحت او ډاډ درپه برخه کېږي، الله (ﷻ) وایي : ﴿ هرنارینه اوښځینه مسلمان، چې نېك کارونه وکړي موږ به پاك ژوند ورپه برخه کړو او په اخرت کې به د دوی د ښوکړنو بدله هرومرو ورکوو ﴾. النحل۱۶:۹۷

له دې څخه څرګندېږي، چې د دوی نفسونه له دې امله چې د رب له لوري ورسره د ښې بدلې ژمنه شوې، نو ژوندون يې پاك، ښکلی او ډېر ډاډه وي، د خپل خالق محبت يې په زړونوکې ځای نیولی وي، وجدانونه يې له کړې لارې څخه پاك وي، د پېښو په وړاندې د الله تعالٰی د ټاکلې پرېکړې د رارسېدو پر وخت يې زړونه او رګونه ارام، ساړه او خوښ وي، ځکه چې دوی د زړه له کومې منلې، چې الله تعالٰی د دوی پالونکی، اسلام يې دين او محمد (ﷺ) يې پيغمبر او لارښود دی .

***

## ګبين واخله، خود مچبو چک مه ماتوه

نرمښت هرشي ته درنښت ورکوي او په هرهغه څه کې چې نرمښت نه وي هغه کاربدرنګه کېږي، له بل سره په خبرو کې نرمښت ، په ورين تندي مخامخېدل، ښې خبرې کول، دا ټول هغه ښکلې اوبدل شوې جامې دي، چې نېکمرغه خلك يې اغوندي او دا د بشپړ ايمان لرونکي کس نښې هم دي، لکه د شاتو د مچۍ په څېرچې ښايسته خوراک کوي او ښايسته شهد توليدوی، چې پر ګل باندې کښېني هغه نه ماتوي، ځکه چې الله تعالٰی په نرمښت سره کومه ورکړه کوي، نو هغه په شدت ـ سختۍ ـ سره نه ورکوي. ډېر داسې خلک شته چې د هغوی د راتګ په هيله اورمېږونه اوږدېږي، سترګې يې په ډېره لېوالتيا سره لار څاري، زړونه ورته ښه راغلاست وايي، روحونه يې بدرګه کوي، ځکه چې هغوی په خلکوکې په خبرو، راکړه ورکړه، اخيستل اوخرڅول، ليدلو، کتلو او بېرته تګ کې ښه ګرانښت لري، لنډه دا چې هغوی د ژوند په هر ډګر کې دخلکو د خوښۍ اوګرانښت سرچينه ده، د ملګروپيداکول ځانګړی مهارت غواړي، هوښيار اونېك خلك په دې فن کې ښه پوهه لري، هغوی تل د خلکو په درناوي کې پټ وي، که د چا خواته ورشي، هغوی ورسره مينه اوخوښي څرګندوی اوکه ورڅخه ورک يا ځندمن شي، نو پلټنه او دعاء ورته کوي، دغه ډول نېکمرغه خلك د اخلاقو ـ خويونو ـ په برخه کې يوه تګلاره لري، چې سرتکی يې دا دی : ﴿ په ډېرې ښې لارې سره د بدۍ مخه ونيسه، (بيا نووګوره) هغه څوك چې له تاسره پخه دښمني لري ستا د خواخوږي دوست په څېر به شي ﴾. فصلت٤١:٣٤

ځکه چې دوی د ګرمو ولولو، صبر اوبخښنې په لرلو سره د خلکو کينې زغمي، بدې يې هېروي، ښېګڼه يې يادوی، دوی ته ستغې سپورې ويل کېږي، خو غوږونو ته يې نه ننوزي، بلکې دا خبرې پرېږدي دومره وړاندې ولاړی شي،

چې بېرته راګرځېدل يې ناشوني وي، دوی به هوسا وي او نور خلک به هم د دوی له اړخه په امن او راحت کې وي . په دې اړه نبوي وينا ده چې : (( مسلمان هغه څوك دی، چې نور مسلمانان يې د ژبې اولاس له زيانه خوندي وي او مؤمن هغه څوك دی، چې نورخلك ورباندې د خپلو وينو، ځانونواو مالونو په اړه خوندي شي)) .

نبوي وينا ده : (( بېشکه الله تعالٰی ماته د دې امرکړی، چې له هغه چاسره خپلوي وپالم چې له ما سره يې نه پالي، هغه چا ته بخښنه وکړم چې پرمايې تېری کړی وي، اوله هغه چاسره مرسته وکړم چې زه يې له مرستی څخه بې برخی کړی يم )) . ﴿ پرهېزګاران قهر زغمي اوخلکو ته بخښنه کوي﴾. آل عمران ۱۳۴:۳

دغو خلکوته د داډ او سوکالۍ په څېر د بېړني - دنيوي - ثواب او اخروي لوی ثواب زېری هم ورکړه، چې د خپل بخښونکي رب په څنګ کې به په داسې باغونوکې وي، چې رنګارنګ ويالې به په کې بهيږي . ﴿ د زورور او پیاوړي پادشاه په وړاندې به د درنښت په رېښتيني ځای کې ناست وي﴾. القمر۵۴ :۵۵

﴿ خبرشئ! چې زړونه یواځې د الله په ذکر- يادولو- قراريږي ﴾. الرّعد۱۳: ۲۸

رېښتيا وينا د الله تعالٰی خوښيږي، په رڼو ټکو کې خبرې کول د زړونو د پاکۍ لامل ګرځي، تجربه یو ښه دليل دی، د کور مشر له خپلې کورنۍ سره دروغ نه وايي، د سينې د پراختيا او د اجر د زياتوالي له پاره د الله تعالٰی له يادولوپرته بل عمل نشته . ﴿ تاسو ما يادکړئ ، چې زه تاسو ياد کړم ﴾. البقره ۲:۱۵۲

په ځمکه کې د الله تعالٰی جنت د هغه ذکر- يادول - دي، څوك چې د ځمکې دغه جنت ته داخل نه شو، نو په هيڅ ډول به د آخرت جنت ته داخل نشي، دا د الله تعالٰی ذکردی، چې نفسونه له ستومانۍ، دردونو او انديښنوڅخه ژغوري، بلکې دا د هرې کامرانۍ او برياليتوب د لاسته راوړنې يوه اسانه او لنډه لار هم ده، ته خو قرآنکريم اونبوي ويناوې ولوله، چې د ذکرپه ګټو اوخوند پوه شي، په ژوند کې يې ګټه وازمايه، چې روغتيا دې په برخه شي . د الله (ﷻ) په يادولو سره د وېرې، خفګان او د پرېشانۍ ورېځې تولیږي، د الله (ﷻ) په يادولوسره د غمونو اوستونزوغرونه له منځه ځي، دا يو منل شوی او روښانه حقيقت دی، چې ذکر کوونکي به په راحت اوخوښيوکې ډوب وي او دا د حيرانتياخبره هم نه ده، د سختې حيرانتيا خبره خو دا ده، چې د الله تعالٰی له ذکرڅخه بې پروا خلك څرنګه

ژوند کوي !؟ ﴿ دوی مړه دي، ژوندي نه دي اوپه دې هم نه پوهیږي، چې دوی په کله بېرته راپورته کیږي﴾. النحل ۲۱:۱۶

نو، ای هغه انسانه، چې له بې خوبۍ سر ټکوې، له درد څخه ژاړې، د پیښو له امله کړیږې، ستونزو او ناخوالو له هر اړخ څخه ویشتلی یې! راشه الله تعالی ته په پاك اوسپېڅلی نوم سره غږ وکړه! ﴿ ایا د الله له پاره کوم سیال پېژنې ﴾. مریم ۱۹:۱۹

څومره چې الله (ﷻ) ډېر یادوی په هماغه اندازه به ستا فکرهم پراخیږي نفس به دې نېکمرغه شي، ضمیر- وجدان - به دې ارام وي، ځکه چې د الله (ﷻ) په ذکر- یادونه - کې د الله (ﷻ) پر ذات باندې د باور، یقین، اعتماد، توکل معنا ګانې، اوهغې ته د ورتللوښه ګومان اود خلاصون نېکې هیلې نغښتې دي . نوالله (ﷻ) ډېر نژدې ذات دی، چې کله وبلل شي، اورېدونکی دی، چې کله ورته غږ وشي، قبلوونکی دی، چې کله ترې غوښتنه وشي ورکوونکی دی، نوته هم ورته عذر، زاري، فریاد اوعاجزي وکړه، پاك او مبارك نوم یې په خوله په داسې ډول بار بار وایه، چې توحید، ستاینه، صفت، بلنه، غوښتنه او د بخښنې ټول صفتونه په کې وي، نو ډېر ژر دی چې ته به د الله په قدرت سره نېکمرغي، امن، ډاډ، خوښي او روښنایي ترلاسه کړې . ﴿ الله پاك هغوی ته د دنیا ثواب اود آخرت ډېره ښه بدله ورکړه ﴾. آل عمران ۱۴۸:۳

***

## اَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَى مَا آتاهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِه

﴿ ایا دوی له خلکو سره په هغو ورکړو، چې الله په خپل فضل سره نورو خلکوته ورکړي دي کینه کوي ﴾. النساء ۵۴:۴

کینه داسې مالګین خوراک ته ورته ده، چې هډوکي خوري او له منځه یې وړي، کینه په حقیقت کې یوه زیانمنه او دوامداره ناروغي ده، چې بدن ته نور زیات زیانونه اړوي، اودا هم ویل شوي چې کینه کښ سړی هېڅ ارام نه لري، دی د مظلوم په جامه کې سترظالم، او د ملګري په جامه کې دښمن دی . پخوانیو ویلي: کینه دې خیریوسي څومره ښه با انصافه ده، لومړی پیل یې پر خپل خاوند وکړ او هغه یې وواژه .

مخکې له دې چې پر نورو رحم وکړو، زه په کلکه خپل ځان او تا له کینې څخه ځکه منع کوم، چې په حقیقت کې دا پرما او تا یوه مهرباني ده، ځکه چې له

هغوی سره د کینې په صورت کې موږ په غم اوخفګان باندې خپلې غوښې خورو، د بدن وینې پرې څښو، د خپلوسترګوخوب او راحت په نورو وېشو، د کینې له امله حاسد- کینه کښ - په خپل ځان کې یو داسې ګرم داش ته تیلی وهي، چې دی به په خپله په کې وسوزي . بد ژوند، د طبیعت خړپړتیا او پرېشاني د حسد- کینې- هغه زېږنده ناروغی دي، چې په پایله کې د انسان ښکلی، پاک او له راحته ډ ک ژوند له منځه وړي .

د حاسد - کینه کښ - انسان ګناه دا ده، چې په حقیقت کې هغه د الله تعالٰی له پرېکړو سره لاس او ګرېوان وي، د خالق ذات پرعدالت نیوکه کوي، له شریعت سره بې ادبي او د دین له څښتن، الله پاک سره ښکاره ټکرکوي، کینه ځومره د حیرانتیا وړ ناروغي ده، چې پرې د اخته کس له پاره نه ثواب شته او نه ښه بدله .

کینه کښ به د تل له پاره د کینې په ګرمو لمبوکې وي، ترهغې چې مړ شي او یا له خلکو څخه د الله تعالٰی نعمتونه ورک شي . له کینه کښ پرته له هر چا سره روغه جوړه کېدای شي، خو له حاسد سره به روغه جوړه هلته وشي، چې ته د الله تعالٰی له لوري له درکړل شویو پېرزوینو څخه لاس په سر او له ذهني شتمنیو څخه هم کار وانه خلې، له خپلو ټولو ځانګړتیاوو او ښو خویونو څخه تېرشې، که تا دا ټول کارونه وکړل نو، بیا ښایي هغه درڅخه زړه نازړه خوښ شي . د کینه کښ له شره موږ هغه مهال الله تعالٰی ته پناه وړو، چې کله کینه کوي، ځکه چې سهار راویښ شي نو د تور زهرلرونکي خامار غوندې وي، تر هغې یې چې خپل زهر په یوه بې ګناه جسم کې نه وي تش کړي، لا لهانده او نا ارامه وي، نو زه تا بار بار له کینې څخه منع کوم او درته لارښوونه کوم، چې له الله تعالٰی څخه د تل له پاره د حاسد له شره پناه غواړه، ځکه چې هروخت درته په کمین کې ناست وي .

***

## ژوند چې څرنګه دی، هماغسې یې ومنه

د دنیا داسې حالات دي چې خوندونه کم او ستونزې یې زیاتې وي، تل یې تندی تروش وي، ژر ژرخپل رنګ او بڼه بدلوي، په خړ پړتیا اوستونزوکې نغښتې ده، د تل له پاره به ته ورسره په مشکلاتو او کړاوونو کې اخته یې . په دنیا کې به هېڅکله داسې پلار، مېرمن، ملګری، هوښیار خلك، کور، دنده او

داسې نور ونه مومې، چې له داسې یوه صفته خالي وي، چې فکر پرې خراب نه شي، هرومرو به داسې څه لري چې د خفګان او پرېشانئ لامل ګرځي، نو ته يې د شر تودوخه، د خير په يخنئ له منځه يوسه، چې سر په سر شی او د زخمونو بدله په زخمونو سره حسابيږي . دا د الله تعالٰی اراده ده چې دنيا يې په دوه متضادو- مخالفو- شيانو، دوه ډولونو، دوه فکرونو، لکه خير وشر، رغونه او ورانونه، خوښي او خفګان کې پيدا کړې، چې بيا الله تعالٰی په بشپړه توګه خير له رغونې او خوښئ سره په جنت کې يوځای کوي، او شر په بشپړ ډول له فساد او خفګان سره يوځای په اور کې اچوي. رسول الله (ﷺ) وايي : (( د الله تعالٰی له ذِکر- دين - اوهغه چې ورته نژدې دي، له عالم او متعلم پرته نوره دنيا او څه چې په دنيا کې دي په لعنت ککړ دي )).

نو ته بايد د خپل اوسني حالت په چوکاټ کې ژوند وکړې، د خيال نړئ پرېږده، په نمونه يي نړئ کې والوزه، د واقعيتونو په نړئ کې خپل ژوند ته دوام ورکړه، دنياچې څه ډول ده هماغسې يې ومنه، ځان ورسره بلد کړه، ناشونئ ده ته يو داسې دوست پيدا کړې، چې هغه درته په زړه کې په بشپړه معنا صاف او مخلص وي، او نه به په دې دنيا کې ستا کاربشپړ شي، ځکه چې کمال - بشپړتيا- او پاکوالی د دنيا شان او صفت نه دی، ان دا چې  خپله مېرمن به دې هم ستا په مزاج  برابره نه وي .

د رسول الله (ﷺ) وينا ده : (( ايماندار سړی دې ايمانداره مېرمن بده نه ګڼي، که له يوه خوی څخه يې ناخوښ وي، نوله بل څخه به يې خوشحاله وي)) .

نو په کارده چې موږ يوله بل سره مرسته وکړو، يو بل ته نژدې شو، بخښنه وکړو، اسانه کار وکړو او سخت پرېږدو، کله ناکله سترګې پټې اوځانونه ناخبره ونيسواوپه چاروکې منځلاريتوب غوره کړو .

***

## دغمځپلو د حال په ليدو، ځان ته تسلي ورکوه

ښې او کيڼ لور ته ځير شه ! ناروغ يا په ستونزه اخته کس به وګورې، په هر کورکې به ويرژلي وومومې، پر هر اننګي به اوښکې ووينې .اودعربی ژبی متل دی (  په هره دره کې به د سعد ځامن وي ) .

ځومره چې غمیزې ډېرې دي، نوهومره زغمونکي هم ورته شته، یوازې ته نه یې چې غمځن یې او په کړاو اخته یې، بلکې ستا مصیبت ـ غمیزه ـ د نورو پرتله کمه ده، ډېر داسې ناروغان شته، چې له کلونو کلونو راهیسې د ناروغۍ پر بستر پراته دي، ډډه په ډډه اوړي، له دردونو زړېږوي کوي او د ناروغۍ له امله چغې وهي . ډېر داسې بندیان شته، چې کلونه پرې په بند کې تېر شول، خو لمر یې په سترګو ونه لیده، د خپل زندان له خونې پرته یې بل څه نه دي پېژندلي . ډېر داسې پلرونه او میندې شته، چې د خپلو زړونو ټوټې یې په تنکۍ ځوانۍ کې له لاسه ورکړې دي، نو ځومره غمجن، دردمن، په غمونو اخته او پوروړي خلك په دنیا کې شته !! اوس ته هم دا وخت لرې، چې د دغه ډول کسانو په لیدوخپل زړه ته تسلي ورکړې او په دې خبره هم پوخ باور وکړې، چې دا دنیا د مؤمن له پاره زندان او د غمونو او کړاوونو کور دی . ډېرې ماڼۍ به ته ګورې، چې ګهیځ له خپلو خاوندانو ډکې وې، خو ماښام به هغه خالي- تشې- کنډرې وي، چتونه به یې پرځمکه راپرېوتي وي، داسې کورنۍ به هم وګورې، چې په اتفاق وي، روغ او غښتلي بدنونه به لري، مال به یې پرېمانه، بچې به یې ډېر وي، خو څو ورځې به لا تېرې نه وي، چې همدغه کورنۍ به له نېستۍ، مرګ، بېلتون، رنګارنګ ناروغیو او نورو ناخوالو سره لاس او ګرېوان وي .

الله (ﷻ) وایي : ﴿ دا هم درته په ډاګه شوه، چې موږ پرې څه وکړل ؟ او تاسو ته مې ښه بېلګې څرګند کړي دي ﴾. ابراهیم ۱۴:۴۵

نو تا ته هم په کار دي، چې د کړاوونو په زغملو کې داسې اوسې لکه قیضه شوې اوښ، چې د خپل خاوند په امرپه ځمکه چوکېږي، اوځان هر وخت د بارله پاره چمتوکوي . تاته په کار دي، چې خپل مصیبت د هغو خلکوله مصیبتونو سره پرتله کړې، چې ستا په شا اوخوا کې اوسېږي یا له تا څخه مخکې تېرشوي دي، ترڅو تاته څرګنده شي، چې ته دهغوی پرتله روغ یې، تا ته له ډېرعادي مشکل پرته نورڅه نه دي پېښ شوي، بیا نو الله تعالی وستایه چې مهرباني یې دربانديې کړې، شکر یې پرځای کړه چې زیات نعمتونه یې درکړي، پرهغه شي صبر وکړه چې درڅخه یې اخیستي، او د هاغو خلکو په لیدو ځان ته ډاډ ورکوه، چې ستا په شا او خوا کې په کړاوونو اخته دي . تا ته د خپل پیغمبر ژوند ښه روښانه ټکلاره ده، د پیغمبر(ﷺ) پر سرمبارك د ځاروي لرې اچول شوې، پښې یې په وینو تکې سرې شوي، مخ مبارك یې زخمي شوی، د مکې په ناو کې پرې د لګیدلي اقتصادي بندیز له امله د ونو پاڼې خوړلي، له مکې څخه وشړل شو، دوه مبارك غاښونه یې مات شول، د سپېڅلې بي بي پر پاکه لمن یې تور ولګول شو،

اویا نفره ملګري یې په یوه ورځ شهیدان شول، ګران زوی او ډېرې لوڼي یې په خپل ژوندانه له لاسه ورکړل، د لوړې له لاسه یې ګېډې پورې تیږه وتړله، د شاعر، پـالي، کـوډګر، لـېوني او دروغجـن په نومونو ونومول شو . الله (ﷻ) له ټولو بدو نومونو څخه پاک وساته، دا یوه داسې ازموینه ده چې پېښېدل یې هرومرو دي او داسې امتحان دی چې بل ورڅخه پورته اوسخت نشته .

زکریا (علیه السلام) ووژل شو، د یحیی (علیه السلام) مرۍ یې پرې کړه موسیٰ (علیه السلام) خپل ټاټوبي پرېښودوته اړویستل شو، ابراهیم (خلیل الله) اور ته واچول شو، نور امامان په همدې لاره تللي، عمر(رضی الله عنه) په خپلوپاکو وینوکې شهید شو، عثمان (رضی الله عنه)  باغیانو ترورکړ، علي (رضی الله عنه) په نېزه ووهل شو، ډېرامامان په دورو وهل شوي ، د دین غوره علماء بندیان شوي  ډېر نېك خلك د ظالمانو د تېریو اوناکوبیو له لاسه وخت پر وخت کړول شوي دي، نو ته هم مه خفه کیږه !!  الله (ﷻ) وایي : ﴿ ایا تاسو ګومان کوئ، چې جنت ته به ننوځئ ، په داسې حال کې چې پرتاسو لا تراوسه د هغوخلکوپه شان حالات نه دي راغلي، چې له تاسوڅخه مخکې تېرشوي، هغوی ته ستونزې، کړاوونه اوناروغۍ رسېدلي او لړزول شوي هم وو ﴾ . البقره۲:۲۱۴

***

## لمونځ ... لمونځ

الله (ﷻ) وایي : ﴿ ای مؤمنانو په صبر اولمانځه سره مرسته وغواړئ﴾. البقره ۲:۱۵۳        کله چې وېرې دربانديې ناڅاپي برید وکړ، له څلورو خواوو نه خفګان را ایسارکړې، نو سمدلاسه لمانځه ته مخه کړه، چې روح دې ارام او نفس دې ډاډمن شي . لمونځ د الله تعالیٰ په امر د دې ذمه وار دی، چې دغمونو او پرېشانیو ستر حمله کوونکي حکومتونه له منځه وړي .

کله به چې کوم کار پیغمبر(ﷺ) پرېشانه کړ، نووبه یې وویل، بلاله! موږ په لمانځه هوسا کړه، یعنې د لمانځه له پاره اذان وکړه، چې قرارشو . لمونځ د رسول الله (ﷺ) د سترګو یخوالی و، نېکمرغي او خوښي یې په لمانځه کې وه ، ما د ډېرو نومیالیو اونېکانو کارنامې لوستې، کله به چې هغوی باندې هرڅه تنګ

شول، له بدو پېښنوسره به مخامخ شول، نو ژر به یې له عاجزۍ سره لمانځه ته منډه کړه، له دې کارسره به ببرته هغوی ته قوت، همت او هوډ په لاس ورغی . که (صلاة الخوف) یا د جنګ په حالت کې لمونځ ته ځیرشو، نوهغه ځکه فرض شوی، چې د وېرې په حالت کې ترسره شي، په هغه ورځ چې ککرۍ له تن څخه بېلیږي، د تورو په څوکو د نفسونو وینې بهیږي، نو په دغه حالت کې د زړونو د ډاډ او ارامتیا له پاره لویه وسیله د خشوع ـ عاجزۍ ـ لمونځ دی . پر دې نوي نسل باندې چې د روحي- رواني ـ ناروغیو کوم تود باد را الوتی، د دوی د ارام او ډاډ له پاره غوره لار دا ده، چې مسجدونو- جوماتونو- ته مخه کړي، ځانونه له مسجدونو سره اشنا کړي، خپل تندي پرځمکه ومږی، چې لومړی خپل پروردګار راضي کړي، بیا خپل ځانونه له دې ناوړه عذاب څخه وژغوري، که نه نو د خفګان اوښکې به یې د سترګو بانه وسېزي او غم به یې اعصاب له منځه یوسي، لنډه دا چې د دغه ډول خلکو د ډاډ اوسوکالۍ له پاره له لمانځه پرته نور هېڅ دارو نشته، نو د الله تعالٰی له سترو پېرزوینو څخه یوهم پنځه وخته لمونځونه دي، چې په شپه او ورځ کې یې کول لازمي دي . په حقیقت کې لمونځ زموږ ګناهونه رژوي، زموږ د پالونکي په وړاندې زموږ د درجو د لوړېدو لار ده او سر بېره پردې، لمونځ زموږ د پرېشانیو او ناروغیو له پاره ډېر ښه او اغېزمن درمل دي، زموږ وجدانونه په یقین روښانه کوي او خوښوي، خو له بل اړخه هغه کسان چې له مسجدونو څخه ګوښه ګرځي او لمونځ نه کوي، نو دا ډول خلك به له یوې بدبختۍ څخه بلې، له یو خفګان څخه بل او له یوې سختۍ څخه بلې سره مخامخېږی، لکه الله (ﷻ) چې وایي : ﴿ هلاکت یې په برخه دی اوالله یې عملونه باطل کړي دي﴾. محمد۴۷:۸

***

## موږ ته الله کافي دی اوهغه ښه کارجوړونکی دی

الله تعالٰی ته د هر کار سپارل، پرهغه باندې باور او تکیه کول، پر ژمنو یې یقین لرل، په کړنو یې خوښي څرګندول، د خلاصون په نیت الله ته سترګې غړول، دا ټول د ایمان غوره مېوې او د مؤمن له سترو او ځانګړو صفاتوڅخه شمېرل کیږي . کله چې یو بنده د خپل ښه برخلیك په اړه ډاډمن شي، په خپلو ټولو کړنو کې پر الله تعالٰی باندې باور وکړي، نو دا بنده به هرومرو د الله (جل جلاله) پاملرنه بسنه او مرسته لاس ته راوړي . کله چې ابراهیم (علیه اسلام) اور ته واچول شو، نو ویې ویل : ﴿ الله موبس دی اوهغه ښه کار جوړونکی دی ﴾

. الله (ﷻ) ورته اور سوړاو برابرکړ، پیغمبر(ﷺ) اود هغه سپېڅلي ملګري، چې کله د کفراو بت پرستۍ په لښکر تهدید شول، نوهغوی وویل :

الله موږ ته کافي اوښه کار جوړونکی دی نو په پای کې د الله پاك له پېرزوینې سره راستانه شول، هېڅ ډول بدي ورته ونه رسېده، د الله د خوښۍ په لار روان شول او الله د لوی فضل څښتن دی ﴾. آل عمران ۳:۱۷۳-۱۷۴

انسان نه شي کولای په یواځې ځان له ستونزو سره لاس او ګرېوان شي، یا له غمیزو سره مقاومت وکړي، ځکه چې انسان کمزوری پیدا شوی، خوهغه وخت ورته ټینګېدای شي چې پرخپل رب او بادار باندې توکل او باور وکړې او خپل ټول کار ورته وسپاري، که نه نو د دغه ناداره اوسپک انسان پلمه او چل به د دغه ډول سترو ستونزو او کړاوونو په مخ کې څه وي! ﴿ یواځې پرالله باندې تکیه وکړئ، که تاسو پرې یقین لرئ﴾. المآئده ۵:۲۳

نو، ای هغه انسانه، چې ځان ته د لارښوونې هوډ لرې ! پر زورور، شتمن، او سترځواکمن ذات باندې تکیه وکړه، چې له کړاوونو، هلاکت او غمیزو څخه دې وژغوري او دا وینا خپل شعار وګرځوه : الله موبس دی او هغه ښه کار جوړوونکی دی . که مال دې کم وي، پوروړی یې، مالي لاسته راوړنې دې په ټپه ودرېدې، د پانګې سرچېنې دې ترینګلې وې، نو غږ کړه چې : ﴿ حسبنا الله ونعم الوکیل﴾ ، کله چې له دښمن څخه وېرېدې او د تېرې کوونکي له تېري څخه دې زړه درزېده، یا د کومې بلې غمیزې د پېښېدو وېره درسره پیدا شوه، نوغږ وکړه چې :الله موبس دی اوهغه ښه کارجوړونکی دی . ﴿ ستارب د لارښوونې اوملاتړله پاره بس دی﴾. الفرقان ۲۵:۳۱

***

## ای پیغمبره ! ورته ووایه چې په ځمکه کې وګرځئ !

یو له هغوکارونو څخه چې سینه پراخوي، له انسان څخه د خفګان او پرېشانۍ ورېځې لرې کوي، په وطنونو کې سفر، په دښتو او بېدیاووکې ګرځېدل او د الله تعالٰی په پراخه ځمکه کې چکر وهل دي . له دې جملې څخه یو هم د الله تعالٰی د مخلوق په پرانیستي کتاب ـ کایناتو ـ کې لوستل دي، چې د قدرت قلمونه وګورې څه ډول د الله تعالٰی د مخلوقاتو په پاڼود جمال اوښایست نښې کاږي، له ښکلا ډکې باغچې او ګڼ باغونه وګورې، له خپل کورڅخه لږ د باندې ووځه، په

خپل شاوخوا کې فکر وکړه، غرونو او ونوته وخېژه، درو او خوړونو ته کوز شه، له پرېمانه اوبوڅخه اوبه وڅښه، پوزه دې د یاسمین ګل پرڅانګو کېږده، بوی یې کړه، نوپه دغه وخت کې به ته احساس کړې، چې روح دې څومره خپلواک اوتازه دی .

د ښکلي چغېدونکي مرغه په څېرد نېکمرغۍ په فضا کې د الله پاکي زمزمه کړه، له کوره راووځه او له سترګو څخه دې توره پرده لرې کړه ، بیا نو د الله (ﷻ) په پلنو لارو کې د ذکر او تسبیح په حال کې ګرځه، دننه په کورکې په یوه تنګه کوټه کې ګوښه ناسته او ورسره وژونکي بېکاري د ځانوژنې یوه اغېزمنه لار ده، ځکه چې ستا خونه خو ټوله نړۍ نه ده او نه ته د دې نړۍ یواځېنې استوګن یې! نو، خفګان او پریشانۍ ته ستا تسلیمېدل په څه خاطر؟ ښه ځیرشه ! په سترګو، غوږونو او زړه سره دا غږ وکړه، چې: ﴿ د الله په لار کې سپک او درانه ووځئ یعنې جهادته ولاړ شئ﴾. التوبه ۹:۴۱

راشه د ویالو او ښونو په منځ کې مرغان وګوره، چې د مستې مینې سندرې وایي اود هغو اوبو په منځ کې چې له خپلې سرچېنې څخه دلته د رارسېدو قېصه کوي، قرآنکریم ولوله، د ځمکو په څرځایونو او لارو کې چکر وهل داسې خوند دی، چې طبیب ـ روغتیاپال ـ یې هغه چاته سپارښتنه کوي، چې نفسي بوج ولري ، یا پرې خپلې تنګې کوټې تیاره جوړه کړې وي، نو راشه چې سره یوځای سفر وکړو، وګرځو، ترڅو نېکمرغه اوخوښ شو په مخلوقاتو کې ژوره کتنه او فکروکړو.﴿ مؤمنان د اسمانونو اوځمکې په پیدایښت کې فکرکوي او وایي، ای زموږه ربه ! دا شیان تا هسې نه دې پیدا کړي، پاکي ده تا لره ﴾.آل عمران ۳:۱۹۱

***

## صبر ډېر ښایسته دی

د صبرپه ګاڼه ځان سنبالول د لویانوله خویونوڅخه ګڼل کېږي، چې ستونزو ته په پراخه سینه، قوي هوډ اومېړانه هرکلی وایي، که زه او ته صبر ونه کړو، نوڅه به کوو؟ آیا تا سره له زغم پرته بله کومه د هوارۍ لارشته ؟ له دې پرته زموږ له پاره ته بله توښه پېژنې ؟ په پخوا زمانو کې له نومیالیو لویانوڅخه یوکس داسې و، چې د غمیزو نندارتون اود بدو پېښو د سیالۍ مېدان

ګرځېدلی و، چې له یوې ستونزې به خلاص شو، بله به یې لیدوته راغلې وه، خوله دې سره سره یې ځان د صبرپه ډال سنبال کړی او پر الله تعالی باندې توکل یې د ځان له پاره زغره جوړه کړې وه . هو! هوښیارخلك همداسې کوي، له غمیزوسره ډغرې وهي او غمونه ـ ترخې پېښې ـ پر ځمکه غورځوي .

ابوبکرالصدیق (رضی الله عنه) ناروغ و، څو تنه یې پوښتنې ته ورغلل، ورته یې وویل : کوم طبیب ـ روغتیا پال ـ درته د درملنې له پاره راونه غواړو؟ هغه ځواب ورکړ، زه طبیب لیدلی یم، هغوی پوښتنه وکړه، چې څه یې درته وویل؟ هغه ځواب ورکړ، طبیب ـ الله ـ راته وویل، چې زما څه خوښه وي هماغسې کوم، نو ته صبروکړه . ستا د صبر بدله یوازې له الله تعالی سره ده، دهغه چاپه څېرصبر وکړه، چې په خلاصون اونجات یې پوره باور او په ښه پایله پوه وي . خپل اجر له الله څخه غواړي، د خپلو ګناهونو د بخښنې او رژېدو په اړه هیلمن وي . که غمیزې هرڅومره ګڼې اوستا مخې ته یې تیارې جوړې کړې وي، نو له زغم څخه کارواخله، په رېښتیا چې له زغم سره مرسته، له غمیزې سره خلاصون او له هرې سختۍ سره اسانې تړل شوې ده . ما د ډېرو هغو سترو نومیالیو کارنامې لوستلې، چې په دې دنیا کې تېر شوي، زه د هغوی د ستر صبر او زغم زور ته حیران یم، ستونزو او غمیزو ته به یې سرونه داسې کلک نیولي وو، لکه څوک چې د یخو اوبو څاڅکو ته سرتیټ نیسي، هغوی به د غرونو په څېر ثابت قدمي ولاړ وو او د حق په څېر به یې د پېښو مقابله کوله، څو ورځې به لا تېرې نه وې، چې مخونه به یې د خلاصون د سباوون په راتګ، د بریالیتوب او مرستې په خوښیو روښانه اوځلانده شول، دوی به یوازې په زغم اکتفا ـ بسنه ـ نه کوله، بلکې د ستونزو او غمیزو پرضد به د سیالۍ له پاره ډګر ته هم راوتل او د سختیو په وړاندې به یې مقابله کوله .

***

## ګرده ځمکه پر سر مه باروه

ځینې داسې کسان شته چې د خوب پر بستره پراته وي، په ذهنونو کې یې نړېواله جګړه پېل شي، چې جګړه پای ته ورسېږي، نوهغوی ته په غنیمت ـ ګټه ـکې د معدې زخم، د وینې فشار او شکرـ خوږې ـ ناروغي ورپه برخه شي، دوی د پېښو له امله سوزي، د نرخونو له لوړوالي څخه سر ټکوي، د بارانونو د

وروسته والي له امله له قهره ښکته پورته کيږي، د پيسو په نرخ کې د ټيټوالي او د قهر د زور له امله خوځيږي، لنډه دا چې تل خفه او پرېشانه وي . ﴿ هرلوړغږ د ځان په ضد ګڼي ﴾. المنافقون۶۳:۴

نو تاته زما پند دا دی، چې ته ګرده ځمکه پر خپل سر مه باروه، پېښې پر ځمکه پرېږده او په خپلو کولموکې هم ځای مه ورکوه، ځينې خلك خو د داسې زړونو خاوندان وي لکه اسفنج، چې د دروغو غږ او ډنډورې ډېرې ښې زغمي، د بې ارزښته کارونو له امله ځوريږي، وړو خبرو ته رپيږي، هرشي ته نارامه وي، دا ډول زړه په خپله د دې خبرې ضامن دی، چې خپل خاوند به يوه ورځ ماتوي او د وجود بنسټ به يې له بېخه نړوي . حقيالونکي خلک دا ډول پېښې د ځان له پاره لاربنوونه، پند او د خپل ايمان د زور او ټينګښت لامل ګڼي، هغوی چې کمزوري او له مقاومت څخه ناتوانه دي، د وړو پېښو له امله د هغوی وېره لا پسې ډېريږي خو د سختو او بدو پېښوپه وړاندې غوره او اغېزمنه وسيله زړور زړه وي، ځکه چې زړه ور اومېړنی کس د پراخ فکر، پوخ يقين، سړو اعصابو او پراخې سينې څښتن وي، خو ډارن انسان هره ورځ ځوځله دهيلو، لاپو شاپو، ډنډورو او د خيالونو او خوبونو په توره خپل ځان وژني، که ته غواړې چې ډاډمن ژوند وکړې، نو د ستونزو او کړاوونو په مخ کې په زړورتيا او مېړانه ودرېږه، بې ايمانه کسان دې په دې برخه کې ونه ښويوي اود هغوی له چل او ول څخه هم مه تنګيږه . ته د پېښو پر تله ډېر کلك اوسه، د پېښوو او ستونزو له بادونو څخه ډېر سخت او له تودو بادونو څخه خورا زورور اوسه، نو ای رحمته! د دغو کمزورو زړونو خاوندانو ته راورسېږه ! د وختونوستونزې دوی څومره ځوروي ﴿ هرومربه تاته څرګنده شي چې اهل کتاب په ژوند باندې خورا حريص دي﴾. البقره ۲:۹۶

خو د توريالیو خلکو سترګې د الله تعالٰی د مرستې په لور وي او د هغه په ژمنه باور لري . ﴿ پس الله پرې خپل ډاډ راولېږه﴾. الفتح ۴۸:۱۸

***

## بې ارزښته شيان بايد ستا هوډ مات نه کړي

ډېر داسې غمجن کسان شته، چې دهغوی دغم سبب يو بې ارزښته، سپک او بې اهميته شی وي، چې د يادونې وړ هم نه وي، ته منافقينو- دوه مخوو- ته وګوره، هغوی څومره د ټيټو اولوېدلو همتونو خاوندان دي، څومره د

سړو حوصلو څښتنان دي، الله (ﷻ) د هغوی وینا په قرآن پاک کې رانقلوي: ﴿ په گرمۍ کې مه وځئ ﴾. التوبه ۹:۸۱ ﴿ماته اجازه وکړه او په فتنه کې مې مه اچوه ﴾ التوبه ۹:۴۹ ﴿ زموږ کورونه خالي- بېځوکه- دي﴾.الاحزاب ۳۳:۱۳ ﴿ له موږ سره وېره ده، چې د زماني له کومې غمجنې پېښې سره به مخ شو﴾. المآئده ۵:۵۲ ﴿ الله او د هغه رسول چې کومه ژمنه له موږ سره کړې وه، یوه تېرویستنه وه ﴾.الاحزاب ۳۳ :۱۲

حیرانتیاده د دغو پوزورو خلکو تاوان ته او تعجب دی د دغه ډول نفسونو هلاکت ته! د دغو خلکو ټول فکر گېډه، اسونه، کورونه او ماڼۍ دي . هغوی خپلې سترگې کله هم د واقیعتونو اسمان ته نه دي پورته کړي او نه یې هم د فضیلیت ستورو ته کتلي دي . د دوی د هر یو فکر او د پوهې ورستی کرښه، د دوی سورلي، څپلۍ، جامې او خواړه دي، همدا رنگه که ته د خلکو یوه ستره برخه وگورې، نو د هغوی د گېډې اومابښام د غم لامل له مېرمنې، زوی یا له بل خپلوان سره شخړه وي، یا به یې غوږونو ته بده خبره رسېدلې او یا خو به په کوم بې ارزښته ځای کې گیر شوی وي، پورتنۍ ستونزې د اوسني بشر غمیزي دي . دوی داسې لوړ او ژور اهداف ـ موخې ـ نه لري، چې پرې بوخت شي، اونه ورسره داسې لوړ او د پام وړ کارونه شته، چې وخت پرې تېر کړي . پخوانیو ویلي، کله چې له لوښي څخه اوبه توی شي، هغه بیا له هوا څخه ډك شي، نو اوس ته له ځان سره فکر وکړه ایا دغه کار، چې ستا پام پرې بوخت دی او له امله یې ته پریشانه یې د دومره زیار او پاملرنې وړ دی او که نه ؟ دا ځکه چې تا دغه کار ته له خپل عقل، غوښې، وینې، هوسایني او وخت څخه ډېرڅه ورکړي، چې دا په حقیقت کې یو تاواني تړون او ستر زیان دی .

ارواح پوهان وایي : هر شي ته یو معقول او مناسب حد وټاکه او د دوی له وینا څخه د الله تعالٰی وینا ډېره ریښتونې ده، چې وایي : ﴿ الله هرڅه ته یوه ځانگړې اندازه ټاکلې ده ﴾. الطلاق ۶۵:۳

نو هرې خبرې او قضیې ته د هغې د وزن او پېږوالی په اندازه نرخ ورکړه، پام کوه چې تېری ونه کړې او له حد څخه پښه وانه ړوې، د ونې لاندې په ـ بیعة الرضوان ـ کې اصحاب د وفا په هکله ډېرځیر وو، نو د الله (ﷻ) خوښې یې په برخه شوه، خویو بل نفر چې دوي سره تللی و د هغه فکر او پام د خپل اوښ لوري ته گرځېدلی و، د خپل ورک اوښ په لټه کې بوخت و، چې له همدې امله له بیعت کولو څخه بې برخې شو او پایله یې د الله تعالٰی له خوښې څخه بې برخېتوب او په قهرککړ شو . ته بېهوده او بې ارزښته شیان وغورځوه، ځان

پرې مه بوختوه، نو وبه ګورې چې ستا ډېرې پرېشانۍ به له تا څخه ورکې او بېرته به خوښ او نېکمرغه شې .

***

## د الله په وېش خوښ شه چې شتمن شې

د پورتني سرلیک ځینې معناګانې مخکې تېرې شوې، غواړم دلته یې ښه وڅېړم، چې موضوع ښه روښانه شي اوهغه دا چې، دجسم، مال، اولاد، استوګنځي اوذهني وړتیاوو په درکړل شوې برخه باندې خوښ اوسه، الله(ﷻ) وایي ﴿څه چې مې درکړي دي هغه واخله اوله شکرکوونکوڅخه اوسه﴾. الاعراف۷:۱٤٤

که موږ د اسلامي اُمت تاریخ ته زیرشو، نو ډېر پخواني دینپوهان اوهمدا رنګه د دې اُمت د لومړۍ پېړۍ مسلمانان شتمن خلک نه وو، نه یې مرستې ترلاسه کولې او نه یې ښکلې ودانۍ لرلې، نه یې سورلۍ او نوکران لرل، خو له دې سره سره هغوی خپل ژوند قیمتي ګڼلو، پرخپلوځانونوسربېره یې نور انسانیت ته هم نېکمرغي وربخښله، ځکه چې هغوی ته الله تعالٰی څه ور په برخه کړي وو، هغه ټول یې په سمه لاره کې ولګول، له همدې امله د هغوی په عمرونو، وختونو او الٰهي ورکړو۔ ذهني قابلیتونو۔ کې برکت اچول شوی و، خو د دغه سپېڅلې ټولې په مقابل کې یوبل ټولی هم و، چې هغوی ته په پوره کچه مال اولاد او نورې پېرزوینې ورپه برخه شوې وې، خو له بده مرغه هغه ټول شیان د هغوی د تباهۍ او بدبختۍ لامل وګرځېدل، ځکه چې هغوی له سم جوړښت او رېښتیني لارې څخه کاږه شوي وو، نو پورتنۍ یادونه څرګند دلیل دی، چې د دنیا شیان هرڅه نه دي، یعنې ماده د معنا ځای نشي نیولای، د بېلګې په ډول ته دهغه چاپه اړه فکر وکړه، چې هغوی د زده کړې په ډګر کې نړیوال منل شوي بریلیکونه لاس ته راوړي، خود سویې، علمي ورکړې، اغېز او پوهې له پلوه به هغه له نا اشنا نښنوڅخه یوه ناپېژندل شوې نښنه وي، حال دا چې ځینې نور داسې کسان شته، چې محدوده ـ د کړښنو په منځ کې ـ زده کړه او پوهه لري، خو هغوی له خپلې لږې پوهې څخه د جوړونې، ګټې رسونې او رغونې په برخه کې د بهاندې ویالې په څېر کار اخیستی دی . که د ځان له پاره نېکمرغي غواړې، نو تاته په کار دي چې په هغه جوړښت او شکل راضي او خوښ اوسې، کوم چې الله تعالٰی په لومړي ځل بند په بند جوړکړی یې، د کورنۍ په روان حالت، په خپل غږ، د پوهې په اندازه او پخپلې مالي لاسته راوړنې باندې باید خوښ اوسې، ځینې

ارواح پوهان خو لا تر دې هم پسې وړاندې ځي او وايي، کوم شيان چې له تاسره شته له هغه څخه هم په کم شي باندې خوښ اوسه، اوپه کوم حالت کې چې پروت يې له هغه څخه په ټيټه کچه او يا د نشت په څېرهم خوښ شه، دلته د هغو خلکو د نومونو اوږده لړۍ پرته ده، چې د دنيا له پېرزوونوڅخه بې برخې شوي، خو بيا هم دهغوی يو ځلانده تاريخ ځليږي د بېلګې په توګه :

"عطاء بن رباح " چې په خپل وخت کې نړيوال عالم ګڼل کېده، په داسې حال کې چې هغه يو شل، د پيتې پوزې، ګونجې وېښتانو خاوند او يو ازاد شوی مريی و ." احنف بن قيس " په خوار ځان، کږوپه ملا اوکمزوري اندام، په عربانو کې ستر مصلح او زغموونکي شخص ګڼل کيږي . " اعمش " يو ازاد شوی غلام، سترګې يې کمزورې، نېستمن، د شکېدلو جامو او زوړ کور څښتن و،خو د نبوي احاديثو په برخه کې د ټولې نړۍ په کچه يولوی عالم شمېرل کېده.

پر دې سربېره د الله تعالیٰ د پيغمبرانو(عليهم السلام) په اړه ښکاره خبره ده، چې هغوی هر يو رمه څرولې ده . له ډلې څخه يې داوود (عليه السلام) ټټار، زکريا(عليه السلام) نجار او ادريس (عليه السلام) درزي و، په داسې حال کې چې هغوی د بشريت غوره خلك وو . له دې څرګنديږي، چې ستا ارزښت هم په خپله ستا ذهني قابليت، نېك کار، ګټه رسونې اوخويونو سره تړاو لري، نو پر همدې بنسټ ته هم بايد په ښکلا، مال، اولاد او نورو دنيوي موخوپسې، چې له لاسه دې وتلي ورغوي ونه مروړې . ته بايد د الله په وېش خوښ اوسې، الله (جل جلاله) وايي ﴿ د دوی په منځ کې موږ د دنيا د ژوند وسايل برخه کړي دي ﴾. الزخرف ۴۳:۳۲

***

## د ځمکو اواسمانونوپه کچه پلن جنت درپه زړه کړه

که په دنيا کې وږی يا نېستمن شې، ناروغي اوغم درپېښ شي، له خپل حق څخه په زور بې برخې شوې او يا درباندې تېری وشو، نو په دغه وخت کې خپل نفس ته نعمتونه وريادکړه، که ته بېشکه دا يقين- باور- ولرې او پر دې لار روان شوې، نو په حقيقت کې تا خپل تاوانونه په ګټو اوغميزې په خوښيو بدلې کړې . تر ټولو هوښيارخلك هغه دي، چې د خپل آخرت له پاره کارکوي، ځکه چې آخرت غوره او تلپاتې ځای دی، خو احمق خلک هغه دي، چې دنيا خپل تمځای، کور او د هيلو د پوره کېدو وروستنی پاټکی ګڼي، دا ډول خلك د غميزو او

ستونزو د پېښېدو پرمهال تر ټولو ډېرآهونه او فريادونه کوي، پښېماني ځرګندوي، ځکه چې دوی له خپل سپك او بې ارزښته ژوند پرته نورڅه نه ويني، له دنيايي ژوند پرته نه کوم فکرلري اونه هغه ته کار کوي، دوی دا هم نه غواړي چې خوښي يي ګردجنه او خړه پړه شي، که دوی له خپلو زړونو څخه د ګناه زنګينه او له سترګوڅخه د ناپوهۍ پرده پورته کړې وای، نو هرومرو به يې خپلو زړونو ته د جنت او د هغه د نعمتونو، کورونو او ماڼيو خبرې کړې وای، او هرو مرو به يې د الله(ﷻ) سپېڅلي قرآن او نبوي احاديثو ته په غور او عاجزۍ سره غوږ نيولی وی، چې د جنت ستاينه په کې شوې ده .پر الله تعالی قسم، جنت يو داسې کور دی، چې د خورا پاملرنې، هڅې او ځان ځورونی وړ دی . ايا موږ کله هم د جنتيانو په اړه ژور فکر کړی دی ؟ بېشکه چې هغوی ته به ناروغي، خفګان او مرګ نه راځي، ځواني به يې تلپاتې وي، جامې به يې نه زړيږي، په داسې کوټو کې به وي، چې د باندې برخه به يې له دننه او دننه برخه به يې له بيديا څخه ښکاري، په جنت کې به د جنتيانو له پاره داسې نعمتونه وي، چې هغه تر اوسه نه سترګو ليدلي، نه غوږونو اورېدلي او نه د انسان د زړه په خيال او خاطرکې ګرځېدلي دي . پر سپرلۍ سپور کس به يې له يوی ونې لاندې سل کاله مزل کوي، خودهغې ونې سيوری به پای ته نه رسيږي . د يوې خېمې اوږدوالی به يی شپېته ميله وي، وياله او چېنې به په کی بهيږي، دنګې دنګې ماڼۍ به يې وي، مېوې به يې نژدې نژدې وي او شکول به يې هم اسانه وي، پالنګونه او تختو نه به يې اوچت وي، مخې ته به يې پيالې اوجامونه اېښودل شوي وي، په ليکه برابر بالښتونه به ورته تيار وي، قيمتي فرشونه به په کې غوړېدلي وی، خوشحالي به يې بشپړه شوې وي، په ښکلو او زړه راښکونکو بويونو به يې فضا معطره وي، ستاينه يی لويه ده او جنت د ټولو اميدونو وروستنی ټکی او پای دی، نـو زموږ عقلونه چېرته دي، چې په دې اړه غور نه کوي؟ چې وروستنی د ورتګ ځای زموږ دغه کور وي، بيا خو دې د غمځپلو غميزې اسانه، د دردمنو سترګې يخې او د غريبانو زړونه دې خوښ شي . نو، ای هغو خلکو! چې د فقر او ولږې تکليفونو ربړولي او په ډول ډول غميزو کې اخته ياست، راشئ ښې کړنې ترسره کړئ، چې د الله تعالی جنت او د هغه ګاونډيتوب درپه برخه شي. ﴿د صبرپه بدل کې درته تلپاتي سلامتيا ده، هو دا له هرڅه نه غوره کوردی ﴾ الرّعد ٢٤:١٣

***

## تاسوموبمنځلارى اُمت ګرځولى ياست

عدالت يوه شرعي او عقلي غوښتنه ده، په دين کي افراط ـ زياتى ـ او تفريط ـ کمى ـ نشته، يعنې نه له حد څخه تېرېدل او نه ورڅخه پاتي کېدل شته. که څوك غواړي نېکمرغه اوسي، بايد خپلې ولولې او نفسي غوښتنې قابوکړي، په خپلې خوښۍ، قهر، خوشحالى اوخفګان ټولو کې عادل اوسي، ځکه چې له حق څخه وړاندېوالى، له پېښوسره په دارمدار يا غبرګون کې زياتى کول له نفس سره ښکاره تېرى دى، خو اعتدال ـ منځلاريتوب ـ څومره غوره اوښه کاردى! شريعت له تلې سره يو ځاى را ښکته شوى او د ژوند بنسټ پر حق او انصاف ولاړ دى . ترټولوستومانه هغه څوک وي، چې د خپل نفس غوښتنوته تسليم ـ سرټيټى- شي، چې له همدې امله بيا پېښې ورته غټې برېښي، کونجونه ورته تياره ښکاري او په زړه کې يې د کيني، کرکې او د ښمنيوسختې جګړې راولاړې شي، ځکه چې هغوى د خيالونو د انديښنو په نړى کې ژوند کوي، ان ځينې خو يې لا دا خيال هم لري، چې ټول خلك د ده پرخلاف ، او ځينې نور خلک د ده د تباهۍ له پاره لارې جوړوي، له وسوسو داسې وېرسېږي، چې ګواکې ټولوخلکو ورته کمين نيولى دى، نو ځکه دغه انسان د وېرى، غم او انديښنې په تورو وريځو کې ژوند تېروي . د فتنې په خبرو پسې ژوره پلټنه يا د ډنډورو خپرول د اسلام په ليد لوري کې يوه ناروا کړنه ده او په انساني مزاج کې هم ورته سپك کتل کيږي . دا ډول کارونه يواځې هغه خلك په بار بار کوي، چې هغوى له ښو اخلاقو څخه بې برخې او له الٰهي لارښوونو څخه بېلارې شوي وي . الله(ﷻ) وايي : ﴿هرلوړغږ دځان پرخلاف ګڼي﴾. المنافقون ۶۳:۵

خپل زړه دې پرځوکۍ کښېنوه ـ قرار يې کړه ـ نو تاته به څرګنده شي، له ډېرو هغه شيانو، چې تا وېره درلوده رېښتيا نه وو او ته دا هم کولاى شې، د هغه څه په اړه چې ته يې له پېښېدو څخه په وېره کې وى مخکې له مخکې يې د پېښېدو اټکل وکړې اوځان ورته د زغم له پاره چمتوکړې، نو له دې سره به ته له هغو ظالمانه او دروغجنو اټکلونوڅخه وژغورل شې، چې د ستونزې له پېښېدو وړاندې دې زړه څيروي . نو اى د پوهې او عقل خاونده! هر شى د خپل وزن په کچه وتله، پېښې، ستونزې او مسائل مه پرسوه، له منځلاريتوب او برابرى څخه کار واخله او تېرى ونه کړې ! له بېځايه انديښنو او غولوونکي سراب سره مه روانېږه . ( په اوړي کې د دښتې او يا سرک پر سر چې ګرمي د وروړکو په څېرښکاري او کتونکي ته د اوبو په څېر ښکاري، خوپه حقيقت کې هېڅ شى هم نه وي، سراب بلل کيږي ) ژباړن .

د کرکې او مينې په اړه دې اثرته غوږ شه : (( له دوست سره دې په مينه کې له منځلاريتوب څخه کار واخله ځکه چې کېدای شي يوه ورځ هغه ستا دښمن شي او له خپل دښمن سره په کرکه کې هم له منځلاريتوب څخه کار واخله، ځکه چې کېدای شي يوه ورځ هغه ستا دوست شي )). الله (ﷻ) وايي : ﴿ کېدای شي چې الله پاك ستاسو اود هغه قوم په منځ کې مينه پيداکړي، چې تاسو ورسره دښمني لرله الله زورور، بخښونکي او مهربان دی ﴾. الممتحنه ۷:۶۰

نو ښېشکه چې خورا ډاروونکي زيري او ډنډورې بې بنسټه وي .

***

## خواشيني شرعي غوښتنه اوبنسټيزه موخه نه ده

### په لاندينيوايتونوکې د خفګان کولو څخه الله تعالٰی مخنيوی کوي !

﴿ تاسو سست اوغمجن نه شئ ﴾. آل عمران ۱۳۹:۳ ﴿ اوته دوی ته مه خفه کېږه ﴾. النحل۱۵:۱۲۷ ﴿ مه خفه کېږه ! الله له موږسره دی ﴾. التوبه ۹:۴۰

له خفګان څخه ځان ژغورنه بنسټيزه موخه ده، الله (ﷻ) وايي: ﴿ خبر اوسئ چې د الله پردوستانو به نه څه وېره وي او نه به هغوی غمجن وي ﴾. يونس ۱۰:۶۲

نو خفګان د غوښتنې د انکار مړه کول، د همت او روح وژل، د نفس سوړوالی او يوه داسې تبه ده، چې ژوندی جسم له پښنوڅخه غورځوي او په دې کې دا راز دی، چې خفګان په حقيقت کې په ښنو کې زولنې اچوي، پرمختګ او خوځښت ته لار نه ورکوي او د شيطان غوښتنه دا ده چې بنده خفه کړي، ترڅو يې له حرکت څخه ايسارکړي . الله (ﷻ) وايي: ﴿ خبره دا ده چې له پيغمبرڅخه د سرغړونې په اړه پټې خبرې کول د شيطان لمسون دی او دا په دې خاطر چې د ايمان خاوندان خفه کړي ﴾. المجادله ۵۸:۱۰

پيغمبر (ﷺ) د درېو کسانوټولګي ته دا لارښوونه کوي، چې (( د درېيم کس په نشتوالي کې دی دوه کسان خپل منځ کې پټې پټې خبرې نه کوي، ځکه چې هغه درېيم کس په دغه کار خفه کيږي)).

د مؤمن خفګان نه غوښتل شوی اونه ښه ګڼل شوی دی، ځکه دا يوه داسې کړنه ده چې نفس پرې غمجنيږي، او مسلمان په دې مکلف دی چې له خپل

نفس څخه خفګان وشړي، سر ورته ټيټ نه کړي او په شرعي لارو چارو يې مخنيوی وکړي، پښې ورته ټينګي کړي او په لېنګته يې راڅملوي، لنډه دا چې خفګان نه هدف دی، نه غوښتنه او نه ګټور کار . بېشکه چې زموږ پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ورڅخه پناه غوښتې ده : (( ای الله ! بېشکه زه له اندېښنې اوخفګان څخه پناه دروړم )).

څرګنده شوه چې خفګان د اندېښنې اندول دی او د دغو دواړو- اندېښنې اوخفګان - ترمنځ توپير دا دی، کوم درد چې زړه ته د تېرو کړاوونو له امله رسيږي هغه ته غم وايي اوکوم درد، چې د راتلونکو پېښو له امله زړه ته ورپېښيږي هغه اندېښنه ده، چې دواړه هوډ سستوي او زړه ماتوي . سربېره پر دې خفګان د ژوندانه د خړپړ تيا لامل هم ګرځي، د روح له پاره يوه زهرجنه ماده ده، چې د روح د سستی، ستومانی او اندېښنې لامل هم ګرځي، د ژوند ښکلا مړاوې کوي او رژوي، مخ يې توروي، چې په پای کې نفس د بدمرغی، ژور غم او دردونو جامونه څکي، خو خفګان ته د واقعيت له کونجه کتل په کار دي، هرو مرو بايد دا ومنل شي، چې کله کله به خفګان را پېښيږي، نو له همدې امله به جنتيان جنت ته د ننوتلو پرمهال وايي : ﴿ ثنا اوصفت دی هغه ذات لره، چې له موږ څخه يې غم لرې کړ﴾. فاطر۳۵:۳۴

دا د دې خبرې څرګند ثبوت دی، چې هغوی ته په دنيا کې لکه د نورو غميزو په څېر، د هغوی له خوښې پرته خفګان هم پېښېده، کله چې خفګان په داسې حال کې پېښ شي، چې په راتګ کې يې د انسان هېڅ لاس نه وي، نو په دغه ډول حالت کې انسان ته له الله تعالی په وړاندې ښه بدله شته، ځکه چې خفګان هم يو ډول غميزه ده، بنده ته په کار دي په سنتو، شرعي دعاګانو اولارو چارو يې مخنيوی وکړي . الله (ﷻ) وايي : ﴿ هغوخلکو ته څه ګناه نشته، چې له تا څخه يې د سورلۍ پيدا کولوغوښتنه وکړه او تا ورته ځواب ورکړ، چې له ماسره څه نشته چې تاسو پرې سواره ولېږم، په داسې حال کې چې له سترګو څخه يې اوښکي روانې وې او خوراغمجن وو، چې ولې يې د لارې خرڅ ونه مونده ﴾.التوبه ۹:۹۲

نو دا خلک د خفګان له امله نه دي ستايل شوي، بلکې دا ډله د خپل ټينګ ايمان له کبله ستايل شوې او هغوي هغه ځوک وو، چې د مالي ستونزو او د لارې د خرڅ د نه لرلو له امله له پيغمبر(ﷺ) سره په غزا کې د برخې د نه اخېستلوله امله يې سخت خفګان څرګند کړ، دلته پرمنافقينو- دوه مخو- يو ډول نيوکه هم ده، چې له غزا څخه په پاتې کېدو يې هېڅ خفګان هم څرګند نه کړ،

بلکې هغوی په دې اړه خوښي وښوده . که له پېښنو وروسته کله خفګان پيدا کېږي، نوهغه به داسې وي چې د يوه ښه کار د نه کولو يا د يوه بد کار او ګناه کولو له امله به وي، د بنده خفګان که له دې امله وي، چې د خپل رب په حق کې يې نيمګړتياکړې وي، نو معنا يې دا ده چې دغه کس د الله تعالیٰ نېغه لار موندلې او هغه يې د زړه له کومې منلې ده . د رسول الله (ﷺ) په صحيح حديث کې دا وينا ده چې وايي : (( يو مؤمن بنده ته هېڅ ډول اندېښنه، سختي او غم نه وررسيږي، بلکې د هغې ستونزې په واسطه الله (ﷻ) ورڅخه ګناهونه رژوي )).

نو دا په دې دلالت کوي چې خفګان کول په حقيقت کې د هغوغميزو له لړيوڅخه دی، چې الله (ﷻ) يې بنده ته وررسوي او په پای کې بيا د بنده ګناهونه پرې رژوي، خو دا په دې دلالت نه کوي، چې ګواکې خفګان کول يو داسې مقام دی، چې غوښتل او ترلاسه کول يې په کار دي، بلکې بنده ته نه دي په کار چې خفګان خپل مېلمه کړي، يا دا ګومان ولري چې دا يو نېك کار دی او الله (ﷻ) ورته خلک رابللي يا يې پرې امرکړی، يا دا چې د خفګان په هکله يې خوښي ښودلې او بنده ګانوته يې روا کړی دی . که دا کار سم وی، نوبيا خو به رسول الله (صلی الله عليه وسلم) خپل ټول عمر په خفګان، پرېشانۍ او اندېښنو کې تېر کړی وی، په داسې حال کې چې د هغه سينه به پراخه وه، مخ مبارك به يې د موسکا له امله ځلانده و، زړ به يې راضي او خوښۍ به يې يو له بل سره نښلولې، او د '' هند بن ابي هاله ''څخه په رانقل شوي حديث کې، چې د رسول الله (ﷺ) حال يې همېشه غمجن بيان کړی، محدّثين ـ حديثپوهان ـ دا قول سم نه ګڼي، ځکه چې د حديث په راويانو کې يو تن داسې هم شته، چې حديثپوهان يې نه پېژني، بله دا چې همېشه غم د (ﷺ) د ژوندانه د حالت او کړنوخلاف خبره هم ده . څرنګه شونې ده، چې هغه تل خفګان کوونکی وبولو، په داسې حال کې چې الله (ﷻ) هغه په دنيا او دنيوي اسبابو له خفګان کولو ژغورلی و، د کافرانو په بدې پايلې يې له خفګان کولو ايسار کړی او الله (ﷻ) هم ورته مخکينۍ او وروستنۍ ټولې کړنې بخښلې دي ؟ نو، له کومه ځايه به هغه ته خفګان ورسيږي او زړه ته به يې څرنګه ورننوځي، حال دا چې د الله (ﷻ) په ذکر سره يې زړه ودان شوی، په دين باندې ټينګ شوی، په الٰهي لارښوونو خړوب شوی، د الله (ﷻ) په ژمنو باوري او په پرېکړو او کړنو يې خوښ و، بلکې سمه خبره دا ده، چې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) مخ مبارك به تل د خوښۍ له امله ځلانده، خوله به يې له موسکا نه ډکه وه . د محمد (ﷺ) په صفت کې ويل شوي، چې هغه د ښې خندا څښتن و، څوک چې د پيغمبر(ﷺ) په کړنو کې په بشپړه توګه ننوتی وي، د ژوند په ژورو برخو کې يې کره کتنه کړې وي، رڼې ورځې يې کتلې وي، نودا به ورته ښکاره شي،

چې محمد (ﷺ) په حقیقت کې د باطل د سوزولو، د دنیا د غمونو، پرېشانیو، خفګانونو او اندېښنو د پای ته رسولو په موخه رالیږل شوی و، چې نفسونه له شکونو، شرك، هلاکت، حیرانتیا او وړاندې او وروسته کېدو یا دوه مخۍ څخه وژغوري . د الله په خاطر! هغه له بشریت سره څومره ښېګڼې او احسانونه کړي دي؟ د خفګان په اړه بل نقل شوی حدیث وایي : (( بېشکه الله تعالی هرغمجن زړه خوښوي)). په دې اړه باید ووایو چې د دې خبرې نه اسناد روښانه دي، نه یې راوي پېژندل شوی او نه د دې حدیث روغتیا څرګنده ده، څرنګه به دا سم وګڼل شي، چې اسلامي امت او دین دواړه له دې نظریې سره جوړ نه دي، که موږ دا ومنو هم چې دا صحیح حدیث دی، نو معنا به یې دا وي، چې خفګان د غمیزو له لړۍ څخه یوه غمیزه ده، چې الله تعالی پرې خپل ځینې نېك بنده ګان اخته کوي، که کوم بنده پرې اخته شو او صبر یې وکړ، نو حتما به الله (ﷻ) ورڅخه د دې صبر له امله خوشحالیږي، او کوموکسانو چې د خفګان ستاینه کړې، دا یې په شریعت کې یو غوره کار بللی یا داسې انګېرې، چې ګواکې شریعت په دې باندې امرکوي، نو دوی په دې اړه تېروتلي دي، ځکه چې په شریعت کې خو له خفګان څخه د مخنیوي غوښتنه شوی اوپه نه کولو یې تېنګار شوی دی، انسان باید د الله (ﷻ) په رحمت او پېرزوینو، د الله (ﷻ) له خوا د حق دین په را استولو، د الله (ﷻ) له خوا د دین پلو ته په لارښوونه او پرهغه برکتناکه خبر باندې چې له اسمان څخه د الله دوستانو ته راځي خوښي ښکاره کړي .

په دې اړه دا بل اثر، چې وایي : کله چې د الله (ﷻ) کوم بنده خوښ شي، نو د هغه په زړه کې یو ویرکوونکی ودروي، یعنې پرخپله ګناه باندې ویر او اندوه کوي او کله چې کوم بنده بد وګڼي، نوپه زړه کې یې یوسورنی پیدا کړي، چې دا یو اسرائیلي اثردی . ویل شوي چې دا خبره په تورات کې شته اوسمه معنا لري، چې هرمؤمن په خپلوګناهونو خفه او پرېشانه وي، خو بدکاره انسان د ګناهونو له پایلو څخه ناخبره او په دنیایي مزو کې مست او خوشحاله وي، او کله که د ښوبنده ګانو په زړونو کې کومه پرېشاني پیداکیږي، نو دا پرېشاني په حقیقت کې د نېکو کارونو د لاسه تلو له امله او یا له دې امله وي، چې په ښو کارونو کې ولې لوړ مقام ته نه دی رسېدلی او یا ورڅخه بد کار ولې شوی دی، خو د سرکښوخفګان یواځې د دنیوي ښېګڼو، مزو چړچو، کسبونو اوسامانونو د له منځه تلو له کبله وي، نو د دوی ټوله اندېښنه، غم او پرېشاني یواځې د دنیا اود هغې په لاره کې وي، د یقعوب (علیه السلام) په اړه د الله تعالی وینا ده : ﴿ له غمه یې د سترګوتورسپین شو اوغم خوړونکی و ﴾. یوسف ۱۲:۸۴

نوهغه په حقيقت کې د هغه پيغمبر(عليه السلام) د غميزې يادونه ده، چې هغه يې ډېر وکړوه، يعنې د ګران زوی د ورکېدو غميزه او بله دا چې الله (ﷻ) په دې خفګان هغه داسې وازمايه، لکه څرنګه يې چې د زوی په بېلتون ازمايلی و. د يو شي په پېښېدو باندې يواځې خبرول د هغه شي په ښه والي، د هغه په اړه د کولو امر او يا د هڅونې دلالت نه کوي، بلکې موږ ته د الله تعالٰی له خوا امرشوی، چې موږ ورته له خفګان څخه پناه يوسو، ځکه چې خفګان يوه درنده وربځ ، تياره او اوږده شپه او د نېکانو د غوښتنو په لار کې سترخنډ دی .

د سلوك خاوندانو- صوفيانو- ټولو په دې د نظريووالی ښکاره کړی، چې د دنيا خفګان په غوڅ ډول کوم ستايل شوی کارنه دی، ځانته "ابوعثمان الجبري" په دې اند دی چې خفګان په هرمهال يوښه کاردی او د مؤمن له پاره د ايمان د ټينګښت لامل ګرځي، خو په دې شرط چې د ګناه سبب ونه ګرځي او وايي، چې که خفګان يو بنده په ځانګړوخلکو کې نه داخلوي، نود دې لامل کېږي چې هغه کس پاك کړي .

نو په ځواب کې بايد ورته ووېل شي په دې کې هېڅ شك نشته، چې خفګان د الله تعالٰی له اړخه د ناروغۍ اوغم په څېر يو ازمېښت دی او دا نظر چې ګواکې خفګان د حق د لارې يو منزل ـ دمه ځای ـ دی، نو دا بې بنسټه خبره ده . تاته په کاردي چې ځان ته له الله تعالٰی څخه خوښي، د سينې پراخي، پاکيزه او هوسا ژوند او د فکر او خيال روڼتيا وغواړې، ځکه چې دا ټول ښېړني نعمتونه دي او ځينو دينپوهانو ويلي، چې په دنيا کې هم يوجنت شته ، چې څوك د دنيا جنت ته داخل نه شو د آخرت جنت ته به هم داخل نه شي، نو موږ يواځې له الله (ﷻ) څخه داغوښتنه کوو، چې زموږ سينې د ايمان په رڼا، زړونه مو په سمه لار برابر او موږ له تنګ اوسخت ژوند څخه وژغوري .

***

## لنډه دمه

راځئ چې په ګډه دغه ريښتونې او ګرمه دعاء ووايو، ځکه چې دا د خفګان، اندېښنې او ستونزو د له منځه وړلو يوه نبوي نسخه ده :

(( پرته له الله (ﷻ) چې حليم ذات دی، بل څوك د عبادت وړ نشته، له الله پرته چې د لوی عرش څښتن دی بل څوك د عبادت وړ نشته، له الله پرته چې د

اسمانونو، ځمکې او د عرش څښتن او خورا عزتمند ذات دی بل څوك د عبادت وړ نشته، ای هغه ذاته، چې د بشپړ ژوند څښتن، سموونکی او نېغوونکی يې، له تا پرته بل څوك دعبادت وړ نشته، اوزه ستا د رحمت له لارې مرسته غواړم )).

(( ای الله زه يواځې ستا د رحمت هيله من يم، نو ته د سترګو د رپ په اندازه هم ما زما نفس ته مه سپاره او ټول کار راته راسم کړه، پرته له تا بل څوك د عبادت وړ نشته )) . (( له الله څخه بخښنه غواړم چې پرته له ده څخه بل څوك د عبادت وړ نشته، هغه تلپاتې ژوندی او کار جوړوونکی ذات دی، چې زه بېرته ورتګ لرم )).

﴿ له تا پرته بل څوك د عبادت وړ نشته، پاکي ده تا لره ، بېشکه زه په خپل ځان له تېري کوونکو له ډلې څخه وم﴾. الانبيآء ۲۱:۸۷

(( ای الله ! بېشکه زه ستا بنده يم، ستا د وينځې زوی يم، زما سر ستا په لاس کې دی، زما په اړه ستا حکم پلی کېدونکی دی، ستا پرېکړه زما په اړه په انصاف ولاړه ده، زه له تاڅخه ستا په هرهغه مبارك نوم، چې تاته ثابت يا پرې تا خپل ځان نومولی، يا دې په خپل غيبي علم کې د ځان له پاره غوره کړی، دا غوښتنه کوم چې ته قرآنکريم زما د زړه پسرلی، د سينې له پاره رڼا، د اندېښنې د له منځه وړلو لامل او د خفګان ختموونکی وګرځوې )) . (( ای الله! بېشکه زه تاته له اندېښنې، غم، ناتوانی، تنبلی، بخيلی، بې زړه توب، د پور له زور او د دښمنانو له برلاسی څخه پناه دروړم )) .

﴿ موږ ته الله کافي دی او هغه ښه کارجوړوونکی دی ﴾.آل عمران۳:۱۷۳

***

## موسکی شه او وخانده

ګوزاره حاله خندا د غمونو او پريشانيو په لرې کولو کې د زخمونو د پټۍ او مرهم ځای لري او د روح او زړه په خوشحالولوکې ځانګړی اغېزلري، يو قدرمن صحابي ابو الدّرداء (رضی الله عنه) وايي، زه کله له دې امله خاندم چې زړه مې سوکاله شي، او له ټولوخلکوڅخه قدرمن نبي (ﷺ) به هم کله کله خندل، ان تر دې چې د ژامنې غاښونه به يې راښکاره شول، چې دا ډول خندا په حقيقت کې د هوښيارانو، ارواپوهانو او د پاخه ليد لرونکوخندا ده . خندا د سوکالۍ او د مزاج د ښه ساتلو يوه ستره چاره ده، خو په دې شرط چې د اسراف اندازې ته

ونه رسيږي. (( ډېره خندا مه کوه، ځکه چې زياته خندا زړه وژني )).

نو برابره او منځحاله خندا په کار ده، نبوي وينا ده چې : (( مسلمان ته چې موسکی شې، نو دا هم يوه صدقه ده )) .

او الله تعالىٰ د سليمان (عليه السلام) حال دارنگه بيانوي : ﴿ سليمان د مېږي خبرې ته موسکی شو﴾. النمل۲۷ : ۱۹

د روا خندا له پاره بل شرط دا دی چې د نورو د سپکاوي له پاره نه وي، د موسىٰ (عليه السلام) په باره کې الله (ﷻ) وايي ﴿ کله چې له دلايلو او پوره نښو سره خپل قوم ته ورغی، نوخپل قوم ورباندې وخندل ﴾. الزّخرف ۴۳:۴۷

جنتيانو ته په نعمتونوکې د خندا نعمت هم ورپه برخه شوی دی، په دې اړه الله (ﷻ) وايي چې ﴿ نن - د قيامت - په ورځ به مسلمانان په کافرانوباندې خاندي ﴾. المطففين:۸۳:۳٤

د عربانو د ا دود و، چې هغوی به دهغه چا ستاينه کوله، چې له نورو سره به د مخامخېدو پرمهال موسکی کېده، دومره به يې خندل، چې ايله به يې غاښونه وليدل شول او دا به يې د هغه د سخاوت، د سينې د پراختيا او د ښو اخلاقو نښه بلله .

يو شاعر وايي : هغه د ښه طبيعت څښتن دی، هر وخت موسکی وي، له نورو سره د مرستو او ورکړو له امله موسکی شي او کله چې ورځخه د مرستې غوښتنه وشي، نو خوښ شي . بل شاعر" زهير " د هرم په ستاينه کې وايي : ته چې کله د څه غوښتنې په هيله هغه ته ورشې، نو وبه وگورې چې د خوښۍ له امله يې مخ ځليږي او تاته به داسې برېښي، چې گواکې ته ورسره هغه مرسته کوې، چې ته يې ورځخه غواړې . دا يو ځرگند حقيقت دی چې اسلام په خپلو بېلابېلو برخو، لکه، عقيده، عبادت، اخلاق، سلوك او ټولو معاملاتوکې پرعدالت او انصاف ولاړ دين دی، نه تل ډاروونکې، تروه اوتوره ټنډه خوښوي او نه بېځايه قهقه - له اندازې څخه زياته خندا - رواگڼي، بلکې د دواړو په منځ کې د ټينگښت، درنښت او باورځخه په برخمن سوکاله روح باندې ټينگارکوي .

شاعر" ابو تمام " وايي : زه دې له " ابوعلي " څخه ځارشم ، هغه خو د هرهيله من انسان له پاره د سباون رڼا ده، او دا د هغه چا له پاره چې د هغه په پېرزوينو کې فکر کوي د شپې ستوري دي، دی د ښه طبيعت خاوند دی،

خو کله سختي هم خوښوي، د هغه شخص ژوند به ډېر خوار او زار وي، چې ټوکې ټکالې نه کوي . تريو تندی، د نفس ملامتي او د فکر او مزاج د خړ پړتيا نښه ده، الله پاک وايي : ﴿ بيايې مخ تريواوتندی يي ګونجې کړ﴾. المدثر۷۴:۲۲

يو شاعروايي : دوی خپل مخونه د کبر له امله داسې ګونجې کړي، ته به وايې دوی په زور سره اور ته وړل کيږي، دوی هغو خلکو ته نه دي ورته، له چا سره چې ته مخامخ شې، نو داسې انګېرې چې دوی هغو ستورو غوندې دي، چې د شپې مسافر- لاروی - يی په رڼا کې لار لټوي . نبوي وينا ده : (( که ته له خپل مسلمان ورور سره په ورين تندي مخامخ شې نو دا هم صدقه ده )).

مصری ليکوال" احمد امين " په خپل کتاب " فيض الخاطر" کې وايي :
د ژوند ښکلا ته موسکا کوونکي اوخوشحاله خلك يواځې دا نه چې هغوي په خپله نېکمرغه او ښه ژوند لري، بلکې هغوی د دې جوګه هم دي، چې دغه ستره دنده پرغاړه واخلي، کار وکړي، ستونزې او سختئ وزغمي او داسې د پام وړ ستر کارونه سرته ورسوي، چې په خپله هغوي او نورو ته د ګټې لامل وګرځي . که ماته د ډېر مال او لوړې پوړۍ پرځای د خوښ او نکېمرغه نفس د غوره کولو واک راکړل شي، نو زه به هرو مرو دا دويم - خوښ نفس - غوره کړم، ځکه چې له تريو تندي سره به زيات مال او له تنګ زړه سره به منصب - لوړه پوړه - څوك څه کړې ؟ بلکې له دې هم وراخوا د دنيا ټولې ښېګڼې به څه ارزښت ولري، چې کله درسره روغيږ کوي، ګومان به کوې چې ګواکې همدا اوس د کوم نژدې دوست له جنازې څخه راستون شوی دی !؟

د هغې مېرمنې د ښايست به څه خوند وي، چې تندی يې تريوکړی او خپل کوريې په دوزخ بدل کړی وي !؟ له دغه ډول مېرمنې څخه هغه مېرمن زر ځله غوره ده، چې په ښايست کې هغې بلې غوندې نه وي، خو له خپل کورڅخه يې جنت جوړکړی وي . هو! يواځې د شونډو موسکا ارزښت نه لري، ترهغې چې له يو داسې شي څخه سرچېنه وانخلي، چې د انسان طبيعت ته کله کله د هغې په مخالف ډول پېښيږي، نو ګلان، ځنګلونه، سيندونه، سمندرونه، اسمان، ستوري او مارغان ټول موسکي دي او خوښئ کوي، انسان به هم په خپل طبيعت کې خندلای که کله کله ورته د طمعې، شر او ځانځانئ غوندې بدخويونه، چې د تندي ګونجې ډېروي نه پېښېدلای، نو ځکه هغه بيا د طبيعي جوړو شوو نغمو په منځ کې نا اشنا ښکاري، له همدې امله به هغه څوک چې تريو تندی لري يا يې زړه خيرن شوی وي، هېڅکله د طبيعت ښکلا په اصلي بڼه کې ونه وينې . هر انسان نړۍ ته د خپلو کړو وړو، فکر اونفسي غوښتنوله اړخه ګوري، که د چا کړه وړه

ښه، فکر یې پاك او موخې یې سپېڅلې وي، نو د ده هغه عینکی به هم، چې دنیا پرې ویني پاکې وي، دنیا به په خپله حقیقي ښه او رنګ کې وګوري، که داسې نه وې نو ښکاره ده، چې عینکی به یې خېرنې، ښیښې به یې تورې او هرڅه به ورته تور اوخیرن ښکاري.

په انساني ټولنه کې داسې نفسونه شته، چې کولای شي له هر شي څخه بد مرغي جوړه کړي اوځینې نور داسې نفسونه هم شته، چې کولای شي له هرڅه څخه نېکمرغي جوړه کړي . داسې مېرمنې هم شته، چې په کورکې یې سترګې له ناسمو کارونو پرته په بل څه نه لګیږي، خو ننۍ ټوله ورځ یې له دې امله په خواشینۍ کې تېره کړې، چې نن یې په کور کې لوښی مات شوی، په خوړو کې یې مالګه ډېره شوې یا یې په خونه کې بېکاره کاغذونه او نورڅه لیدلي وي، بیا نو د دغه ډول وړو خبرو له امله په قهر وي، جګیږي، ټیټیږي، کنځلې کوي، چې څوك په کور کې ګوري، رټي او ځوروي یې، لنډه دا چې هغه د اور یوه لمبه وګرځي . همدا رنګه ځینې نارینه هم شته، چې پر خپل ځان او کورنۍ باندې ژوند له دې امله تریخوي، چې کومه بده خبره یې اورېدلې یا یې کومه خبره کږه معنا کړي وي، یو خوشې کار ورته پېښ شوی یا ورڅخه شوی وي، مالي زیان یې لیدلی وي یا دا چې د څه ګټې په طمعه و ، خو له لاسه یې ووتله، او یا دې ته ورته له نورو پېښو سره مخامخ شوی وي، دنیا ورته ټوله تکه توره ښکاري، نو پر شا اوخوا خلکو یې هم تکه توره کړي . له دغه ډول کسانو سره یواځې د دې توان شته، چې شر څومره غټیږي هومره یې غټوي، له وړې دانې څخه ګومبزه جوړوي، د مېږې له زړي څخه ونه جوړوي، نو له دوی سره د خیر د لاسته راوړلو توان هم نه وي چې څه خوند ورڅخه واخلي، دوی ته که هرڅومره نعمتونه ورکړل شوي وي بیا به هم په دوی کی څوك نه خوښې وکړي او نه به پرې د ډېر سترنعمت څه نښه وګورې . ژوند په خپله یو فن او لوبه ده، داسې فن چې باید زده شي، یو انسان چې په جیب یا بانك کې د خپل مال په خوندي کولو کې زیار وباسي، دا به ورته ډېره غوره وي چې په خپل ژوند کې د ګلانو، کشمالیو او د محبت ـ مینې ـ په کرلو کې کوښښ وکړي، د هغه ژوند به څه خوند وي، چې ټولې هڅې او لالهاندۍ په کې د مال ټولولو له پاره وي، خو د رحمت، مینې او ښکلا برخو ته یې هېڅ پاملرنه نه وي کړي !؟ د ژوند ښکلا ته هېڅ پام نه کوي، سترګې یې یواځې د درهم او دینار په لور پرانیستي وي، د ډېرښکلي بڼ، ښکلو ګلانو، څپاندو اوبو او سندرغاړو مرغانو خوا کې به تېر شي، خویوه ته به یې هم پام نه شي، ټول خیال او فکر به یې دې ته وي، چې یو درهم څه ډول جیب ته راغی او څه ډول ترې بېرته ووته، بېشکه چې دینار د

نېکمرغه ژوندون له پاره یوه چاره وه، خو دوی ټول کار سرچپه کړ، خپل ژوند یې د دینار له پاره وپلوره اونېکمرغي یې ګډه وډه کړه . موږ ته سترګې د دې له پاره راکړل شوي، چې ښکلا پرې ووينو، خو موږ یواځې په دې روږدې کړې چې له دینار څخه پرته بل څه ونه ويني !

بل شی به مخ او روح دومره خړ پړ نه کړي، لکه څومره یې چې ناهیلي خړوي، که موسکا غواړې، نو د نا هیلۍ مخه ونیسه، تا او نورو خلکو ته په دې اړه ښه وخت شته، د بریالیتوب دروازه تا او نورو ته پرانیستې ده، نو خپل عقل په ښو هیلو عادت کړه اوپه راتلونکي کې د خیر له پاره هیله من اوسه، که ستا دا باور وي، چې ته ګواکې د یوه وړوکي کار له پاره پیداشوی یې، نو په خپل ژوند کې به له یوه کوچني کار پرته بل هېڅ کار تر سره نه کړې، خو که دا یقین ولرې چې ته د ډېرو لویو کارونو له پاره پېدا شوی یې، نوبیا تا د داسې همت په اړه فکر کړی چې هغه به ستا مخې ته پراته ټول خنډونه او پولې له منځه یوسي او ته به بشپړ بریالیتوب، پراخ مېدان او لوړهدف ته ځان ورسوې .

زموږ په ورځني مادي ژوند کې دې ته ورته ډېرڅه پېښېږي، د مثال په توګه که یو څوک د ځغاستې په یوه داسې سیالي کې چې سل ګزه واټن ولري وځغلي، نو څومره به ستړی شي ؟ خو که یو بل څوک د څلورسوه ګزه ځغاستې په سیالۍ کې ګډون وکړي، هغه به د سلو یا دوه سوو مترو په اندازه منډو وهلو ستړی نه شي، ځکه چې نفس تا ته په هماغه کچه همت درکوي، چې څومره ته ځان ته ټاکې، نو ته خپله موخه په لوړه کچه وټاکه چې ورته رسېدل ستونزمن وي، دا هېڅ پروا نه کوي که ته هره ورځ د دغه ټاکل شوي موخې په لور یو، یو ګام واخلې . بېشکه هغه څه چې نفس له پرمختګ څخه ایساروي، خفه کوي او په پای کې یې په تیاره زندان کې اچوي ناهیلي ده، د شر په لیدوخراب ژوند کول، د خلکود نیمګړتیاوو رابرسېره کول، د ټولنې منفي اړخونه څرګندول او په اړه یې ډېرې خبرې کول دي .

انسان په خپل ژوند کې له هرڅه د مخه یوه ښه روزونکي ته اړتیا لري، چې ذاتي شتمني یې وروزي، برابري په کې راولي، لمنې یې ور پراخه کړي، ورته وښایي چې خلکو ته د خیر رسولو او خدمت کولو بنسټ وګرځي اوهمدا کار خپل غوره هدف وګڼي، د ده نفس باید د نورو د محبت، ښېګڼې او روښنايۍ له پاره ځلانده لمر وګرځي، زړه یې باید د مهربانۍ، نېکۍ ، انسانیت او د خیرله خوښولو څخه ډك وي . موسکی نفس چې کله ستونزې وګوري، نوپر ستونزو باندې د برلاسۍ پر مهال ترې خوند اخلي، ستونزو ته چې ګوري او بیا یې درملنه

کوي، په دوا‌ړوحالاتوکې موسکی وي او کله چې پرې برلاسی شي هم موسکی شي، خو خفه نفس چې کله ستونزې وګوري، ورنه پرشاځي، غټه یې وګڼي، د ستونزې په وړاندې خپل همت وړوکی وګڼي اوخپل ځان به په هغه دغو ټکو سره تېرباسي، د وخت غندنه یې خوی او صفت ګرځېدلی وي، په ژوند کې بریالیتوب غواړي، خو قیمت یی نه پرې کوي، داسې انګېري چې په هره لار کې ورته زمری تړل شوی، په دې طمعه وي، چې اسمان به پرې سره زر راوروي او یا به ورته ځمکه پرکه وچوي او خزانه به په لاس ورشي . ستونزه په ژوند پورې تړلې خبره ده، بې همته نفس ته هرکار ستونزمن برېښي، خو هوډمن نفس ته ډېر لوی کارونه هم اسانه ښکاري، د ستونزو له غټېدوسره سم د هوډمن نفس هوډ هم لوړیږي، خو کمزورو نفسونو ته د ستونزو له امله د تېښتې ناروغي ورپه برخه شي، ستونزې په حقیقت کې داړونکي سپي ته ورته وي، کله چې تا ووینې چې ورنه ډارېږې او په منډه شوې، نو نور هم درپسې غاپي او درپسې منډې وهي، خو که تا پرې چرت خراب نه کړ، عادي دې وګڼله او سترګې دې پرې برګې کړې، نو هغه هم درته لار پرېږدي او په خپلو پښو کې سرتاو کړي . د یوه نفس د تباهۍ تر ټولوسترلامل هغه ناوړه فکردی چې همدا نفس یی په خپله د ځان په اړه لري، یعنی ځان ورته وړوکی، سپک او بې ارزښته ښکاري او د ځان په اړه دا ګومان کوي، چې ګواکې دی د یوه ستر او نېک کار د سرته رسولوجوګه - ور- نه دی، دا ډول ټیټ فکر په حقیقت کې له انسان څخه پر خپل ځان باندې د باور او یقین قوت له منځه وړي، چې بیا کله هم دا شخص د کوم کار اراده - هوډ - وکړي، نو د سرته رسونې او بریالیتوب په اړه یې د شك او تردد ښکار شي، د خپل کار درملنه په ډېرو سرو او کمزورو احساساتوسره کوي، چې پایله یې ناکامي وي . پر خپل ځان باورلرل د بریالیتوب بنسټ او په ژوند کې د نفس د بریالیتوب کلکه ستنه ده، خو دې خبرې ته هم باید پام وکړو، چې پر ځان باور لرل او د غرور ترمنځ څرګند توپیر شته، په تشو خیالونو او دروغجن کبر باندې باوري کېدوته غرور وایي او پر ځان باندې حقیقي باور لرل هغه دی، چې نفس د ځان په اړه باور ولري، چې که کومه دنده ورته وسپارل شي، د سرته رسونې توان یې لري او همدا راز خپل واک او ذهني شتمنۍ ته وده او پیاوړتیا ورکولای شي ." ایلیا ابـوماضي" په شعر کې وایي :

هغه وویل، چې اسمان غمجن دی، بیا هغه هم خفه او مړاوی شو، ما وویل، موسکی شه، همدا بس دی، چې اسمان خفه دی !

هغه وویل : وړوکتوب ولاړ، ما وویل : وخانده، خفګان ستا له منځه

تللی وړوکتوب بیا هېڅکله نشي راګرځولی !

هغه وويل : هغه ( معشوقه ) چې زما د مينې ستره هيله وه اوس ماته په جهنم بدله شوه، وروسته له هغې، چې ما ورته خپل زړه ورکړ، هغې له ماسره خپلې کړې ژمنې ماتې کړې، نو څرنګه به وخاندم !

ما وويل : وخانده، که ته په هغې پسې همداسې نښتی يې، نو ته خو به خپل ټول ژوند له کړاوه ډک او دردمن تېرکړې !

هغه وويل : تجارت - د محبت - په ډېر سخت کشمکش کې دوام لري، د هغه لاروي په څېر، چې د سختې تندې له لاسه نژدې دی چې ومري ! او يا دهغې ښکلې نرۍ غاړې پېغلې په څېرده، چې زخمي شوې - يا رنځوره - وي، وينې ته اړتيا لري، خو په همدې حال کې - استفراغ - کانګې کوي او بيا د ژبې په سرپاتې د وينې بځرکي له خولې څخه غورځوي . ما وويل : ته وخانده، د هغې د رنځ او يا روغتيا لامل خو ته نه يې، کله چې ته په خندا شې نو نژدې ده چې ...

څرنګه کېدای شي، چې مجرم دې له تا پرته بل څوك وي او ته دې په داسې وېره کې وې، چې ګواکې مجرم ته يې ؟

هغه وويل : زما له شاوخوا د دښمنانو شور او فرياد پورته کيږي، ايا زه دې بنديوان اوسم او زما په خوا کې دې دښمنان خوندي پراته وي ؟

ما وويل : ته وخانده، که ته د هغوی پرتله ستر او لوړ نه اوسې، نو بيا خو به تا څوك د هغوی په ګناه هېڅکله ونه نيسي !

هغه وويل : موسمونوخپلې ښې راڅرګندې کړې اوهغې ماته په جامو او نقش کې ځان راوړاندې کړ . اود ملګرومرسته پرما باندې فرض ده، خو څه وکړم چې په ورغوي کې مې يو درهم هم نشته . ما وويل : وخانده ! همدومره بس دی، چې تر اوسه ژوندی يې او له دوستانو څخه ورک نه يې . هغه وويل : شپو پر ما باندې ډول ډول ترخه وڅښل، ما وويل، وخانده! که تا ترخه هم څښلي وي . که بل غمجن تاپه سندرو ويلو وګوري، نو هغه به خپل خفګان يوې خوا ته کړي او له تا سره به په سندرو پيل وکړي . ايا ته دا نظرلرې، چې په خفګان به څه درهم وګټې او يابه په روڼ تندي سره څه ګټه له لاسه ورکړې؟ ای چغېدونکيه! ستاشونډو او مخ ته د دې خطر نشته، چې هغه دې له منځه ولاړ شي . ته وخانده! ځکه ستوري په داسې حال کې خاندي، چې د شپې تيارې سره

نښتي وي، نو له همدغه امله موږ ستوري خوښوو!هغه وویل : خندا او بشاشت ـ رڼ مخي ـ به هغه انسان نېکمرغه نه کړي، چې دې نړۍ ته راشي او بیا بېرته ورځخه په خفګان او ناخوښۍ سره ووځي . ما وویل : ته وخانده، ترهغې چې ستا او د مرګ تر منځ یوه لوېشت لار هم پاتې وي، ځکه چې تا لا تراوسه نه دي خندلي .

موږ په خپل ژوند کې خوشحالۍ، مخ رڼوالي، د سینې پراخوالي، ښو اخلاقو او د روح نرمښت ته څومره ډېره اړتیا لرو، پیغمبر (ﷺ) وایي : (( بېشکه الله تعالیٰ ما ته د دې خبرې وحې کړې، چې تاسو په خپلو کې یو له بل سره له عاجزۍ نه کار واخلئ، یو پر بل تېری ونه کړئ او یو پربل ځان لوړ مه ګڼئ )).

## لنډه دمه

مه خفه کېږه، ځکه چې پرون تا خفګان وازمایه، خوځه ګټه یې در ونه رسوله . زوی دې په ازموینه کې ناکام شو، ته پرې خفه شوې، ایا ستا په خواشینۍ دې زوی بریالی شو؟ پلاردې مړ شو، ته پرې خفه شوې، ایا هغه بېرته راژوندی شو؟ په سوداګرۍ کې زیانمن شوې، پرې خفه شوې، ایا ستا زیانونه په ګټو بدل شول؟ مه خفه کېږه! ځکه چې تا پر یوه غمیزه خفګان کاوه، خووروسته هغه لاپسې ډېرې شوې، د نېستۍ له امله خفه شوی، خو په پای کې دې ځان ته نور هم غم ډېر کړ . ته د خپلو دښمنانو په خبروخفه شوې، د خفګان کولو له امله دې هغوی پرځان برلاسي کړل، د یوې اټکلي بدې پېښې له امله خفه وې، خوهغه هېڅ پېښه نه شوه .

مه خفه کېږه ! ځکه چې د خفګان پرمهال به نه ستا پراخ کور، ښایسته مېرمن، ډېرمال، لوړمقام او هوښیاراولاد تا ته څه ګټه درورسوي .

مه خفه کېږه ! ځکه چې خفګان به یخې اوخوږې او به په ترخو، د ګلاب ګل په مرغونې، ښکلی بڼ په وچه بیدیا او ژوند به درته په یو داسې زندان بدل کړي، چې زغمل به یې ستا له توانه بهر وي .

مه خفه کېږه! ته خو د دوو روغو سترګو، دوو غوږونو، دوه شونډو، دوه لاسونو، دوه پښو، ژبې او زړه څښتن یې، سوکاله، ډاډمن ژوند او روغ بدن لرې .﴿ نو ای انسانانواوپیریانو! تاسو به د خپل رب کومې پېرزوینې دروغ ګڼئ ﴾ ؟ الرحمن ۱۳:۵۵

**مه خفه کېږه ! ته خومسلمان يې، استوګنځی، خوراك، څښاك، پوښاك او مېرمن لرې، چې له هغې سره قرارېږې، نو ولې خفه کېږی ؟**

*******

## د درد پيرزوينه

**درد او کړاو تل رټل شوی او بد ګڼل شوی نه دی، خو کله ناکله به د بنده له پاره دا غوره وي چې ودردېږي، ځکه چې د زړه له کومې دعاء د درد په وخت کې راوځي، په رېښتياسره د الله تعالٰی پاکي بيانول هم له درد سره ملګرې وي، د زده کړو پر مهال چې زده کوونکی ستونزې وګالي، نوله هغه نه يو غښتلی عالم جوړشي، ځکه چې که په پيل کې وسوځېږ، نو په پای کې وځلېږ (هرڅه يې روښانه کړل ) شاعر دردونه او کړاوونه ويني، په پايله کې په ادب خړوبه ښکلې او اغېزمنه ټولګه وړاندې کړي، ځکه دا ډول شاعر چې څه وايي، دا په حقيقت کې د هغه د زړه، رګونو او وينې ژباړه وي، چې په نتيجه کې ولولې او زړه راوپاروي همداراز ليکوال ته ستونزې د دې لامل شي، چې يوه زړه راښکونکې او ژوندۍ ادبي پانګه خلکو ته وړاندی کړي، چې ژوندي پندونه، انځورونه او يادښتونه ساتي، خو کوم زده کوونکی چې د زده کړو پرمهال هوسا او آرام ژوند وکړي، ستونزې ونه ويني، ښکاره ده چې تنبل، سست او ناپوهه به پاتې کېږي . هغه شاعر چې نه يې درد لېدلی وي، نه يې سختي ګاللې او نه يې ترخه څښلې وي نو شعرونه به يې هم د بې ارزښته خبرو يوه ډېرۍ او ځګ وي، ځکه چې شعرونه يې له زړه نه، بلکې له ژبې راوتلي، شعرونه يې له پوهې راوتلي او زړه او غړو يې نه دي زمزمه کړي . له پورتنيو بېلګوڅخه هم ښه او روښانه بېلګه د لومړنيو مسلمانانو ژوند دی، چې د اسلام او امت د پيدايښت په ګهيځ او د رسالت په پيل کې اوسېدل، په يقين سره چې هغوی د ډېراوچت ايمان، سپېڅلو زړونو، رېښتينو خبرو او د ژور علم څښتنان وو، ځکه چې هغوی په خپل ژوند کې ډېر کړاوونه او دردونه وګالل، لوږه، نېستي، بې کوري، ځور، له وطن او کورڅخه په زوره شړل، له نفسي غوښتنو اوخوښيوڅخه بېلتون، زخمونه، وژنې او ربړونې يې وزغملې، نو له همدغه امله هغوی په رېښتياسره د اسلامي امت غوره او سپېڅلی ټولی شمېرل کېږي، او د پوهې، پاکۍ او قربانۍ په برخو کې بېلګې دي .**

**الله (ﷻ) وايي : ﴿ دا ځکه چې دوی ته هېڅ تنده، ستوماني اولوږه د الله په لارکې نه رسيږي اونه دوی کوم قدم اخلي، چې د کافرانو غضب راوپاروي،**

**اونه دوی له دښمن څخه کومه ګټه ترلاسه کوي، خوکه داسې وي، نوپه بدل کې يي دوی ته يو نېك عمل ليکل کيږي، بيشکه چې الله پاك د ښوخلکوهېڅ عمل نه بربادوي ﴾.** التوبه ۹:۱۲۰

**په نړۍ کې نور داسې خلك هم شته، چې هغوی ته د ستونزو د ورپېښېدو پرمهال خلکو ته په زړه پورې کړنې وړاندې کړي دي، د بېلګې په ډول عربي شاعر" متنبي " يو وخت سختې تبې کړولی و، نو هغه بيا خپله مشهوره شعری غزل وليکله، چې وايي : زما د ليدنې له پاره راتلونکې ـ تبه ـ داسې برېښي، چې هغه به ډېره حياناکه وي، هغه زما ليدو ته له تيارو پرته په بل وخت کې نه راځي .**

**د " نعمان بن المنذر" په نوم پادشاه يو شاعر" نابغه " په مرګ وګواښه، نو د ځان خلاصي په موخه يې خلکو ته دا شعر وړاندې کړ: رېښتيا چې ته لمر يې او پاچاهان ستوري او کله چې لمر راوخيژي نو يوستوری هم بيا نه ښکاري .**

**نور ډېرداسې خلک هم شته، چې هغوی د کړاوونو له امله خپل ژوند ښه کړی دی، نو تاته هم ښايي چې د درد له امله بې صبري ونه کړې او له کړواونو څخه مه وېرېږه، کېدای شي دا ستا له پاره د قوت لامل وګرځي . دا چې ته د يوه مړ نفس، کمزوري هوډ او د يخو ولولوخښتن اوسې، ښه به دا وي چې ته په خپل ژوند کې د يوه دردمن زړه، کړېدلي اوسوځيدلي نفس څښتن اوسې . الله(ﷻ) وايي : ﴿ خو د دوی راپورته کېدل د الله خوښ نه وو، ځکه يې سست اوځای پرځای کړل او ورته وويل شول، چې له ناستوکسانو سره کښېنئ ﴾.** التوبه ۴۶:۹

**په دې اړوند ماته يو داسې شاعر راپه ياد شو، چې ژوند يې په ډېرو ستونزو، غمونو او د بېلتون په درد کې تېرکړی، د خپل ژوند په ورستيو سلګيو کې يې يوه داسې ښکلې مشهوره شعري قصيده وويله، چې له هر ډول لفظي ستړياوو څخه خالي ده، هغه شاعر" مالك بن ريب " دی چې د خپل ځان مرثيه ـ ميراثي بوللـه ـ وړاندې کوي او وايي: ته مانه ګورې، چې بده لار مې د ښې لارې په بدل کې وپلورله، او زه د عثمان (رضی الله عنه) په لښکر کې د غزا په هوډ ولاړم، زما عمل دې الله (ﷻ) قبول کړي، په کومه ورځ چې ما خپل اولاد او مال پخپله خوښه بره " رقمتين " کې پرېښودل . ( "رقمتين" په جزيرة العرب کې د يوځای نوم دی ). نو ای زما د سفر دواړو ملګرو ! زما مرګ رانژدې شوی**

دی، راځئ چې په " رابیـه " کې لږ تم شو، زه غواړم دلته څو شپې تېرې کړم ، له ما سره نن ورځ او یا هم څه اندازه د شپې ایسار شئ او بیره مه کوئ، زما د مړینې نښې په ربښتیا راڅرګندې شوي دي، د نېزو په څوکو زما بستره پورته کړئ، مخ مې په څادر راپټ کړئ او تاسو ته دې الله تعالٰی خیر در په برخه کړي، زما د ښخولو په باره کې د الله (ﷻ) په پراخه ځمکه کې له بخیلۍ څخه کار مه اخلئ، قبر راته پراخ جوړ کړئ !

ترپایه پورې دې ته ورته د غم له امله غوڅ غږ، دردونکې ژړا او د مړینې فریاد اورو، چې د دغه غمجن شاعر له زړه څخه د اور د سکروټو په څېر راوځي . همدا رنګه د یوه درد من او غمجن واعظ خبرې د خلکو زړونو ته ننوزي د روحونو پر ډېرو ژورو برخو اغېزکوي، ځکه چې واعظ په خپله هم سختۍ او ستونزې ګاللي دي . الله (ﷻ) وايي : ﴿ د زړونوحال یي الله پاك ته ښه څرګند و، ځکه یي ډاډه کړل او ډېرنژدې برى یې ورپه برخه کړ ﴾. الفتح ۲۷:۴۸

یو شاعر وايي : ترهغې ته عاشق د هغه دعشق له امله مه ملامتوه ، تر څو چې ته هم د هغه په څېر په عشق اخته شوى نه یې . ما د ډېرو شاعرانوشعري ټولګۍ لوستلې، خو ډېرى یخې، مړې او بې ساه دي، لامل یې دا دى چې هغوى شعرونه په هوسا اوسوکاله حالت کې ویلي، نوځکه یې شعرونه د واورې ټوټې او د ختې پخسې ته ورته دي، د وعظ په برخه کې مې هم ډېرڅه لوستلي، د اورېدونکي یو وېښته هم نه شي خوځولى او نه غلى انسان په خوځښت راوستلاى شي، ځکه چې د هغوى خبرې د زړه له تل اوجوش څخه نه دي راوتلي، او نه یې کړاو او درد لیدلى دى . په دې اړه الله (ﷻ) وايي : ﴿ دوى په ژبوهغه څه وايي، چې په زړونوکې یې نشته ﴾. الفتح ۱۱:۴۷

که ته غواړې چې خبرې یا شعر دې پر خلکو اغېز وکړي، نو لومړى پرې خپل ځان وسېزه، ویې دردوه، ویې څکه ،او بیا په همدغه حالت کې پرې ځان بوخت کړه، نو ډېر ژر به وګورې چې ته پرخلکو څومره اغېزکوې، الله (ﷻ) وايي ﴿ کله چې موږ پرې باران وکړو، نو وچه ځمکه وخوځېږي اوهرډول تازه اوښکلي بوټي راشنه کړي ﴾ . الحج۵:۲۲

***

## د پوهې پېرزوينه

الله (ﷻ) وايي : ﴿ هغه څه يې دروښودل، چې پخوا پرې ته نه پوهېدې او دا پرتا د الله ستره پېرزوينه ده ﴾. النساء ۴:۱۱۳

ناپوهي د وجدان مرگ، د ژوندون پر مرئ چاړه ايښودل او د عمر بربادي ده . الله (ﷻ) نوح عليه السلام ته وايی : ﴿ بېشکه زه تا ته لارښوونه کوم، چې د ناپوهانو په ډله کې ونه شمېرل شي ﴾ . هود۱۱:۴۶

علم عقلي رڼا د روح له پاره ژوندن او د مزاج د خوځښت ماده ده . ﴿ ايا هغه څوك چې مړ و، موږ ژوندی کړ او رڼا مو ورپه برخه کړه، چې پرهمدغه رڼا د خلکوپه منځ کې روان شي، دهغه چا په څېر کېدای شي چې په تياروکې راگېر اوپه هېڅ ډول ترې نه شي وتلای ﴾ .الانعام ۶:۱۲۲

خوښي او د زړه پراختيا له علم سره منځته راځي، ځکه چې علم په يوه نا څرگند شي ځان خبرول، د ورکي پيدا کول او د يوه پټ شي رابر سېره کېدل دي، نفس په دې خوښېږي چې په يوه نوي اوپه زړه پورې شي خبرشي او پوهه يې ترلاسه کړي . ناپوهي له خفگان او ستړيا پرته بل شی نه دی، ځکه چې د ناپوهی په ژوند کې کوم نوی په زړه پورې او خوږ شی نه ليدل کيږي، پرون يې د نن په څېر او نن يې د سبا په څېر وي، نوکه ته نېکمرغي غواړې، دعلم غوښتنه وکړه اود علم په لټه کې شه، گټې ترلاسه کړه، چې له تا څخه غمونه، اندېښنې او خفگانونه له منځه يوسي . الله (ﷻ) وايي : ﴿ ای - پيغمبره - ولوله د خپل هغه رب په نوم، چې مخلوق يې پيدا کړ ﴾ العلق ۹۶:۱

(( چا ته چې الله تعالٰى خير وغواړي، نو هغه په دين پوهوي )) . هغه څوک چې ناپوهي يې له صفر سره برابره وي پر خپل مال او منصب دې نه غوليږي، ځکه چې د ناپوهی په حالت کې يې ژوندون او ژوند دواړه بشپړ نه دي .

الله (ﷻ) وايي : ﴿ ايا هغه څوك چې په دې پوهيږي، چې ستا د رب له لوري تاته څه نازل شوي هغه حق دي، د هغه چاغوندې کېدای شي، چې په هرڅه وړوند وي ﴾. الرّعد ۱۳:۱۹

په دې اړه نامتومفسر" زمخشري " وايي : د يوې سندرغاړې د غبږې اومينې پرتله د علمي څېړنو له امله زما د شپې بې خوبي ماته ډېره

خوندوره ده، همدارنګه د يوې علمي انجرې مشورې د حل له امله زما خوښي اومستي ماته د ساقي له شرابوڅخه هم ډېره خوندوره اوخوږه ده، او پرپاڼوباندې زما د قلمونوغږ ماته دعاشقانوله خوږو نغموڅخه هم خوږ دی، ماته په ګوتو باندې له خپلو کتابونوڅخه دوره څنډنه د يوې پېغلې له چمبې وهلوڅخه هم ډېرخوند راکوي . نو ای هغه څوکه چې ته زما رتبې ته د رسېدو هڅه او هيله لرې، ووايه يو داسې څوک چې هغه ښکته کوزېږي او بل داسې څوک، چې پورته خيژي د دوی دواړو ترمنځ څومره توپيردی ؟ زه تولـه شپه په بې خوبۍ تېروم اوته يې په خوب تېروې، خو بيابه هم ته دا هيله لرې، چې زما ځای ته راورسېږی ! ؟ پوهه پېژندنه څومره غوره ده ! نفس پرې څومره خوښي ترلاسه کوي، سينه پرې څومره يخېږي او فکرورباندې څومره ښه کيږي، الله (ﷻ) وايي : ﴿ ايا هغه څوك چې د خپل رب له اړخه پرسمه روښانه لار روان وي، هغه چا غوندې کېدای شي چې بدې کړنې يې ورته ښايسته ښکاره شوي، او په خپلونفسي غوښتنوپسې روان وي﴾. محمد ۴۷:۱۴

***

## دخوښۍ فن

د زړه خوښي، سوکالي او ارامي غټې پېرزويني ګڼل کيږي، د ذهن کلکوالی، د لاس ته راوړنو کره والی او د نفس خوښي د زړه په خوښۍ کې نغښتي دي . پوهانو ويلي خوښي يو ځانګړی هنردی چې لوستل کيږي اوڅوك چې پردې پوه شي، چې خوښي به څرنګه ترلاسه کوي، څه ډول به يې څښتن کيږی اوڅرنګه به يې ځان ته راکش کړي؟ نودغه شخص په حقيقت کې د ژوندله ښکلا او له خپلو شا اوخوا نعمتونوڅخه ښه ګټه پورته کړې ده . د خوښۍ په لټون کې ستربنسټ قوي زغم دی، د ستونزو له امله به دا شخص هېڅ په خوځښت رانشي، نه به يې څه پروا ولري او نه به پرې څه خيال اوخاطرخړ پړکړي، نو نفس چې څومره غښتلی او سپېڅلی وي په هماغه کچه خوښ اوځلېږي . د طبيعت خړ پړتيا، په مقاومت کې کمزوري او د نفس بې صبري دغمونو، اندېښنو او خفګانونو لاملونه دي، چا چې خپل نفس په کلك صبر او مقاومت عادت کړ، نو د دغه شخص ټولې ستونزې به اسانه شي .

يوشاعروايي : کله چې يو ځوان د مرګ ځايونو او د جنګ ميدان ته په

وردانګلو عادت وي، نو هغه ته بيا په پسته ختېه کې تګ ډېراسان وي .

هغه لاملونه چې خوښي له منځه وړي : تنګ نظري، يواځې خپل ځان ته پام کول او نړۍ له نړيوالوسره هېرول دي . الله تعالی د خپلو دښمنانو يادونه داسې کوي : ﴿ دوی د خپل ځان په فکر کې دي ﴾ آل عمران ۱۵۴:۳

دغه ډول لنډ فکري خلك ټول کاينات - نړۍ - يواځې په خپل ځان کې ګوري، د بل چاپه فکر کې نه وي، نه د بل چا له پاره ژوند کوي او نه نورو ته پاملرنه کوي، پر ما او تا دا لازمه ده، چې کله کله خپل ځانونه هېر کړو، له خپلو نفسونوڅخه ځانونه لرې لرې کړو، چې خپل غمونه، زخمونه او خفګانونه هېرکړو، له دې کارسره به موږ دوه پايلې لاس ته راوړې وي، لومړی د خپلوځانونو نېکمرغي، بله هم د نوروخلکونېکمرغه کول .

د خوښۍ د فن له بنسټونو څخه يو بنسټ دا دی، چې ته خپل فکر په خپله قبضه - ولکه - کې وساتې، خپرېدو، تېښتېدو او الوتوته يې مه پرېږده . که تا خپل فکر ايله پرېښود، نو هغه به ستا له خوښې پرته درڅخه وتښتې او تا ته به بېرته د خفګانونو دوسيې راوڅيړي . له کومې ورځې نه چې ته مور زېږولی يې تردم مهاله پورې به پرتا د غميزو ټول کتاب ولولي . ښېشکه که فکر وتښتېد، نو تاته به تېرشوی ژوبل وخت او راتلونکی ويروونکی وخت راتازه کړي، چې له دې سره به ستا د ژوند بنسټ ولړزوي او ولولې به دې وسيځي، نو تاته په کار دي، چې خپل فکر ته دې سمه پاملرنه وکړې، چې د يوه ګټورکارلامل شي . الله (ﷻ) وايي : ﴿ پرهغه ژوندي ذات زړه تکيه کړه، چې هېڅ مرګ نه لري ﴾. الفرقان ۵۸:۲۵

د خوښۍ د فن بل بنسټ دا دی، چې ته ژوند ته هومره ارزښت ورکړې، څومره چې هغه ارزي ، ژوند ته خپل مقام وټاکې، ځکه چې دا دنيا لهو- وخت تېري - لعب - مستي - ده ، ارزښت يې همدا دی چې ته ورڅخه مخ وګرځوې او بې پروا شې، دا د ټولو غميزو او ستونزو زېږوونکی اود ټولو بديو مورده، نو کوم شی چې داسې صفات لري هغه به څه د پاملرنې وړ وي او کوم شيان يې چې له منځه تللي وي په اړه يې خفګان څه په کار دی !؟ پاك يې ناپاک وي، ځلا يې هسې دوکه ده، ژمنې اوهيلې يې هسې د بېديا سراب - د اوړي د ګرمۍ بڅرکي - دي ، زېږېدلي بچې يې ورك دي، له څښتن سره يې خلك کينه کوي، پر چا يې چې پېرزوينه شوې وي هغه ته ګواښ کيږي اوعاشق يې د همدې دنيا د غدارۍ په توره وژل کيږي .

شاعر وايي : ای ورونو! موږد يو داسې ځای اوسېدونکي يوچې تل په کې د ښېلتون کارغـه غږونه کوي، موږپه دنيا ژاړو،حال داچې هېڅ داسې څوك نشته چې دنيا يې سره راټوله کړي اوبياسره ښېله شوې نه وي، هغه د کِسرا ظالمان پادشاهان څـه شول؟ نه دهغوی مال پاتې شواونه په خپله دهغوی ځانونه، د چا چې د ژوند فضا تنګـه شوه نوهغوی مړه شول اوپـه يوتنـګ لحد کې ځای پرځای شول، هغوی ګونګيان دي کله چې ورته غږ وشي داسې انګېري چې خبرې کول ورته په هېڅ ډول روا نه دي . نبوي وينا ده چې : (( علم په زده کړه ترلاسه کيږي او نرمي په زغم سره )) .

د ادابو د فن له مخې، خوښي ترلاسه کول د هغه په جوړونه، خپل ځان ته يې د موسکا په مخ راتاوولو اود هغه د وسايلوپه لاس ته راوړلو کې اېښودل شوې، ترڅو همدغه خوی د انسان طبيعت وګرځي، ځکه د دنيا ژوند د دې وړنه دی، چې موږ يې په قهر، سخت مزاج او تريو تندي کې تېرکړو. يوعربی شاعر وايي : د مرګ پرېکړه پر ټول مخلوق باندې له پخوا څخه راروانه ده او دا دنيا د قرارځای نه دی . يو وخت به په کې يو انسان وګورې، چې د بل چا د مرګ خبر درکوي، خوبل وخت به همدا انسان په خپله وګورې، چې د خبرونو له قطارڅخه به يوخبروي (خپله به مړشوي وي).

شاعر وايي : دنيا په بنيادي ښه کې خړه پړه ده، خو ته يې له خړپړتيا او ناپاکيوڅخه صافه غواړې ؟

د ورځو د اصلي ښې پرضد غوښتنې داسې وي، لکه څوك چې په اوبوکې د اور سکروټې لټوي، که ته د يوه ناشوني کارهيله لرې، نوپه حقيقت کې ته د خپلوهيلو کور د يوه نړېدونکي کمرپر څنډه جوړول غواړې . په رېښتيا چې ژوند خوب او مرګ وېښتيا ده، او انسان د دواړو په منځ کې يو روان خيال دی . نو، تاسو خپلې اړتياوې ژر پوره کړئ، ځکه چې ستاسو عمرونه د سفرله منزلونو څخه يومنزل دی . د خپلې ځوانۍ اسونه مو وځغلوئ او بيره وکړئ چې له لاسه مو ونه وځي، ځکه چې دا اسونه خو يوامانت دی . که ته څومره لېواله شې، خو زمانه له چا سره روغه نه کوي، د زمانې خوی له ازادو خلکو سره دښمني کول دي . دا يوڅرګند حقيقت دی، ته د دې زور نه لرې، چې له خپل ژوند څخه دغم ټولې اغېزې لرې کړې، ځکه چې دا ژوند همداسې پيداشوی دی . ﴿ بېشکه موږ انسان په ښه صورت کې پيداکړی دی ﴾. التين ۹۵:۴

﴿ بېشکه چې موږ انسان له ګډو شوو اوبو- مني- څخه پيداکړی، چې

ویي ازمایو ﴾. الانسان ۷۶:۲

﴿ ترڅوتاسو وازمایي، چې په تاسوکې دچا کړنې ښې دي﴾.الملک ۶۷:۲

پایله دا شوه، چې ته خپل غم، پریشاني او خفګان کم کړې، په بشپړه توګه د غم نشتوالی به یواځې په جنت کې وي، نو ځکه به جنتیان وایي : ﴿ د ټولوستاینو وړهغه الله دی، چې له موږ څخه یې غمونه لرې کړل ﴾. فاطر۳۵:۳۴

نو داسې ښکاري، چې له جنت پرته په بل ځای کې له دغه کس څخه خفګان نه دی لرې شوی، نوله انسان څخه کینه په بشپړه توګه په جنت کې له منځه ځي، نه په دنیا کې . الله (ﷻ) وایي: ﴿ د هغوی په زړونوکې چې کوم خیری و، هغه به موږ وباسو﴾. الاعراف ۷:۴۳

چا چې د دنیا صفت اوحالت وپېژنده، نو هرومرو به دنیا په تېرې مرستې سپمولو اوخیانت کې معذوره وګڼي او پوهېږي به چې دا خو د دنیا طبیعت، صفت اوخوی دی . یوشاعر وایي : دنیا موږ ته قسم کړی، چې له موږ سره به په کړو ژمنو کې غداري نه کوي، خو داسې یو دریځ یې غوره کړی، لکه لوړه یې چې کړې وي، چې خپله کړې ژمنه به ماتوي، نو چې د دنیا حال داسې وي، بیا خو هوښیار ته په کار دي، چې د خپل ځان په مقابل کې دغې پرېشانی او خفګان ته په تسلیمېدو له دنیاسره مرسته ونه کړي، بلکې په کار دي، چې په پوره زور سره د ژوندون له ستونزو اوسختیو سره لاس اوګرېوان شي، الله (جل جلاله) وایي : ﴿ تاسو ترخپلې بشپړې وسې ډېرزیات توان په کار واچوئ او د کافرانو د مقابلې له پاره اسونه زین کړئ، چې د الله اوخپل دښمنان ورباندې ووېروئ ﴾. التوبه ۹:۶۰

﴿ د هغو ستونزو له امله چې د الله په لارکې ورته رسېدلی وې، بې زړه، سست، کمزوري اوسرټیټي نه شول ﴾. آل عمران ۳:۱۴۶

***

## لنډه دمه

مه خفه کېږه ! که ته ببوزله ـ نېستمن ـ یې، له تا پرته نور داسې خلک هم شته، چې هغوی د پور له امله بندیان دي، اوکه ته د سورلۍ اسباب نه لرې، نو داسې انسانان هم شته، چې دهغوی دواړې پښې پرې شوي، او که ته د

ناروغی له دردونوڅخه شکایت لرې، نو ډېرداسې خلک هم شته،چې له څوکلونوراهیسې په روغتونوکې بسترپراته دي، او که تا یو زوی له لاسه ورکړی، نو په دې دنیا کې داسې خلک هم شته، چې په یوه پېښه کې یې خپل څو زامن له لاسه ورکړي دي .

مه خفه کېږه! ځکه ته خو مسلمان یې، پر الله تعالی ، د هغه پر پیغمبرانو، پرېښتو، د آخرت پر ورځ او د خیر او شر په اندازه ایمان لرې . که نور خلک خفه وي نوهغوی خو پر الله (ﷻ) کافران شوي، پر پیغمبرانو یې دروغ ویلي، په کتاب کې یې اختلاف ـ شخړه ـ کړی، د آخرت په ورځ ، پرېکړې او د اعمالوپر تول منکرشوي دي .

مه خفه کېږه ! که دې ګناه وکړه، نو توبه وباسه، که بدي دې وکړه له الله پاک څخه بخښنه وغواړه او که تېروتنه درڅخه وشوه ځان اصلاح کړه، ځکه چې د الله تعالی رحمت ډېرپراخ، دروازه یې پرانیستې، بخښنه یې ډېره لویه او توبه بې په درکې قبوله ده .

مه خفه کېږه! ځکه چې ته په خپله خپل ماغزه پرېشانه کوې، خپل بنسټ لړزوې، زړه دې ستړی او ځان بی خوبه کوې .

شاعر وایې : ډېرځله یوه غمیزه داسې وي، چې وربانديې اخته شوی شخص یې د زغملو توان نه لري، خو د الله تعالی په وړاندې له هغې غمیزې څخه د وتلو لار شته، غمیزه سخته شوه، کله یې چې پنجې ښې قوي شوې، نو بېرته پورته شوې، خو په غم اخته کس دا ګومان کاوه چې دا به نه پورته کیږي .

***

## ولولې او زړه سواندي قابوکول

د انسان عواطف ـ زړه سوی ـ اواحساسات ـ ولولې ـ د دوه شیانو له امله راپورته کیږي، د ډېرې خوښۍ اوسترې غمیزې په وخت کې .

رسول الله (ﷺ) وایي : (( زه له دوه رنګه احمقانه او ناروا غږونو څخه منع شوی یم . یوهغه غږ چې د نعمت په وخت کې وي، بل هغه چې د غمیزې پرمهال وي)). یعنې د ژور غم له امله فریاد اود ډېرې خوښې له امله خندا.

الٰهی وینا ده ﴿ ترڅو چې تاسو پرهغه څه خفه نه شئ، چې ستاسوله لاسه وتلي دي﴾ الحدید۵۷:۲۳

په دې اړه نبوي وینا ده : (( بېشکه صبرد غمیزې په لومړني ټکان کې غوره دی )). نوچا چې خپلې ولولې د سختی پیښې او یا ډېری خوښۍ په وخت کې قابو کړې، هغه کس د پوخ ایمان او کلک مقام څښتن شو، د نېکمرغۍ، سوکالۍ او پر خپل نفس باندې د بریالیتوب مقام ته ورسېد .

الله تعالٰی انسان داسې ستایلی، چې هغه کبرجن او پرخپل ځان ویاړمن دی، کله چې له شرسره مخامخ شي، زړېږوي کوي او کله چې خیر ورپه برخه شي، د خیر مخه نیسي، له لمونځ کوونکو پرته، چا چې د ژوند په ټولو برخو کې منځلاریتوب غوره کړی وي، په خوښۍ اوغم کې هم د منځلاریتوب په حالت کې قرار لري، په سوکالۍ کې د الله تعالٰی شکر پرځای کوي او په سخت ازمېښت کې له صبرڅخه کار اخلي . ډېرې ګرمې ولولې خپل خاوند ستومانه کوي، بې خوبه کوي او ځوروي يې، نوکله چې په غصه شي، ګرم شي، رګونه يې وپړسېږي، تك تورشي، ولړزېږي، غصه يې راپورته شي، نوښکاره ده چې بیا په دغه وخت کې له عدل - برابرۍ - څخه پښه اړوي، خوکله چې خوشحاله شي، نو په خوځښت او مستۍ راشي، عقل يې وتښتي اوخپل نفس د خوښۍ په څپوکې هېرکړي، له ټاکلې اندازې څخه ورواوړي او کله چې له یو چا سره اړیکي پرې کړي، د هغه بد اړخونه راڅېري، ټولې نېکۍ يې هېرې کړي، ښه خویونه يې پټ کړي او کله چې له یوه بل کس سره ملګری شي، هغه ته بیا د لویۍ او درناوي ټولې نښې ورپه غاړه کړي اود کمال لوړې مرتبې ته يې ورسوي، په یو اثر کې ویل شوي : له خپل ملګري سره روانه مینه کوه، کېدای شي یوه ورځ هغه ستا دښمن شي، او له خپل دښمن سره روانه دښمني کوه، کېدای چې یوه ورځ هغه ستا ملګری شي . رسول الله (ﷺ) وایي : (( یا الله ! زه له تا څخه د قهر او خوښۍ په دواړو حالتونو کې د اعتدال غوښتنه کوم )). نوچا چې خپل زړه سوی قابو کړ، پر خپل عقل حاکم شو او هرڅه يې په داسې تول وتلل، چې هر څه ته يې خپله اندازه وټاکله، نو دغه شخص حق لیدلی، سمه لار يې پېژندلی اوحقیقت ته رسېدلی دی .

الـٰهي ویناده : ﴿ بېشکه موږ خپل استازي له روښانه نښو سره لېږلي وو او کتاب او تله مو د دې له پاره ورسره یوځای لېږلي وو، چې خلك په انصاف سره پرېکړه وکړي ﴾.الحدید۵۷:۲۵

بېشکه چې اسلام د ارزښتونو، اخلاقواو روند په داسې تله راغلی، لکه

څرنګه چې په یوه برابره تګلاره د خوښې شریعت او پاك ملت سره منځته راغلي دي . ﴿ همدارنګه موږ تاسې یومنځلاری امت ګرځولی یاست ﴾. البقره ۲:۱۴۳

په اخلاقو کې عدل داسې ارزښتناک هدف دی، لکه څومره چې په احکامو کې دی، ځکه چې د دین بنسټ په رېښتیا ا وعدل سره جوړ شوی، په خبرو او احکامو کې ریښتینولي، په خبرو، کړنواو اخلاقوکې عدالت غوښتل شوې دی. ﴿ ستا د رب وینا په رېښتینولی اوعدل بشپړه شوې ده ﴾. الانعام ۶:۱۱۶

***

## د رسول الله په شتون کې د اصحابو نېکمرغي

بېشکه چې رسول الله (ﷺ) خلکو ته له الٰهی بلنې او پیغام سره راغلی و، له هغه سره په دې برخه کې دنیاوي خپرونې نه وې، نه ورته د مال کومه خزانه ورکړل شوې وه، نه یې داسې باغ درلود، چې له هغه نه یې خوراك کاوه او نه په ماڼۍ کې اوسېده، خو مینه پالو یې ورسره د ډېرساده او ستونزمن ژوند په لرلوکې هم بیعت وکړ. په هغه وخت کې چې د هغوی شمېر ډېرکم و، هغوی ډېر کمزوري وو، د دې وېره ورسره وه چې هسې نه دا نور خلك یې د تېښتولو او له منځه وړلو هوډ ونه کړي، خو بیا هم خپلو لارویو- ملګرو- ورسره ډېره مینه وکړه، د مکې مکرمې په ناوکې راګېر شول، د روزۍ دروازې پرې راتنګې شوې، له سخت ازمېښت سره مخامخ شول، خپلوانو ورسره جنګ وکړ، د ټولو خلکو له خوا یې ستونزې او کړونې ولیدې، خو سره له دې هم هغوی له خپل پیغمبر (ﷺ) سره پوره مینه درلوده . ځنې کسان یې د کفارو په لاس د اوړي په ګرمو شګو باندې راښکل شول، ځینې نور یې په دښتوکې بندیان شول، ځینې داسې وو، چې کافرانو یې په رېږولو او کړولو کې رنګارنګ طریقې پلې کړې، د هغوی په دردولو کې یې له پوره سختۍ څخه کار واخیست، خوهغوی له دې سره سره هم خپل پیغمبرپه پوره مینه وپاله. له هغوی څخه خپل وطنونه، کورونه، د کورنۍ غړي، خپلوان او مالونه واخیستل شول، د وږکتوب د خاپوړو له ځایونو، د ځوانۍ د لوبو له مېدانونو او د کورنۍ د غړو له استوګنځیو څخه وشړل شول، خو بیا هم هغوی له خپل پیغمبر سره پوره مینه درلوده . مؤمنان د هغه د دعوت ـ بلنې ـ له امله په سختو ازمېښتونو کې ولوېدل، سخت وځپل شول، زړونه یې د ډېرو ستونزو له لاسه خولې ته راغلل او پر الله یې ډول ډول ګومانونه وکړل، خو بیا هم هغوی له خپل پیغمبرسره ډېرمحبت وکړ، د هغوی له ډلې نه غوره ځوانان د تېزو او غوڅوونکو تورو مخې ته ودرېدل، خو دا توري د دوی د سرونو له

پاسه داسې ښکارېدې، لکه د اوږدو سیورو لرونکو ونو څانګې .

شاعر وايي : د تورې سیورې داسې برېښېده لکه د یوې داسې شنې باغچې سیورې چې زموږ شاوخوا ته ګلان راشنه کوي .

هغوی دجنګ دګرته وړاندې شول ، مرګ ته به داسې په خوښۍ ورتلل، لکه چکر او مستۍ ته چې ځي، یا لکه د اختر شپه چې پرې راغلې وي، ځکه چې هغوی پيغمبرپه بشپړه توګه خپله مينه ګڼله، له اصحابوڅخه به یوکس له داسې لیك اوپيغام سره استول کېده او په دې به هم پوهېده، چې له دې وروسته به دنیا ته بېرته ژوندی نه راګرځي، خو بیا به یې هم خپله دنده سرته رسوله ، دارنګه یوصحابي به د یوې دندې د سرته رسولوله پاره یوځای ته لیږل کېده او په دې به پوره باوري و، چې دا یې د ژوند وروستۍ شېبه ده، خو بیا به هم د زړه له کومې هغه ټاکلي ځای ته ځان رساوه، دا ځکه چې هغوی له خپل پيغمبر(صلی الله علیه وسلم) سره ډېره په خوښۍ مینه کړې وه، خو ولې هغوی ته خپل پيغمبر دومره ګران و، ولې یې دهغه په رسالت ـ پيغمبرۍ ـ باندې ځانونه نېکمرغه بلل، د هغه د تګلارې په اړه ولې دومره ډاډمن وو، په راتګ یې دومره خوښي ولې څرګندوله او په پای کې د کومې موخې له پاره یې د هغه په ملګرتوب کې هر درد، خواري، ستونزه او سختي هېره کړله ؟ ځکه چې هغوی په پيغمبر(ﷺ) کې د خیر او خوښۍ ټولې معناګانې لیدلې وې، د حق او نېکۍ ټولې نښې یې ورته څرګندې شوې وې، په رېښتیا چې هغه د لوړو او سترو کارونو په برخه کې د پوښتونکو له پاره د قدرت یوه نښه وه، هغه په خپله مینه د هغوی د زړونو تاو سوړ او په خوږو خبرو یې ورته سینې یخې کړې وې، دهغوی روحونه یې په خپل رسالت وردك کړي وو . هغوی ته یې په زړونو کې قناعت وراچولی و، چې له امله یې هغوی د خپل پيغمبر(ﷺ) د بلنې په لار کې ستونزو اوکړاوونو ته هېڅ ډول حساب نه کاوه، محمد (ﷺ) دهغوی په نفسونوکې داسې یقین وراچولی و، چې له امله یې له هغوی څخه هر زخم ، خفګان او تکلیف هېرشو . د هغوی وجدانونه یې په خپله لاربښوونه پاك او زړونه یې په خپله رڼا روښانه کړل، د هغوی له اوږو څخه یې د ناپوهۍ هر ډول پیټي اوچت او له شاګانو څخه یې ورته د بوت پرستۍ ګناهونه او بدمرغۍ وغورځولې، د هغوی له غاړو څخه یې د شرك او ورکې لارې اغېزې وویستې، له روحونو څخه یې د کینې او دښمنۍ اور مړ او پر سخت زړه او جوش یې د یقین یخې اوبه وروشیندلې چې له همدې امله یې د هغوی نفسونه او بدنونه هوسا، زړونه یې ډاډمن، ماغزه او رګونه یې ساړه شول . درنو اصحابو د ژوند خوند له پيغمبر(ﷺ) سره په ملګرتوب کې پیداکړ، مینه یې ورسره په

نژدیتوب، خوښي يې ورسره په چاپريال، سوکالي يې ورپسې په لاره تلو، برياليتوب اونجات يې د هغه په امرمنلو او شتمني يې په هغه پسې په تګ کې موندلې وه .

الله (ﷻ) وايي : ﴿ ای پيغمبره موږ ته د ټول عالم له پاره رحمت لېږلی يې﴾. الانبياء ۲۱:۱۰۷

﴿ بېشکه چې هرومرو ته د نېغې لارې ښوونه کوې ﴾. الشورى ۴۲:۵۲

﴿ په خپل حکم يي د کفر له تيارو څخه د اسلام رڼا ته وباسي ﴾. المآئده ۵:۱۶

﴿ بېشکه الله پاک پرمومنانو احسان کړی چې له همدوی څخه يوتن يې ورته د پيغمبرپه توګه ولېږه، چې دوی ته به د الله ايتونه لولي، عقيده به يي پاکوي، قرآن او سنت به ورته ښيي، په داسې حال کې چې دا قوم مخکې د پيغمبرله راتګ نه په ښکاره بېلارۍ کې پروت و﴾. آل عمران ۳:۱۶۴

﴿ له هغوی څخه هغه درانه پيټي اوځنځيرونه پورته کوي، چې پرهغوی پراته وو﴾. الاعراف۷:۱۵۷

﴿ د الله او رسول بلنه ومنئ، کله چې د هغه کارپه لوربلنه درکوي، چې تاسوته ربښتنی ژوند دربخښي ﴾. الانفال ۸:۲۴

﴿تاسود اورد کندې پرڅنده وئ، نوتاسويې له دوزخه وساتلئ﴾.آل عمران ۳:۱۰۳

اصحاب (رضي الله عنهم) په ربښتيا له خپل امام او لاربنود سره نېکمرغه وو اوپه کارهم وه، چې نېکمرغه او خوښ وای . ای الله ! پر هغه چا درود او سلام راولېږه، چې خپل عقلونه د بېلارۍ له زولنو څخه ايله کوي، د ورکې لارې له بلاګانو څخه ځانونه ژغوري، الله دې له درنواصحابو او زموږ له سر لوړو نيکونو نه په هغه سبب چې هغوی د دين له پاره زياتې قربانۍ ورکړي او بېشمېره ستونزې يې ګاللي راضي شې .

***

## ستوماني له خپل ژوند څخه وشړه

کوم انسان چې خپل ژوند د همېشه لپاره په یو رنګ او یوه لار پرمخ بیايي، نو ښکاره ده چې روحي ستوماني به ورته پېښېږي، ځکه انساني جوړښت داسې دی، چې د ډېر وخت له پاره په یوحالت کې د ستومانۍ احساس کوی . له همدې امله الله (ﷻ) وختونه، ځایونه، د خوراك اوڅښاك شیان، مخلوقات، شپه او ورځ، سمه اوغر، سپین او تور، ګرم او یخ، لمر اوسیوری، خوږ او تریخ په خپلو منځونوکې سره بېل پیدا کړي، او الله تعالٰی دغه توپیر اوځورنګي په خپل کتاب کې بیانوی:﴿دهغوی له ګېډوڅخه په بېلابېلورنګونو کې عسل راوځي ﴾.النحل ۱۶:۶۹

﴿ له یوبېخ نه او له بېل بېل بېخ نه ( یعنې ځینې ونې له یوه بېخه او ځینې نورې بیا له بېلو بېلو بېخونو څخه شنې شوې وي، په رنګ کې یوبل ته ورته او په خوند کې بېلابېل ﴾. الرّعد ۱۳:۴

﴿ له غرونوڅخه هم ځینې د سپینو اوسرو لارو لرونکي دي، خو د لارو په رنګونو کې سره بېلابېل دي﴾. فاطر ۳۵:۲۷ ﴿ دا ورځې موږ د خلکوپه منځ کې اړوو، را اړوو ﴾. آل عمران ۳:۱۴۰

بني اسرآئیل د ښه خوراك له امله په تنګ شول، ځکه دا د هغوی ورځنی خوراك و، موسی (علیه السلام) ته یې وویل : ﴿ هېڅکله به موږ په یو ډول خوراك صبر ونه کړو﴾. البقره ۲:۶۱ ﴿ دعقل څښتنان هغه څوك دي، چې هغوی په ولاړه، ناسته او چې په ډډه هم پراته وي الله یادوي﴾. آل عمران۳:۱۹۱

عباسي خلیفه "مامون الرشید" به چې کله څه لوستل، نوکله به یې په ناسته، کله به یې په ولاړه او کله به یې په روانه لوستل، بیا به یې وویل، د نفس عادت دی، چې ستړی کېږي . که څوك عباداتو ته ښه ځیرشي، نوځرنګوالی او ځورنګي به په کې بیامومي، ځینې یې زړه پورې اړه لري، ځینی یې ژبې پورې، ځینی یې عملي او ځینې نوریې مالي دي . د بېلګې په ډول : لمونځ، زکات، روژه، حج او جهاد. نو لمونځ له قیام، رکوع ، سجدې او وروستۍ ناستې سره بشپړېږي، که څوك غواړي خوښ، تکړه او بېداره اوسي او ورکړه یې همېشه وي، ورته په کاردي، چې په خپل کار، پوهه، معلوماتو ترلاسه کولو، ورځنیو چارو او ژوند کې نوښت راولي، څو ډوله لارې په کار واچوي . د بېلګې په توګه ، د لوستلو په برخه کې باید ډول ډول علوم اوموضوعګانې ولولې، لکه : قرآن

کريم، تفسير، سيرت، حديث، فقه، تاريخ، ادب او عام فرهنګ . همدارنګه وخت بايد د عبادت، روا خوراك، د چا ليدلو، مېلمنو ته د هرکلي ويلو، بدني روزنې اوچکر وهلو ترمنځ ووېشي، نو وبه ګوري چې نفس يې له خوښۍ څخه ځومره پورته پورته الوزي او پېرقيږي، ځکه چې نفس په اصلي جوړښت کې څو رنګي او نوښت خوښوي، شاعر وايي :

ښه انسان ته په ورکړه او جنګ کې هغه دوه ورځې دي، چې تېرې کړې يې دي، او هره يوه سپينه او روښانه وه . يوه ورځ له خلکو سره د خپل لاس په سخاوت مرسته کوي او بله ورځ د جنګ په ډګرکې مرګ ته په داسې حال کې چې لښکرهم ډېرستر وي ځان رسوي .

***

## پرېشاني پرېږده

مه خفه کېږه! ځکه چې ستا رب وايي : ﴿ ايا موږه تاته - اى محمده - ستا سينه ونه څېرله ﴾.؟ الشرح ۹۴:۱

اودا يوه ټولنيزه خبره ده، هرهغه چا ته خوښي وربخښي، چې حقپالونکى، د حق رڼا يې ليدلې او د قرآنکريم په لار روان وي .

الله (ﷻ) وايي : ﴿ آياهغه څوك چې الله يې د اسلام له پاره سينه پراخه کړي وي، هغه به د خپل رب له اړخه په رڼا کې وي او هغو خلکو ته د دوزخ کنده ده، چې د الله له ذکر- قرآن - څخه - يې زړونه سخت دي ﴾. الزمر ۳۹:۲۲

د الله (ﷻ) د نه يادولو او يا له قرآنکريم څخه د مخ اړونې له امله يې زړونه کلک شوي دي . نو يو لور ته حق دى، چې سينې يا زړونه پراخوي او بل لور ته باطل، چې سينې يا زړونه سختوي . الله(ﷻ) وايي ﴿ الله چې چاته د لارښوونې غوښتنه وکړي، نو سينه يې د اسلام له پاره پراخه کړي﴾.الانعام۶:۱۲۵

نو دا دين يو داسې هدف دى، چې د سمې لارې له لارويانو پرته نور څوك نه شي ورسېدلاى . الٰهى وينا ده : ﴿مه خفه کېږه! بېشکه الله له موږسره دى ﴾.التوبه ۹:۴۰

دا ډول ځرګندونې هغه څوك کوي، چې د الله تعالـٰى پرساتنې، مهربانۍ

او مرستې باندې باوري وي . الله (ﷻ) وايي : ﴿ د ايمان خاوندان- هغوی دي - چې خلکو ورته وويل، خلك ستاسوپرضد راټول شوي، ورڅخه ووېرېږئ! نود هغوی ايمان لا پسې ټينګ شو او ويې ويل، الله مو بس دی اوهغه ښه کارجوړونکی دی﴾. آل عمران ۳:۱۷۳

نوځرګنده شوه چې د الله (ﷻ) بشپړه ملتيا تاته بس ده، او دوستي يې تا ساتي . ﴿ ای پيغمبره! تا اومومنانوملګروته الله بس دی﴾. الانفال۸:۶۴

نوهرچا چې دا لار ونيوله هغه به هم بريالی شي. الله (ﷻ) وايي : ﴿ پرهغه ژوندي ذات توکل وکړه، چې هېڅ مرګ نه لري ﴾. الفرقان ۲۵:۵۸

او پرته له الله چې بل هرڅوک وي، هغه په حقيقت کې مړ دی، ژوندی نه دی، له منځه تلونکی دی، د تل له پاره پاتې کېدونکی نه دی، سپک دی او د عزت ښښتن نه دی . الله (ﷻ) وايي : ﴿ ای پيغمبره صبروکړه، ستاد صبر بدله يوازې د الله سره ده، او کافرانو ته مه غمجن کېږه، چلونواودسيسوته يې زړه مه تنګوه، بېشکه الله له هغوکسانوسره مل دی، چې له بدۍ ځخه ځانونه ژغوري اوښه کارونه کوي﴾. النحل۱۶:۱۲۸

د الله تعالٰی دغه ځانګړې ملتيا، چې ساتنه، دوستي، پاملرنه او ملاتړ دی، له خپلو دوستانو سره يې د تقوا او جهاد په اندازه ټېنګه ساتي . الله (جل جلاله) وايي : ﴿ تاسو سست او وارخطا نه شئ، تاسو برلاسي ياست، که د کلک ايمان خاوندان ياست ﴾.آل عمران ۳:۱۳۹

﴿هغوی هېڅکله تاسو ته له لږ کړاو پرته نور تاوان نشي دررسولی اوکه له تاسو سره په جنګ شي ډېر ژربه په شا منډه کړي اوبيابه له هېڅ لوري څخه ورسره مرسته نه کيږي ﴾. آل عمران ۳:۱۱۱

الله (ﷻ) وايي : ﴿ الله ليکلي دي، چې زه او زما استازي به هرومرو برلاسي کيږو، بېشکه چې الله ډېرقوي اوپه هرڅه زورورد ی ﴾. المجادله ۵۸:۲۱

الله (ﷻ) وايي : ﴿ بېشکه موږ به هرومرو له خپلوپيغميرانو او مؤمنانو سره د دنيا په ژوند او په هغه ورځ هم مرسته کوو، په کومه ورځ چې ګواهان ودريږي ﴾. الغافر ۴۰:۵۱

دا يو داسی ترون دی، چې مات به نه شي او داسې ژمنه ده، چې

وروسته به نه شي:﴿زه خپل کارالله ته سپارم، بېشکه الله خپل بنده ګان ګوري﴾. الغافر ۴۰:۴۴

﴿ مؤمنان باید یواځې پرالله تکیه وکړي ﴾. المآئده ۵:۱۱

مه خفه کېږه ! داسې وګڼه چې ته به له یوې ورځې څخه ډېر ژوند نه لرې، نو ته ولې په دې یوه ورځ کې قهراوخفګان کوې ؟

په یواځې ویل شوي :(( کله چې سهارپاڅېدې، ماښام ته سترګې مه غړوه او کله چې درباندې ماښام شو، نوبیا د سهار طمعه مه کوه )).

د دې هدف دا شو، چې ته یواځې د خپلې یوې ورځې په چوکاټ کې ژوند تېروه، تېر وخت مه یادوه او راتلونکي وخت ته اندېښنه مه کوه .

شاعر وایي : تېرهېرشو او د کوم شي چې سبا امید کېږي، هغه هم څرګند نه دی، ستا ټول ژوند همدغه یوساعت دی، چې ته په کې اوسېږې . په تېر وخت ځان بوختول اود هغه یادول، په هغوکړاوونو اوغمیزو فکرکول چې پخوا تېرشوي اوپېښ شوي او د هغو بدو پېښو یادونه، چې پای ته رسېدلي وي یو ډول ناپوهي او لېونتوب دی . په چینایي ژبه کې متل دی، چې وایي له پله څخه تر رسېدو مخکې مه اوړه . موخه دا چې د پېښ، غمونو او اندېښنو په اړه له پېښېدو مخکې بېره مه کوه، له مخکینیودینپوهانو څخه یوتن وایي، ای بنی ادمه ! بېشکه ستا ژوند درې ورځې دی، ستا پرون تېرشوی، سبا دې لا تراوسه نه دی راغلی او په همدې نن ورځ کې له الله تعالی څخه ووېرېږه . هغه کس چې د پرون نن او سبا ورځوغمونه کوي، هغه به څرنګه ژوند کوي؟ هغه څوك چې د هرتېر شوي او پېښ شوي شي یادونه کوي، خپل فکر ته یې بار بار راګرځوي او ور ته دردېږي، حال دا چې هېڅ ګټه هم نه وررسوي، مطلب دا دی چې باید ستا د هیلو تار لنډ وي، هر دم د مرګ نېټې ته سترګې په لار اوسه، خپلې کړنې سمې کړه، له همدې نننۍ ورځې پرته د نورو غم او اندېښنه ونه کړې . خپل کوښښونه ټول همدې ورځې ته راټول کړه، خپل کارونه په کې سم کړه، خپله ټوله پاملرنه همدې ورځې ته راواړوه، خپل فرضي عبادات، ښه اخلاق او ښه کارونه ډېر کوه، خپله بدني ښکلا، روغتیا او خویونو ته پاملرنه وکړه او له نورو سره په خپلو کړو وړو کې روغ اوسه .

***

## لنډه دمه

مه خفه کېږه ! ځکه چې د هر څه په باره کې الٰهي پرېکړه ترسره شوې ده، څه چې الله تعالٰی ټاکلي وي هغه به پېښېږي، د برخه ليك قلمونه وچ اوپاڼې يې ټولې شوي دي، هر کار په خپل ځای کې ثابت دی، نو ستا خفګان به په حقيقت کې هېڅ څه شی مخکې او وروسته نه کړي، څه به زيات او کم نه کړي .

مه خفه کېږه ! بېشکه چې ته په خفګان سره غواړې زمانه له حرکته ودرېږي، لمربند شي، د ساعت ستنې بېرته شا ته وګرځي، د مخکې تګ پرځای ورسته تګ سم وګڼې او سيند دې بېرته خپلې سرچينې ته وګرځي ؟؟؟

مه خفه کېږه ! ځکه چې خفګان هغه سخت او طوفاني باد ته ورته دی، چې د را الوتلو پرمهال هوا خرابوي، اوبه خړوي، د اسمان رنګ بدلوي او په ښکلې باغچه کې سره ګلان رژوي .

مه خفه کېږه ! ځکه چې خفه سړی، خړ سيند ته ورته وي، چې له سمندر څخه بېلېږي او بېرته هماغه سمندر ته ورلوېږي، يا هغې اوبدونکې ښځې ته ورته دی، چې خپل اوبدل شوی شی تراوبدلو وروسته بېرته تار تار راڅېړي، يا هغه کس ته ورته دی، چې په سوري مستك ـ ژي ـ کې پوکی کوي او يا هغه کس ته ورته دی، چې د اوبو له پاسه په خپله ګوته ليکل کوي .

مه خفه کېږه ! بېشکه ستا ريښتينی ژوند ستاپه نېکمرغۍ، د فکر او مزاج په سوکالۍ کې نغښتی دی، نو ته خپلې ورځې په خفګان او شپې په اندېښنو کې مه تېروه، خپل وخت په بېلابېلوغمونومه وېشه او د خپل ژوند په تباهۍ کې له حد څخه تېری مه کوه، يعنې عمر دې بې ځايه مه بربادوه، ځکه چې الله تعالٰی اسراف کوونکي نه خوښوي .

***

## خوشحاله شه چې الله ستا توبه قبلوي

ايا ستا زړه نه پراخوي ،ستا غم اواندېښنه له منځه نه وړي اونېکمرغي به در په برخه نه کړي ؟ الٰهي وينا ده : ﴿ ای پيغمبره ! زما هغو بنده ګانو ته، چې ځانونه يې ډېر په ګناهونو ککړکړي، ووايه چې د الله له رحمت څخه مه ناهيلي کېږئ، ځکه چې الله ټول ګناهونه بخښي، بېشکه چې الله بخښوونکی

اوخورا مهربان دی ﴾. الغافر ۴۰:۵۳

الله (ﷻ) په دې ایت کې خپلوبنده ګانوته په - یاعبادي - لفظ سره غږ کړی یعني ای زمابنده ګانو! او دا له دې امله چې د دوی زړونه له مینې ډک، روحونه یې خوشحاله کړي او پرځان باندې تېري کوونکي یې ځانګړي کړل، ځکه چې له هغوی څخه ډېرګناهونه او تېروتنې کیږي، پر دوی چې داسې لورېينه کیږي، نو پرنورو به څومره مهرباني وي ؟

الله تعالیٰ په خپل مغفرت له ناهیلۍ څخه هغوی ایسارکړي او دا خبر یې ورکړ، چې څوک الله ته توبه وباسي، نوټول ګناهونه ورته بخښي، که غټ ګناهونه وي او که واړه، ښکاره وي او که پټ، بیا الله خپل نفس په تاکید او په تعریف چې د صفت بشپړتیا څرګندوي وستایه. ایا د الله تعالیٰ په دې ایتونو نېکمرغه او خوښ نه یې، چې وايي : ﴿ پرهېزګاران هغه کسان دي چې کله کوم بدکار یا پر ځانونو تېری وکړي الله یاد کړي اود خپلوګناهونو بخښنه وغواړي، او پرته له الله نه بل څوک شته، چې ګناهونه بخښي، اودوی له پوهې سره پرخپلو بدو کړنو همېشه والی نه کوي ﴾. آل عمران ۳:۱۳۵

﴿ هرڅوک چې یو بد کار یا پرځان ظلم وکړي بیا له الله نه بخښنه وغواړي، نودغه کس به الله له بخښني اورحمت سره وومومي ﴾. النسآء ۴:۱۱۰

﴿ که تاسو له هغو لویوګناهونونه، چې ورڅخه ایسارشوي یاست ځانونه وژغورئ، نوموږ به ستاسوکوچني ګناهونه ورژوو، او خورا غوره ځای - جنت - ته به مو وردننه کړو ﴾.النسآء ۴:۳۱

﴿ هغه وخت چې هغوی پرځانونو ظلم - تېری - کړی و، تا ته راغلي وی، له الله څخه یې بخښنه غوښتې وی، اوپیغمبر هم ورته بخښنه غوښتې وی، نو هرومرو به یې الله پاك توبه قبلوونکی او مهربان موندلی وی﴾. النسآء۴:۶۴

﴿ بېشکه زه هغه چا ته ښه بخښونکی یم، چې ماته راګرځېدلی، ایمان یې راوړی، ښه کړنه یې کړی اوبیا دهمدغې هدایت پرلارنېغ روان شوی﴾.طه ۲۰:۸۲

کله چې موسیٰ (علیه السلام) بې هوده له قبطیانوڅخه یوتن وواژه، نو ویې ویل : ﴿ یا ربه ماته بخښنه وکړه، نو الله ورته بخښنه وکړه﴾.القصص ۲۸:۲۶

الله (ﷻ) د داود (علیه السلام) په اړه، چې هغه توبه وویسته او الله ته

وګرځېده، وايي : ﴿ په فيصله کې تېروتنه مو ورته وبخښله، په رېښتيا چې هغه زموږ په وړاندې د لوړې پوړۍ خاوند اوښه ځای ته ورتلونکی دی ﴾. ص٣٨:٢٥

پاکي ده الله لره ! چې هغه څومره کريم او رحيم ذات دی، تر دې چې خپله بخښنه يې هغه چاته هم وړاندې کړې ده، چې د تثليث ـ درې ګونې عقيدې خاوندان دي ـ يعنې الله تعالیٰ له عيسیٰ اومريم (عليهما السلام) سره درېيم ګڼي، نود هغوی په اړه وايي : ﴿ هغه کسان په رېښتيا کافران شول، چې ويل يې الله له درېيو خدايانوڅخه درېيم دی، په داسې حال کې چې له يوه الله پرته بل هېڅوك د عبادت وړنشته، اوکه له هغه خبرو نه ايسار نه شول، چې هغوی يې وايي، نو کافرانو ته به ډېر ژر دردونکی عذاب ورکړل شي، ايا الله ته توبه نه وباسي او بخښنه ورڅخه نه غواړي، په داسې حال کې چې الله بخښوونکی اود رحم څښتن دی﴾.المآئده ٥:٧٣-٧٤

صحيح قدسي حديث دی، الله (ﷻ) وايي : (( ای د آدم زويه ! بېشکه تا له ما څخه د خپلې ګناه په اړه نه څه غوښتي او نه دې څه هيله کړې، خو ما تاته د هغه څه بخښنه کړې، چې له تاڅخه شوي او زه هېڅ پروا هم پرې نه لرم، ای د ادم زويه ! که ستا ګناهونه د اسمان اندازې ته هم ورسيږي او بيا له ما څخه د بخښنې غوښتنه وکړې، نو زه به درته بخښنه وکړم او زه هېڅ پروا هم نه لرم، ای د ادم زويه ! که ته ما ته د ځمکې په کچه له ګناهونو سره راشې او له ما سره په داسې حال کې مخامخ شې، چې تا له ما سره شريك نه وي نيولی، نو زه به هرو مرو تاته د ځمکې په اندازه له مغفرت ـ بخښنې ـ سره درشم )).

بل صحيح حديث دی : بېشکه الله (ﷻ) د شپې خپل لاس اوږدوي، چې د ورځې د ګناهګارو توبه قبوله کړی او په ورځ کې خپل لاس اوږدوی، چې د شپې د ګناهګارو توبه قبوله کړي، ترهغه مهاله به دا کارکوي چې لمرله لوېديځ لوري راوخيژي )). يعنې تر قيامته پورې . په بل قدسي حديث کې ويل شوي : (( ای بنده ګانو بېشکه تاسو شپه او ورځ ګناهونه کوئ او زه ټول ګناهونه بخښم، نو تاسو له ما څخه د بخښنې غوښتنه وکړئ، زه به تاسو ته بخښنه وکړم )).

په صحيح حديث کې رسول الله (ﷺ) وايي : (( زما دې پرهغه ذات قسم وي، چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، که تاسو ګناه ونه کړئ، نو الله به تاسو له منځه يوسي او هرومرو به بل داسې قوم پيداکړی، چې هغوی به ګناهونه کوي، بيا به له الله څخه بخښنه غواړي، نوالله به ورته بخښنه کوي )).

په بل صحيح حديث کې رسول الله (ﷺ) وايي : (( زما دې په هغه ذات قسم وي، چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، که تاسو ګناه ونه کړئ، نو زه به پر تاسو له ګناه څخه په سخت شي ووېرېږم، چې هغه کبردی )). بل صحيح حديث کې رسول الله (ﷺ) وايي : ((هربني ادم تېروځي او ښه تېروتونکی هغه دی، چې توبه وباسي )).

په صحيح سند سره له رسول الله (ﷺ) څخه روايت دی : (( بېشکه په تاسو کې الله د خپل بنده په توبه باندې له هغه چا څخه هم ډېرخوښيږي، چې هغه د خپلې سورلۍ په څاروي سپور وي اود خوراک اوڅښاك سامان يې هم پردغه څاروي باندې بارکړي وي، بيا ورڅخه دغه څاروی په دښته کې ورك شي، له پيدا کېدو څخه يې نور نا هيلی شي، دغه سړی په فکر کې ناست وي، ناڅاپه وګوري چې د سورلۍ څاروی يې سرته ولاړ وي، د غاړې له پړي څخه يې ونيسي او له ډېرې خوښۍ نه داسې ووايي، ای الله ته زما بنده او زه ستا رب يم )).

په صحيح حديث کې له رسول الله (ﷺ) څخه روايت دی (( بېشکه که يو بنده ګناه وکړه او بيايې وويل، ای الله ماته زما ګناه وبخښه، ځکه چې پرته له تا نورڅوک ګناه نه بخښي، بيا ورڅخه ګناه وشوه او ويې وويل، ای الله ماته زما ګناه راوبخښه، ځکه چې پرته له تا بل څوک ګناه نه شي بخښلی، بيا ورڅخه بله ګناه وشوه او ويې وويل، ای الله ماته زما ګناه راوبخښې، بېشکه چې له ستا څخه پرته بل څوک ګناه نه شي بخښلی، نو الله تعالٰی وايي، زما بنده په دې پوه شوی چې بېشکه داسې يو رب لري چې په ګناه کولوخلک نيسي او بخښي يې، نو زما د بنده چې څه خوښه وي هغه دې وکړي)).

نچوړدا، چې ترڅوپورې بنده توبه وباسي، بخښنه غواړي او پښېمانيږي، نو الله (ﷻ) ورته بخښنه کوي .

***

## هرڅه په الٰهي پرېکړې اوبرخې پورې تړاو لري

دا د اسلام د لارويانواو د محمد (ﷺ) د اُمتيانو عقيده ده، چې په دنيا کې هېڅ شی د الله له علم او امر پرته نه پېښيږي . الله تعالٰی وايي : ﴿ په ځمکه کې يا ستاسو ځانونوته هېڅ داسې غميزه نه پېښيږي، مګرهغه چې مخکې له پېدايښت

نه په لوح محفوظ کې ليکل شوي وي، او دا کار الله ته اسان دی ﴾. الحديد ۲۲:۵۷

الٰهی وينادە : ﴿ بېشکه موږ هرشی په ټاکلي اندازه پيداکړی دی ﴾. القمر ۴۹:۵۴

بل ايت کې وايي : ﴿ موږ به هرومرو تاسو په وېره، لوږې، د مالونو، ځانونو او مېوو په کموالي وازمايو او زغم کوونکو ته زيری ورکړه ﴾. البقره ۱۵۵:۲

رسول الله (ﷺ) وايي : (( د مؤمن شان ته حيرانتيا ده، بېشکه چې په هرکارکې يې خير دی او دغه ځانګړتيا پرته له مؤمن څخه بل چا ته نه ده ورکړل شوی، که خوښي ورپه برخه شوه، نوشکر وباسي، چې دا هم ورته خير دی او که ستونزه ورته پېښه شوه او صبريې وکړ، نو دا هم ورته خير دی )).

بل صحيح حديث دی : (( کله چې څه غوښتنه لری او يا مرسته غواړی، نو له الله څخه يې غواړه، په دې پوه شه که ټول خلك راټول شي او وغواړي تاته څه ګټه در ورسوي، نو دوی به تاته ګټه ونه رسوي مګرپه هاغه اندازه چې تاته الله (ﷻ) ټاکلی وي، اوکه ټول خلک راغونډ شي، چې تاته څه زيان ورسوي، نوتاته به هېڅ زيان ونه رسوي مګرپه هاغه اندازه چې الله پرتا مقرره کړي وي، د تقدير- برخليک - قلمونه نورليکل نه کوي اوصحيفې - وېش پاڼې- يې تړل شوي دي )). په صحيح حدېث کې رسول الله (ﷺ) وايي : (( ته په دې پوه شه هرهغه څه چې تاته در ورسېدل داسې نه وو، چې له تا څخه به بچ شوي وای اوهغه څه چې درڅخه بچ شول داسې نه وو چې تاته به در رسېدلي نه وای )).

صحيح روايت دی چې رسول الله (ﷺ) ابوهريره (رضي الله عنه) ته وويل : قلم په هغه څه باندې وچ شوی، چې ته ورسره مخامخېدونکی يې )). په بل صحيح حدېث کې رسول الله (ﷺ) وايي : (( الله  پاک د بنده په حق کې هېڅ داسې يوه پرېکړه نه کوي مګرپه هغه کار کې چې د بنده خېر وي )).

له شيخ الاسلام ابن تيميه (رحمه الله) څخه د ګناه په اړه پوښتنه وشوه، چې ايا دا هم د بنده په ګټه ده ؟ هغه وويل : هو! خو د پښېمانتياپه څرګندولو، د توبې په ويستلو او له الله تعالٰی څخه د بخښنې په غوښتلواو ورماتېدو په شرط .
﴿ شايد تاسو يو شی بد ګڼئ، خو هغه به تاسو له پاره غوره وي ﴾ البقره ۲۱۶:۲

شاعر وايي : دا الٰـهي پرېکړې دې، يا مې ملامت کړه يا مې پرېږده،
ځکه چې د ستنې د ټومبلوپه څېر شيانو باندې هم الٰـهي فيصلې سرته رسېدلی دي
***.

## خلاصون ته سترګې په لار اوسه

امام ترمذي (رحمه الله) دا حديث روايت کړی (( خلاصون ته انتظار کول غوره عبادت دی )). لکه الله (ﷻ) چې د لوط (عليه السلام) د پېښې په اړه وايي : ﴿ ايا ګهيځ نژدې نه دې ﴾. هود ۱۱:۸۱

دغمجنواو پرېشانوخلکوسهار راختونکی دی، نوسباوون ته سترګې په لاراوسه او له هغه ذات څخه چې ستونزې له منځه وړي د بريالیتوب په هيله اوسه عربان وايي : کله چې رسۍ ډېره کش شي نوهغه شکېږي . نچوړ دا چې کله کارونه ستونزمن شول، ته بيا له ستونزو څخه د وتلو په هيله اوسه . الله (ﷻ) وايي:﴿ هرڅوك چې له الله څخه وېرېږي، الله به ورته له ستونزو څخه د وتلو لار پيداکړي ﴾. الطلاق ۶۵:۲ ﴿ هرڅوك چې له الله نه وېره لري ګناهونه به يې ورژوي اولوی اجر به ورکړي﴾. الطّلاق ۶۵:۵ ﴿هرڅوك چې له الله څخه وېرېږي، الله به يې کار اسانه کړي ﴾ .الطّلاق ۶۵:۴

عربان وايي: په پيل کې ستونزې وي بيا له منځه ځي او بيا نه راګرځي.

شاعر وايي : ډېرځله له ناهيلۍ وروسته خلاصون او له خفګان وروسته خوښي رارسېدلې ده، نوڅوك چې د عرش پرڅښتن باندې ښه ګومان لري، له اغزنې ونې څخه بـه خوږې مېوې ټولې کړي .

قدسي حديث دی : (( زه د خپل بنده له ګومان سره يم، چې پرما يې کوي، نوڅه ډول يې چې خوښه وي پرما دې هماغسې ګومان وکړي )).

الله تعالٰی وايي : ﴿ تر دې پورې چې پيغمبران ناهيلي ته سترګې په لار وو، او پر دې خبره يقيني شو، چې خپل قوم ورته د دروغجنوپه سترګه وکتل، سمدلاسه ورته زموږه مرسته ورسېده، نوچا ته چې زموږ خوښه وه هغه خلاص شول ﴾. يوسف ۱۲:۱۱۱ الله (ﷻ) وايي : ﴿ بېشکه له سختۍ سره اساني شته او دا خبره پخه ده، چې له سختۍ سره اساني شته ﴾.الشّرح ۹۴:۵-۶

ځينې مفسرين وايي او ځينې نورخو يې حدېث بولي : (( هېڅکله به يوه سختي پر دوه اسانيو باندې برلاسه نه شي )).

﴿ ښايي چې الله وروسته له دې څخه بل کار راپېښ کړي ﴾. الطّلاق ۶۵:۱

﴿خبر شئ، بېشکه چې د الله مرسته ډېره نژدې ده ﴾. البقره ۲:۲۱۴

﴿ بېشکه چې نېکانو ته د الله پاك رحمت ډېر نژدې دی ﴾. الاعراف۷: ۵۶

نبوي وينا ده : (( په دې پوه شه، چې بېشکه د الله مرسته له صبرسره وي اوبېشکه له ستونزې سره اساني يوځای وي )).

شاعر وايي : او له ابن عنبس څخه وروسته ما خپل نفس بندي کړ، په داسې حال کې مې اوښکې بهېدې په دې خاطر چې دوست مې خوښ او کينه کښ خفه شي، او ډېر ځله د شر له پېښېدو وروسته اساني راځي .

شاعر وايې : کله چې کوم کارستونزمن شو، نو بيا خلاصون ته سترګې غړوه ! ځکه نـژدې کار هغه دی، چې خلاصون ته نـژدې وي .  يو شاعر وايې : په داسې چارو کې چې هغه به پـېښې شي او يا نه، ځينې سترګې بې خوبه اوځينې نورې ويدې شوې، نو ته چې څومره کولای شې اندېښنه پرېږده، ځکه اندېـښنې کول ستا د لېونتوب نښه ده، پرون چې کـوم رب تا ته کافي شوهماغه رب به درته سبا هم کافي شي .

يوبل شاعر وايې : برخليکونه پرېږده، چې پرخپل تاکلي وخت سرته ورسېږي او چې کله ويده کېږې، نو په سړو مغزو ويده شه، ځکه چې د سترګو په رپ کې الله تعالی له يوحالت څخه بل حالت منځته راولي .

***

## لنډه دمه

مه خفه کېږه ! له خفګان، پرېشانۍ او ناهيلۍ سره سره په خزانو کې ستا مالونه، هسکې ماڼۍ او شنه باغونه، ستا د پرېشانۍ، اندېښنې اوغم د لا ډېرېدلو لامل ګرځي .

مه خفه کېږه! بېشکه د طبيبانو- روغتياپالو- نسخه اود درمل جوړوونکو دارو، هغه مهال چې ستا زړه د خفګان کور وي تاته نېکمرغي نه شي دربخښلای سترګې ورته غړوې، نور اندامونه دې هم ورته چمتو کړي اود بدن پوستکی دې ورڅخه رانغاړلی وي .

مه خفه کېږه ! په داسې حال کې چې ته له الله تعالی څخه د دعاء

شتمني، د هغه په درکې د پرېوتو ښه توان لرې، د پادشاهانو د پادشاه په دروازو کې ښه خواري څرګندولای شې او د شپې درېیمه برخه هم ستا ده چې د سجدې له پاره د تندي لګولو ښه شېبه وخت هم لرې .

مه خفه کېږه ! الله تعالیٰ دا ځمکه او څه چې په ځمکه کې دي ستا له پاره پیدا کړي، ښکلي باغچې او بڼونه يې داسې درته شنه کړي، چې هرډول مېوې په کې شته او جګې جګې د خرما ونې، چې غونچې غونچې یوله بل سره لګیږي، ځلېدونکي ستوري، د اوبو لویې او وړې ویالې، خوبیاهم ته خفه کیږې !

مه خفه کېږه ! ته خو یخې او خوږې اوبه څښې، په تازه هوا کې ساه اخلې، په دوه پښو روغ ګرځې او د شپې ډاډه ویده کیږې .

***

## له الله (ﷻ) نه ډېره بخښنه غواړه

په قرآنکریم کې د نوح (علیه السلام) وینا داسې رانقل شوې ده : ﴿ خپل قوم ته مې وویل، له خپل رب څخه بخښنه وغواړئ، بېشکه هغه ډېرښه بخښونکی دی اسمان به درباندې پرلپسې وورويي، په مال او ځامنو کې به درسره مرسته وکړي، او تاسو ته به بڼونه او ویالې در په برخه کړي ﴾. نوح۷۱: ۹-۱۲

﴿ له خپل رب نه بخښنه وغواړئ، بیا هماغه رب ته توبه وباسئ، هغه به هم تاسو ته ترټاکلې نېټې پورې ښه ژوند درپه برخه کړي اود نېك عمل خاوند ته به خپله ښه بدله ورکړي﴾. هود ۱۱:۳

نبوي وینا ده (( چا چې له الله څخه ډېره بخښنه غوښتله، نو الله به يې له هرې اندېښنې څخه خلاص او هره ستونزه به ورته اسانه کړي )).
ته په دې اړه سیدالاستغفار ولوله، هغه چې بخاري شریف روایت کړی دی (( یا الله ته زمارب یې، له تا پرته بل څوک دعبادت وړنشته، زه دې پیدا کړی یم، حال دا چې زه ستا بنده یم، ترڅوچې مې توان وي ستاپه ژمنه باندې ټینګ یم، تاته له هغه شره پناه دروړم چې ما کړی دی، پرهغه پېرزوینه اقرارکوم چې پرما دې کړې ده، ستا په وړاندې پرخپله ګناه باندې اقرارکوم، نوبخښنه راته وکړه، بېشکه چې له تا پرته بل هېڅوك ګناهونه نه بخښي )).

***

## الله (ﷻ) تل یـــادوه

**قرآني ایتونـه :**

**﴿ خبرشئ، چې زړونـه د الله په ذکرسره قرارېږي ﴾. الرّعد۱۳: ۲۸**

**﴿ تاسو مآ یاد کړئ، زه بـه تاسو یادکړم ﴾. البقره۲:۱۵۲**

**﴿ هغه سړي اوښځې چې الله ډېریادوی ﴾. الاحزاب ۳۳:۳۵**

**﴿ ای مؤمنانو! الله ډېریا دکړئ، سهاراوما ښام یې پاکي بیان کړئ﴾.**

**الاحزاب ۳۳:۴۱-۴۲**

**﴿ ای مؤمنانو مال اواولاد دې تاسود الله له ذکرڅخه بې پامه نه کړي﴾.**

**المنافقون ۶۳:۹**

**﴿اوکله چې کوم شی درڅخه هېرشي، نوخپل رب یادکړه﴾.الکهف۱۸:۲۴**

**﴿ د خپل پالوونکي ذات پرېکړې ته سترګې غړوه، بېشکه چې ته زموږ تر څارلاندې یې، او کله چې ودرېږې ـ لمانځه ته ـ نود خپل پالوونکي ذات پاکي او ثنا وایه او د شپې او ګهیځ مهال د هغه پـاکي بیانوه ﴾. الطور۵۲:۴۸**

**﴿ای مؤمنانو! کله چې د دښمن له کومې ډلې سره مخامخ شوئ، نو پېښې ټینګې کړئ اوالله ډېریادوئ، ښایي برى مو په برخه شي ﴾. الانفال۸:۴۵**

**نبوي ویناوی :((هغه څوک چې خپل رب یادوي اوڅوک یې چې نه یادوی، د مړي او ژوندي مثال لري (یادوونکی ژوندی او نه یادوونکی مړدی).**

**(( "مُفرّدون" په رتبه کې مخکې شول، اصحابو وپوښتل، ای د الله رسوله "مفرّدون" څوك دي ؟ رسول الله (ﷺ) ورته وویل، هغه سړي او ښځې چې الله تعالـٰی ډېریادوی )).**

**(( ایا تاسوته په خپلو عملونوکې د یوداسې غوره کار په اړه، چې ستاسو رب ته سپېڅلی، د سرو او سپینو زرو له خیرات څخه ښه او د جنګ په ډګر کې له خپل دښمن سره د مخامخېدوپرمهال، چې تاسو د هغوی ککرۍ**

اوهغوی ستاسو، ککری وهي خبردرکړم ؟ اصحابو وویل، هو، ای د الله پیغمبره ! پیغمبر(ﷺ) ورته وویل : هغه غوره کار د الله تعالیٰ ذکر دی )).

په بل حدیث کې یادونه شوې چې یو کس رسول الله (ﷺ) ته ورغی ورته یې وویل : ای د الله تعالیٰ پیغمبره ! بېشکه پرما باندې د اسلام حکمونه ډېرشوي او عمرمې هم ډېرشوی، که یو داسې کار راته وښایې، چې زه یې ترسره کړم؟ پیغمبر(ﷺ) ورته وویل:خپله ژبه تل د الله تعالیٰ په ذکر- یاد- باندې لمده ساته )).

***

## د الله له رحمته مه نا امیده کېږه

قرآني ایتونه : ﴿ بېشکه له کافرانو پرته د الله له رحمت څخه نورڅوک نا امیده کېږي نه﴾. الحجر١٥:٥٦

﴿ تردې پورې چې پیغمبران به - د خپل قوم له منښت - څخه ناهیلي شول اویقین یې پوخ شو، چې د قوم له اړخه دروغجن وګڼل شول، نو په همدغه مهال کې ورته زموږ مرسته وررسېده ﴾. یوسف١١٠:١٢

﴿ یونس موله غمه خلاص کړ، دارنګه مؤمنان خلاصوو﴾ .الانبیآء٢١:٨٧

﴿د الله په اړه تاسو راز راز ګومانونه وکړل، هماغه و، چې د ایمان خاوندان ښه وازمایل شول اوکلک ټکانونه ورکړل شول﴾. الاحزاب ٣٣:١٠-١١

***

## هغه څوک وبخښه چې له تا سره یې بد کړي

د قصاص ستونزمن قیمت هغه دی، چې یوغچ اخیستونکی یې له خلکو څخه د زړه د تاو له امله سرته رسوي . کله چې وغواړي خپل زړه یخ کړي، نو هغه کس دغه قیمت د خپل زړه، غوښې، وینې، رګونو، هوسایني، نېکمرغی او د خوښی په قیمت اداءکوي، بېشکه چې دا کس زیانمن دی، الله تعالیٰ خوموږ ته د دې درملنه راښوولې او وایي چې ﴿ پرهېزګاران قهر زغمي او خلکوته بدي بخښي﴾. آل عمران ٣: ١٣٤

الله (ﷻ) وایي : ﴿ای پیغمبره د بخښنې لار غوره کړه ،په ښېګڼه امر کوه

اوله ناپوهانو څخه مخ واړوه ﴾. الاعراف ۸:۱۹۹

﴿په ډېروښوسره د بدۍ مخه ونیسه بیا به وګورې، هغه څوك چې له تا سره یې دښمني لرله ښه ملګری به دې شي ﴾. فصّلت ۴۱:۳۴

***

## ته نور ډېرنعمتونه هم لرې

د الله تعالیٰ ارزښتناکو پېرزوینو او پرېمانه لورینو ته لږ ځیرشه ! تاته په کاردي، چې په دغه پېرزوینو سره د الله (ﷻ) شکرپرځای کړې، ځکه چې ته په نعمتونوکې پټ یې . ﴿ که تاسو د الله تعالیٰ یونعمت کې ځیر شئ، هېڅکله به یې ونه شمېرئ ﴾. ابراهیم ۱۴:۳۴

﴿ پرتاسو یې خپلې ټولې ښکاره اوپټې پېرزوینې بشپړې کړې ﴾. لقمان ۳۱:۲۰

﴿ کومه پېرزوینه چې پرتاسو شوې ده هغه د الله له اړخه ده ﴾. النحل۱۶:۲۶۷

﴿ ایا موږانسان ته دوه سترګې، ژبه اودوه شونډې نه دي ورکړي، د خیراو شرلاره مو ورته نه ده ښودلې ﴾. البلد ۹۰:۷-۱۰

پرله پسې نعمتونه : د ژوند او روغتیا نعمت، د اورېدو او لیدو نعمت، د دواړو لاسونو او پښو نعمت، د هوا او د اوبو نعمت، د خوراك او څښاك نعمت، او تردغو ټولو لوړ او ستر د الٰهي لارښوونې اسلام نعمت . ویل شوي : ایا ته د خپلو دوه سترګو په بدل کې میلیون ډالرغواړې ؟ ایا ته د خپلو دوه غوږونو په بدل کې میلیون ډالر غواړې ؟ ایا ته د خپلو دوه پښو او دوه لاسونو په بدل کې میلیون ډالر غواړې ؟ او ایا د خپل زړه په بدل کې میلیون ډالرغواړې ؟ څومره بېشمېره مالونه لرې خو تا یې شکرپرځای نه کړ !!!

***

## دنیا په خفګان نه ارزي

د نېکمرغۍ د غوږېدو او د ریښنو د کلکېدو لارې یې دا دي، چې بې ارزښته کارونو ته پاملرنه ونه کړې، ځکه د لوړهوډ څښتن هغه دی چې د هغه ټوله اندېښنه آخرت ته وي . له پخوانیودینپوهانوڅخه یوتن خپل ورور ته

نصيحت کوي او وايي، خپله ټوله اندېښنه يوه اندېښنه وګرځوه او هغه الله تعالىٰ ته د ورتګ فکر، د اخرت فکر او د الله تعالىٰ په مخکې د ودرېدوفکردی . ﴿ تاسو به الله ته وړاندې کړای شئ اوهېڅ شی به مو پټ نه وي ﴾.الحآقه ۱۸:۶۹

نورې هېڅ اندېښني نشته اوکه وي نو هغه به د آخرت له اندېښنې څخه ډېره کوچنۍ وي، د دې دنيا به څه اندېښنه وي ؟ چوکۍ او دنده، سره او سپين زر اولاد او مالونه، څرنګوالی او پېژندګلوي يې، کورونه او مانۍ يې، دا ټول هېڅ څه نه دي . الله تعالىٰ دوه مخي دښمنان داسې يادوی : ﴿ له دوی سره يواځې د خپلو ځانونوغم و، او په الله يې ناروا د جاهليت ګومانونه کول ﴾. آل عمران۳:۱۵۴

نو د دوی ټول غم او اندېښنه خېټه، شهوت اوخپل ځانونه دي، له دوی سره لوړې اندېښني نشته . (( کله چې رسول الله (ﷺ) د ونې لاندې له اصحابو سره د " الرضوان " بيعت سرته رساوه، نو له ډلې څخه يو دوه مخي د خپل سوراوښ پلټنې له پاره ولاړاو ويل يې، چې ماته خپل سوراوښ ستاسو له دې بيعت څخه ډېرغوره دی، نو رسول الله (ﷺ) ته په دې اړه وحې وشوه، چې تاسو ټولوته بخښنه وشوه، خو د سور اوښ څښتن له بخښنې څخه بې برخې شو )).

بل دوه مخی چې د خپل ځان په فکر کې و او خپلو ملګرو ته يې وويل، تاسو په دې ګرمۍ کې غزا ته مه ځئ، نو الله تعالىٰ وويل : ﴿ ای پيغمبره ورته ووايه، چې د جهنم اور ډېر ګرم دی ﴾. التوبه ۸۱:۹

بل دوه مخي وويل : ﴿ ای پېغمبره ماته د پاتې کېدو اجازه راکړه او ما په فتنه کې مه اخته کوه، د هغه ټول غم يواځې خپل ځان و، نو الله (ﷻ) وويل، خبر اوسئ، چې دوی خپله په فتنه کې لوېدلي دي ﴾. التوبه ۴۹:۹

ځينې نورد مالونو اوکورنيو په فکرکې وو، او ويل به يې ﴿ موږخپلو مالونو او کورنيو بوخت کړي وو، نوموږ ته بخښنه وغواړه ﴾. الفتح ۱۱:۴۸

بېشکه دا بې ارزښته او بېکاره اندېښنې له ټيټو او پستو خلکو سره وې، خو د لوړ پوړو اصحابو غوښتنه يواځې د الله تعالىٰ خوښي او مهرباني وه .

***

## مه خفه کېږه او اندېښنه وشړه

د مؤمن هوساینه غفلت، قاتل يې وزګارتيا، او بېکاري يې تباه کوونکي لاملونه دي، او په خلکو کې هغه کسان چې په ډېرو اندېښنو، غمونو او پرېشانيو کې اخته دي، هغوی وزګاره او بېکاره خلك دي . دروغ، بې ارزښته او چټي اوازې خپرول له کلک ګټور کار څخه د مفلسو کسانو پانګه ده او بس، نو ته پاڅېږه او کار وکړه، نبغ شه او څه ولوله، تلاوت وکړه، د الله تعالیٰ پاکي وايه، ليکل او د دوستانو ديدن وکړه، له خپل وخت څخه ګټه واخله او يوه شېبه هم ځان مه وزګاروه . کومه ورځ چې ته وزګارېږې هرومرو به په دغه ورځ تاته اندېښنه، غم، بېځايه تشويشونه او وسوسې دررسيږي، او ته به د شيطان د لوبغاړو ميدان وګرځې .

***

## که چا دې ښېګڼه ونه منله، مه خفه کېږه ځکه چې ته خو يې اجرله الله څخه غواړې

د الله تعالیٰ د خوښۍ له پاره خپل کارځانګړی کړه، د چا منني ته سترګې مه غړوه، اندېښنه اوغم مه کوه، که کله دې له چا سره نېکي وکړه اوبيا درته څرګنده شوه، چې دا يو بې ارزښته انسان و او ستا د نېکۍ د سپين لاس مننه هم نه کوي، نو ته خپله بدله له الله تعالیٰ څخه غواړه . الله (ﷻ) خپل دوستان داسې ستايي ﴿ دوی له خپل رب څخه د لورېينې اوخوښۍ غوښتنه کوي ﴾. المآئده ۲:۵

الله پاک د خپلو پيغمبرانوحال بيانوي : ﴿ زه د دعوت په بدل کې له تاسو څخه څه نه غواړم ﴾. الشعراء ۲۶:۲۳

الله (ﷻ) وايي : ﴿ ووايه ـ ای پيغمبره ـ چې زه له تاسوڅخه کوم بدل غواړم هغه ستاسوګټه ده ﴾. سبأ ۳۴:۴۷

﴿اوهغه ـ ابوبکرصديق ـ په مال کې په دې خاطرخيرات نه کولو، چې د چا د بدلې پورپرځای کړي، هدف يې د الله رضا وه﴾.الليل۹۲:۱۹ـ۲۰ الله (جل جلاله) وايي : ﴿ وايي به چې موږ يې يواځې د الله په نوم درکوو، له تاسوڅخه کومه بدله او مننه نه غواړو ﴾. الانسان۷۶ :۹

شاعر وايي : څوك چې نېکي او د خير کار کوي، اجرونه يې نه ورکيږي

هغه نېکي چې د الله تعالیٰ او خلکو په منځ کې وي بېځایه نه ځي، نو ته یواځې او یواځې له واحد رب سره راکړه ورکړه کوه، ځکه یواځې همدا ذات دی، چې د نېکۍ بدله ورکوي، ځانګړې ورکړه کوي، د بدۍ سزا ورکوي، له انسان سره حساب کوي، خوشحالیږي او په غصه کیږي، پاکي او لوړوالی همدغه ذات لره ښایي .

څو تنه په قندهارکې شهیدان شول، نو عمر(رضي الله عنه) له ا صحابو څخه پوښتنه وکړه، چې دا شهیدان څوك دي ؟ هغوی ورته یوڅو نومونه واخیستل بیا یې ورته وویل، په دې ډله کې ځیني نورکسان شته چې ته یې نه پېژنې، نود عمر(رضي الله عنه) سترګې په اوښکو لمدې شوې او ویې ویل : الله تعالیٰ خو یې پېژني .

یوه نېک سړي، یوه وړوند ته مالیده چې غوره خوراك دی ورکړه، نو د دغه نېک سړي مېرمنې وویل، دا خو وړوند دی، نه پوهیږي چې څه خوري ! خاوند یې ورته وویل : الله تعالیٰ خو پوهیږي . لنډه دا، کله چې ته په دې پوه شوی، هرهغه ښه کارچې ته یې کوې الله تعالیٰ پرې پوهیږي، نوبیا خو د مخلوق هېڅ پروا مه ساته.

***

## د ملامتګرو په نیوکه د پوهانو بې پروایي

قرآني ایتونه : ﴿ دوی تاسوته له - لږې- ربړونې پرته نورهېڅ زیان نه شي رسولا ی ﴾.آل عمران ۱۱۱:۳ ﴿ دهغوی په چلونو زړه مه تنګوه ﴾.النحل ۱۲۷:۱۶

﴿د هغوی له خوا د زیان رسېدو پروا مه کوه پرالله تکیه وکړه﴾ الاحزاب ۴۸:۳۳

﴿ الله پاك موسی دهغوی له خبرو څخه پاك کړ﴾. الاحزاب ۶۹:۳۳

شاعر وایي : بحر ته دا کوم زیان نه رسوي، چې یو هلك په کې یوه تیږه وروغورځوي ! رسول الله (ﷺ) وایي : (( تاسو ما ته زما د ا صحابو بد مه وایاست، ځکه زما خوښیږي، چې تاسو ته په روغه سینه درووځم )).

***

## په تنګلاسۍ مه خفه کېږه، ځکه چې روغتیا له کمښت سره وي

ځومره چې يو جسم هوسا کيږي، په هماغه کچه روح تنګيږي اوپه کمښت کې روغتيا وي. له دنيا نه بې پروايي يوه ښېرنۍ سوکالي ده، الله (ﷻ) يې هغه چاته ورپه برخه کوي، چې ځوک پرې راضي شي .

الله (ﷻ) وايي : ﴿ هو! په پای کې موږ د ځمکې اود ځمکې پرسر د ټولو شيانو وارثان يو ﴾. مريم ۱۹:۴۰

شاعر وايي : اوبه، ډوډۍ او سيورى خو ډېرغټ نعمتونه دي، ما به د خپل رب د نعمتونو ناشکري کړي وي، که زه ووايم چې زه نېستمن يم .

دنيا خو له يخو اوبو، ګرمې ډوډۍ او ګڼو سيورو پرته نور څه نه ده . بل شاعر وايي : ای د سرنديب اسمانه ! ملغلرې وروه او ای د تکرور کوهيانو د اوبو پرځای سره زر راوخوټوئ، که زه ژوندی پاتې شم ما خپله روزي نه ده ورکه کړې اوکه مړ شم، نوقبر مې نه دی ورك کړی، زما همت د پاچاهانوهمت دی اونفس مې د هغه ازاد کس نفس دی، چې ذلت ته کفر وايي . زه چې ټول عمر په خپله ليکل شوې روزۍ باندې قناعت کوم ، نوبيا به ولې د زيد او عمرديدنونه کوم .

همدوی دي، دنفس په عزت،پرخپلواصولو باندې کلک، بلنه کې ريښتوني او هدف کې ټينګ خلك !!!

***

## اتکلي پېښو ته مه خفه کېږه

په تورات کې ليکل شوي، له هغه څه چې ډېره وېره کيږي هغه نه پېښيږي، معنا دا چې ډېرهغه شيان چې خلك يې د پېښېدو په وېره کې وي، هغه بيا نه پېښيږي، ځکه په ذهنونوکې چې کومې انديښنې وي هغه له ريښتينو پېښوڅخه خورا ډېرې وي .

شاعر وايي : ما خپل زړه ته وويل، که کله درته د انديښنې کوم خبر دروررسېد، نوته خوشحاله شه، ځکه هغه شيان چې ډېر وېرول کوي ريښتني نه

وي لنډه دا چې، که کله درته څه پېښه وشوه او یا دې د کومې غمیزې په اړه څه واورېدل، نو لږ صبر او حوصله وکړه. مه خفه کېږه، ځکه چې ډېرى خبرونه او اټکلونه رېښتیا نه وي، که د برخلیک د بدلېدو څه لاره وي، نو پلټنه به یې شوى وي، خو چې هېڅ لاره نه وي بیابه څه کېږي. هغه پټ ایمان لرونکي وویل :

﴿زه خپل کارالله ته سپارم بېشکه چې الله خپل بندګان ګوري، نوالله د هغوى له چل ول څخه وساته ﴾. الغافر ۴۰:۴۴

***

## د کینه کښنواو بدوخلکو په نیوکه مه خفه کېږه

دا ځکه چې د هغوى د نیوکې او کینې له امله به ستا د زغم له پاره الله پاک تاته بدله درکوي، بله دا چې پرتا باندې د دوى نیوکه ستا اصلي ارزښت څرګندوى، ځکه چې خلك مړسپى په لغتو نه وهي، او له ټیټو خلکو سره خوځوک کینه نه کوي .

شاعر وایي : وبه ګورې چې له لویوخلکو سره خلک کینه کوي، کینه کښ به له پستوخلکوسره کینه ونه کړي .

بل شاعر وایي : کله چې دوى ونه توانېدل د ځوان د زیار درجې ته ورسیږي، نودوى ورسره کینه و کړه اوخلك یې دښمنان شول، لکه د ښایسته ښځې د بنو په څېر، چې له ډېرې کینې نه یې په اړه وایي دا خو ډېره بدرنګه ده. شاعر"زهیر" وایې : خلک ورسره ځکه کینه کوي، چې پېرزوینې ورباندې شوي، ترهغې چې الله تعالیٰ له دوى څخه خپل مال بېرته نه وي اخیستى ترهغه مهاله به ورسره کینه روانه وي .

بل شاعر وایي : دوى زما په مرګ کینه کوي دا څومره د پښېمانتیاخبره ده !! تر دې پورې چې په مرګ هم زه له کینې څخه خلاص نه شوم .

بل شاعروایي : ته د بې ارزښته خلکو له تېرې څخه سر ټکوې، حال دا چې داسې مخور به ته پیدا نه کړې، چې هغه به کینه کښ ونه لري !

نو اى د ښوخلکو لمسیه ! تل به د نورو له کینې سره مخامخیږې ! له تا سر ه به تل کینه کیږي، له ټیټو او بېوزلوخلکو سره خوځوک کینه نه کوي .

بل شاعر وايي : کله چې يو ځوان په خپل درنښت کې د اسمان په اندازه هم لوړ شي، نودښمنان يې هم د ستورو په کچه ډېرشي، دوی هغه په هره ستره ګناه تورن کړ، خوهغوی په خپلو ناوړو کړنوسره نه شي کولای د هغه ځوان پوړۍ ته ورسيږي .

موسی (عليه السلام) له خپل رب نه وغوښتل، چې د خلکو ژبې ورڅخه بندې کړي، نو الله (ﷻ) ورته په ځواب کې وويل، ای موسٰی ! دا کار ما د خپل ځان له پاره هم نه دی غوره کړی، په داسې حال کې چې ما پيدا کړي او روزي هم ورکوم، خو بيا هم ما ته کنځلی اوسپکې سپورې کوي .

قدسي حديث کې الله (ﷻ) وايي : د ادم اولاد ماته کنځل کوي، حال دا چې دا ورته نه دي په کار، هغه وخت ته کنځل کوي، حال دا چې زمانه ما پيدا کړې ده، څه ډول چې مې خوښه شي شپه او ورځ هماغسې اړوم را اړوم، د دوی نورې ستغې سپورې ماته دا دي، چې وايي : الله مېرمن او زوی لري حال دا چې زه نه مېرمن لرم او نه زوی )).

ته نه شې کولای د خلکو ژبې ستا د ابرو په اړه له دروغو څخه وتړې، خو دا کولای شې چې له هغوی سره ښېګڼه وکړې او د هغوی له خبرو او نيوکو څخه ځان وساتې .

"حاتم طايي" وايي : پرته له دې چې څه ګناه مې کړې وي، ډېرځله د کينه کښ ډېرې خبرې اورم، خو بيا هم همدغې خبرې ته وايم، تېره شه او له ما څخه لرې شه ! دا خو دوی په ماپورې تړلی، په خپله ماته يې څه بدي نشته، او نه هم پرې کله زما تندی خوله شوی دی .

شاعر وايي : زه چې کله د يو کم عقل ترخواتېرېږم، نوهغه ماته کنځل کوي، زه ترې روانيږم اوځان سره وايم، چې زه يې هدف نه وم .

بل شاعر وايي : که يوه کم عقل څه وويل، ته يې ځواب مه ورکوه، ځکه چې د هغه خبرې ته له ځواب ورکولوڅخه چوپ پاتې کېدل ډېرغوره دي .

بېشکه سپك اوټيټ خلك به تل له هوښيارانو، نامتو او درنوخلکوسره ښکاره دښمني کوي .

شاعر وايي : كه زما دغه ښېګڼې زما ګناهونه وای، نو ته راته ووایه چې زه به څرنګه خپل عذر وړاندې كړم ؟

دېرشتمن كسان په ناقراره زړه سره ژوند تېروي، كله يې چې بانكي سهمونه لوړ شي، نو د وینې فشاريې را ټيټ يعنې قرارشي، ځكه چې د سهمونو د قيمت له ټېټېدوسره د دوی فشار لوړ او پرېشاني يې دېرېږي .

الله (ﷻ) وايي : ﴿ تباه دی هرغیبت كوونكی اوپېغور وركونكی، هغه چې مال يې راټول كړی اوپه شمار يې زېرمه كړی وي، ګومان كوي چې مال به يې له مرګ څخه وژغوري، نه هېڅكله! داسې نه ده هرومرو به په ماتوونكي اوركې واچول شي ﴾ الهُمزه ۱۰۴ :۱ـ۵

يولوېديځی ليكوال وايي :هغه څه كوه چې سم وي او هرې بېځايه نيوكې ته شاه كوه .

له تجربو او ګټوڅخه يوه دا ده، چې ته هغو ټكو، خبرو او شعرته هېڅ ځواب مه وايه، چې ستا بد په كې ويل شوې وي، ځكه چې صبر دې عيبونه پټوي، په رېښتياچې زغم درنښت دی، چپوالی دښمنان په غصه كوي، بخښنه ستا له پاره اجر او شرافت دی او هغه ډله خلك چې ستا په اړه يې د بدۍ دا خبرې لوستې وې، هغوی اوس هېرې كړې دي، نيمايي نورو خلكوبېخي لوستې نه دي او له دې پرته نورخلك خو پوه نه دي، چې موضوع او لامل څه دی! نو ته هم په دې اړه ډېر ژور فكر مه كوه، ناپامه اوسه او ځواب مه وركوه ! يو پوه شخص وايي : خلك د خپلې ډوډۍ د كموالي له امله له ما او تا ناخبره دي او د هغوی د يوه كس تنده به زما اوستا مرګ ورڅخه هېركړي .

له هوسايۍ سره په يوه كوركې د وربشو يوه ډوډۍ له هغه كور څخه ډېره غوره ده، چې له بېشمېره خوندورو خوراكونو څخه ډك وي، خو د ګډوډۍ او شور يوه باغچه وي .

***

## لنډه دمه

مه خفه کیږه! ځکه چې ناروغي ختمیږي، له کړېدلي څخه غمیزه ورکیږي، گناه بخښل کیږي، پور خلاصیږي، بندي له بنده راخلاصیږي، له کوره ورک بېرته را گرځي، گناهگار به توبه گار او نېستمن به شتمن شي .

مه خفه کیږه ! ته نه گورې چې تورې وريځې څرنگه لرې کيږي، توره شپه څه ډول رڼا کيږي، سخت او تند باد څرنگه غلی کېږي، او طوفان څه ډول قراريږي ؟ نو په دې پوه شه چې ستا ستونزې هم د سوکاله ژوند، د پراخ راتلونکي خوندور وخت اوپېرزوينو په لورخوځيږي .

مه خفه کیږه ! د لمر تودوالی د یخ سیوري په لور روانیږي، د غرمې تنده په یخو اوبو له منځه ځي، سخته ولږه په گرمه ډوډی پای ته رسیږي، د بې خوبۍ ستونزه په خوارږه خوب او د ناروغی دردونه په خوندوره روغتیا له منځه ځي، نو تاته په کار دي چې لږ صبروکړې او څه شېبه سترگې په لار اوسې .

مه خفه کیږه ! د پرېکړې او برخلیک د هرومرو پېښېدو په اړه طبیبان هک پک دي، حکیمان بې وسه شوي، دینپوهانوچوپتیا غوره کړې، شاعرانو په کې معلومات غوښتی او د مخنیوي په برخه کې یې ټول چلونه او لارې ونه چلېدې . "علی بن جبله" وايي : کېدای شي خلاصون ژر راشي، خو موږ خپل ځانونه د ژر په ټکي سره غولوو، نو ته ناهیلي پرېږده، ان که له داسې اندېښنې سره مخ شې، چې هغه نفس له منځه وړي، ځکه انسان خلاصون ته هغه وخت ډېرنژدې وي چې کله هغه ناهیلی شي .

***

## هغه څه ځانته غوره کړه چې الله (ﷻ) درته غوره کړي وي

که الله (ﷻ) پاڅولی پاڅیږه، که یې کښېنولی کښېنه، که یې غریب کړې صبر وکړه، که یې شتمن کړې نو شکریې پرځای کړه، ځکه دا ټول د دې ژمنې غوښتنه ده، چې ته ووایې : (( د زړه له کومې خوښ یم چې الله مې رب، اسلام مې دین اومحمد (ﷺ) مې پیغمبردی )).

شاعر وايي : خپلو ستونزو ته لارې گودرې مه لټوه، ځکه چې د تدبير څښتنان تباه وي او که موږ ستاپه اړه څه پرېکړه کوو، نوته له موږه خوښ